# افغانستان

# د ۲۰۱۵ نیم کلن راپور

# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه



رویترز / ۲۰۱۵ ©

د بشري حقونو لپاره دملګرو ملتونوعالي کمیشنرۍ دفتر

دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

کابل ، افغانستان

اګست ۲۰۱۵

# AFGHANISTAN ADMINISTRATIVE DIVISION




Source: UNAMA GIS January 2012

# افغانستان

# د ۲۰۱۵ نیم کلن راپور

# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه

د بشري حقونو لپاره دملګرو ملتونوعالي کمیشنرۍ دفتر

دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

کابل ، افغانستان

اګست ۲۰۱۵

په لومړۍ صفحه د © د رویتر/۲۰۱۵ عکس. یو سړی د ننګرهار ولایت ، د جلال په ښار کې د ۲۰۱۵ کال د اپریل په ۱۸ نېټه د یو ځانمرګي برید وروسته یو ټپي ماشوم سره مرسته کوي ، پېښه کې ۱۵۸ ملکیانو ته تلفات (۳۲ وژل شوي او د پنځه ماشومالنو په ګډون ۱۲۶ تنه ټپي شوي) اړولي وو. عکس د ۲۰۱۵ کال د اپریل په ۱۸ مه اخستل شوی دی.

د ۲۰۱۵ کال د اپریل د ۱۸ نېټې انځور

یوناما په ملکي تلفاتو کې ۷۸ سلنه زیاتوالي مستند کړی ، چې د ۲۰۱۵ په لومړۍ نیمه یي کې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي.

**"یوازې د ملکي تلفاتو ارقام په افغانستان کې د تاوتریخوالي ویره ، د ماشومانو ، میندو ، خویندو ، زامنو او پلرونو ټوټه ټوټه جسدونه په بسیا ډول نه شي منعکس کولی. په دې راپور کې راغلې ارقام غمجنې کورنۍ او د غم ځپلو عادي افغانانو زیانونه نه شي په ډاګه کولای. دغه ټولې ناخوالې په افغانستان کې د جګړو حقیقي پایلې دي."**

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منیشي ځانګړی استازی ، نیکولاس هیسم ، کابل ، اګست ، ۲۰۱۵

**" دا په افغانستان کی د ملکي وګړو د اوږدو مصیبتونو په اړه یو بوګنونکی او زړونو ته ټکان ورکونکی راپور دی چې له وسله والی جګړې څخه په پرله پسې ډول ځوریږی او د نا امنۍ او بی باورۍ په داسی فضا کی ژوند کوي چې نه پوهیږی بانک ته ،د خیاطی کورس او یا د واده کومو مراسمو ته به د دوی ورتګ وروستی ځل وي او که نه. "**

**د نړیوالو بشري حقوقو او د بشر پالنې د نړیوال قانون څخه د سختو سرغړونو په وړاندې معافیت په افغانستان کی اوږد مهاله سابقه لري او د تاوتریخوالی دا لړۍ اور ته لمن وهي. د دې زهرجنې لړۍ د پای ته رسولو په موخه دې ته اړتیا شته چې د احتساب په اړوند چټک او مشخص ګامونه پورته شي. "**

د ملګرو ملتونو د بشری حقونو عالی کمیشنر ، زید رعدالحسین ، ژنیو ، اګست ، ۲۰۱۵

## صلاحیت /واک

په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړوند دغه د ۲۰۱۵ کال شپږ میاشتنی راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا چمتوشوی دی چې د دې کال د جنورۍ د لومړۍ څخه د جون تر ۳۰ مې نیټې پورې موده رانغاړي.

دغه راپور د یوناما د هغه صلاحیت له مخې چمتو شوی دی چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا د ۲۲۱۰ /(۲۰۱۵) پریکړه لیک په اساس ورته ورکړل شوی "څو د ملکي وګړو وضعیت وڅاري ، د دوي د ساتنې د باورِ کیدو په موخه هڅې همغږې کړي ، حساب ورکول تقویه کړي او د بنسټیزو ازادیو او بشري حقونود احکامو ، چې د افغانستان په اساسي قانون او په نړیوالو تړونونوکې ، چې افغانستان يې غړیتوب لري تسجیل شوي دي  په بشپړ ډول پلي کېدو کې مرسته وکړي  ، په ځانګړي ډول د هغو احکامو په پلي کولو کې مرسته وکړي چې د ښځو له خوا د هغوي له ټولو حقونو څخه د برخمن کیدو سره تړاو لري."

د امنیت د شورا ۲۲۱۰ (۲۰۱۵) پریکړه لیک ،په افغانستان کې د وسله والو شخړو په ترڅ کې د ملکي وګړو د وضعیت او په ځانګړې توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړوند رواني څارنې او راپوروركونې ته اهمیت وركوي .

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف يې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه: په خپلواکه او بې پلوه ډول د داسې پېښو څارنه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي ؛ په وسله والو جګړو کې د زیانمن شویو ملکي وګړو د ساتنې د تقويې په موخه ملاتړ ؛ او د داسې نوښتونو پیل چې د نړیوالو بشري حقونواود بشر پالنې د نړیوال قانون او د افغانستان د آساسي قانون اونورو قوانینو سره په سمون کې وي او په جګړه کې د ټولو ښکیلو خواوو له لوري يې رعایت وشي.

دا راپور د بشرى حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي كميشنرۍ دفتر (اوایچ سی ایچ آر) له خوا بیا کتل شوی او د هغه له تخنیکي معلوماتو څخه برخمن شوی دی.

## د مطالبو فهرست


میتودولوژي ............ i

لنډیز ............ ۱

سپارښتنې ............ ۱۳

۱. د جګړو په سیمو کې د بشري حقونو ساتنه ............ ۱٦

ښځې او وسله والې جګړې ............ ۱٦

ماشومان او وسله والې جګړې ............ ۱۹

له جګړو څخه چاودیدونکي پاتې شوني ............ ۲۱

په جګړو کې تاوتریخوالی د افغان ماشومانو راتلونکی د پولیو (ګوزڼ) له خطر سره مخامخ کوي ............ ۲۳

د جګړو له امله د ملکي کسانو بې ځایه کیدنه: داخلي بې ځایه شوي کسان ............ ۲۵

د پولې دواړو خواوو ته نښتې ............ ۲٦

۲. په جګړو کې د ښکېلو خواوو ترمنځ ځمکنۍ نښتې: ملکي وګړي د متقابلو ډزو په منځ کې ............ ۲۷

د ځمکنیو جګړو له امله ملکي تلفات: په ۲۰۱۵ کې عمده جریانات ............ ۲۷

د ځمکنیو نښتو په ترځ کې د ماشومانو او ښځو په تلفاتو کې زیاتوالی ............ ۲۹

د سیمې له مخې د ځمکنیو نښو تلفات : د ۲۰۰۹ څخه تر ۲۰۱۵ ............ ۲۹

افغان ملي امنیتی ځواکونه: له ځمکنیو نښتو څخه ملکي تلفات ............ ۳۲

دولت ضد عناصر: له ځمکنیو نښتو څخه رامنځ ته شوي ملکي تلفات ............ ۳۳

د دولت ضد عناصرو او حکومت پلوه ځواکونو ترمنځ ځمکنۍ نښتې چې تلفات یې کوم مشخص لوري ته منسوبول ناممکن و ............ ۳٤

په ګڼ میشتو سیمو کې د هاوانونو او راکټونو بریدونه ............ ۳۵

۳. دولت ضد عناصر او د ملکي کسانو ساتنه ............ ٤۰

تاکتیکونه او د پېښو ډولونه چې ملکي کسانو ته ډېر زیانونه اړوي ............ ٤۰

هغه پیښې چې د طالبانو له خوا منل شوي او ملکي تلفات یې لرل ............ ٤۲

ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي ............ ٤۲

د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو ډولونه چې ملکي تلفات رامنځته کوي ............ ٤۵

په ملکي ګڼ میشته سیمو کې د ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو د لارې پر نظامي هدفونو بریدونه ............ ٤۵

ځانمرګي او ډله ییز بریدونه ............ ٤۹

د قتل جنګي جرم: د ملکي وګړو هدفي وژنې ............ ۵۲

د ملکیانو او ملکي محلاتو په قصدي توګه تر هدف لاندې راوستل ........ ۵۵
موازي قضايي تشکيلات: اعدامونه ، د اندامونو پرې کول ، وهل او نور جرمي عملونه ........ ۵۸
د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکيانو تښتونې ........ ۵۹
د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکيانو اختطاف ........ ٦٢
طالبانو د هغو بريدونو مسوولیت پرغاړه اخيستی چې ملکيانو ته يې تاوان رسولی ........ ٦٣
بې توپيره او يا نامتناسبه بريدونه چې امنيتي ځواکونه هدف ګرځوي ........ ٦۵
په وسله واله جګړه کې د ملکيانو د ساتنې په اړوند د طالبانو بيانونه ........ ٦٦
۴. د ولت پلوه ځواکونه او د ملکيانو ساتنه ........ ٦۹
د ملکي تلفاتو د کموالي په اړه د يوې ملي پاليسې د جوړيدو په موخه سپارښتنې ........ ٦۹
افغان سيمه ييز پوليس ........ ۷۰
د افغان سيمه ييزو پوليسو نظارت او حساب ورکونه ........ ۷۲
دولت پلوه وسله والې ډلې: ملکي تلفات ، د بشری حقونو سرغړونې او معافيت ........ ۷۵
د دولت پلوه وسله والو ډلو د عملياتو په نتيجه کې چې ملکي تلفات را منځ ته شوی ........ ۷٦
د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا وژنې او د بشری حقونو نورې سرغړونې ........ ۷۷
د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د بشری حقونو د سرغړونو لپاره د حساب ورکونې نه شتون ........ ۷۸
هوايې عمليات ........ ۷۹
۵. حقوقی چوکاټ ........ ۸۳
د وسله والې شخړې د ښکيلو خواوو حقوقي مسووليتونه ........ ۸۳
۶. اصطلاح ګانې ........ ۸۸
لومړۍ ضميمه: د طالبانو له خوا ادعا شوي بريدونه: د هدف د نمونې پر اساس تجزيه ........ ۹٦
دويمه ضميمه: د طالبانو لخوا د "جنګي جرمونو" اتهام ادعاوې او د دغه اتهامونو د تصديق او منسوبولو فهرست ........ ۹۷

## میتودولوژي

یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې راپورونه تر هغه ځایه چې ممکن وي د مرګ ژوبلې په سیمه کې څیړي ، له مختلفوسرچینو سره سلا مشوره کوي او د معلوماتو بیلا بیل ډولونه راغونډوي چې د اعتبار او رښتینتوب له مخې ارزول شوي وي. یوناما د هرې پیښې په څیړنه او تحلیل کې زیاته هڅه کوي ، چې د امکان تر حده پورې له مختلفو منابعو څخه راټول شوي معلومات او نظریات کره او کنټرول کړي ، لکه د عیني شاهدانو ، قربانیانو او په مستقیم ډول د زیانمنو شویو وګړو ، د نظامي برخه والو (د افغانستان د حکومت او نړیوال نظامي ځواکونو او د دولت عناصرو په ګډون) ، د ځایي کلي/ د ولسوالۍ او ولایت چارواکو ، مذهبي او د ټولنې د مشرانو او نورو برخه والو بیانونه.

معلومات له داسې سرچینو څخه لاس ته راځي لکه په مستقیم ډول له ساحې څخه کتنې ، د پیښو له ځای څخه د لاس ته راغلیو جنسونو او شواهدو فزیکي آزموینه ، له روغتونونو او روغتیایي مرکزونو څخه کتنه ، ویډیویي او د محل څخه انځورونه ، د ملګرو ملتونو د امنیت او مصوونیت د څانګې او د دې سازمان د نورو ادارو راپورونه ، د دوهیم لاس سرچېنو بیانونه او هغه معلومات چې د نادولتي موسسو او نورو درېیم لاس سرچینوله خوا را غونډ شوي وي.

د ملکي تلفاتو د هرې ځانګړې پیښې د کره کولو لپاره یوناما لږ ترلږه درې ډوله سرچینو ته اړه ده لکه قرباني ، شاهدان ، طبي پرسونل ، ځایي چارواکي ، په جګړه کې دښکیلې له لوري تایید ، ځایي مشر یا نورې سرچینې. ترهغه ځایه چې ممکن وي ، تحقیقات د قربانیانو یا د حادثې د عیني شاهدانو په مستقیم شهادت او د پیښې د ځای په پلټنو ولاړ وي. په ځینو وختونو کې ، د پېښې ځای ته د امنیتي ستونزو له امله لاس رسی محدود وي ، او دغه ډول تحقیقات ممکن نه وي ، په داسې وختونو کې یوناما یو لړ تخنیکونه کاروي چې د امکان تر بریده د پراخه معتبرو شبکو څخه معلومات تر لاسه کړي اوداعتبار اوباور له مخې یې کره کړي.

کله چې یوناما د یوې پیښې په اړه د معلوماتو د کره والي څخه ډاډمنه نه وي د هغې پېښې په اړه راپور نه ورکوي. په ځینو قضیو کې تحقیقات ښایي مځکې له هغه چې نتیجې ته ورسیږي څوارنۍ وخت ونیسي. دا په دې معنی ده چې د ملکي تلفاتو په اړه نتیجې ښایي چې بیا نوې شي څکه چې نوي معلومات را رسیږي او په تحلیل کې ورڅخه کار اخیستل کیږي . په کوم ځای کې چې معلومات ښه څرګند نه وي تر څو چې معتبراو قناعت بخښونکي شواهد لاس ته نه وي راغلي نو نتیجه ګیري تر هغو نه کیږي څو پورې چې د قناعت وړ شواهد لاس ته راشي د پایلو پرته قضیه تړل کیږي او احصایوي راپور کې د هغې خبر نه شاملیږي.

د ځینو پیښو په راپور کې د قربانیانو ملکي هویت (موقف) په بشپړ ډول نه شي ثابیتیدلای او یا لانجمن ښکي وي ، په داسې قضیو کې یوناما د بشرپالنې د نړیوال قانون معیارونه په پام کې نیسي او داسې نه ګڼي چې د جنګ لپاره د عمر په لحاظ برابر نارینه جنګي یا ملکي کس دی . بلکه دا ډول ادعاګانې په پیښې پورې د اړوندو حقایقو پر بنیاد ارزول کیږي. که چېرې د یوه یا څو قربانیانو هویت څرګند نه وي ، د وژنې یا ژوبلې دغه ډول پیښې د ملکي وګړو د تلفاتو په عمومي شمیر کې نه شاملیږي.

په وسله والو شخړوکې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د راپور ورکولو او تحلیل د تقویې لپاره یوناما په ۲۰۰۹ کال کې یو بریښنایي ډیټابیس پرانیست. ډیټابیس داسې طرح شوی دی چې د معلوماتو سیستماتیکه ، یوشان او اغیزمنه ټولونه او تحلیل اسانه کوي ، چې د جنس ، عمر ، مرتکب ، تاکتیک ، وسله او نورو کټګوریو په لحاظ د معلوماتو ویشل او تحلیل هم په کې شامل دي.

ځنګه چې په جګړه کې ډيرې خواوې شاملې دي ، یوناما تر ممکنه بریده هڅه کوي چې د ملکي مرګ ژوبلې پېښې کره او مسؤول لوري په مشخصه توګه په ګوته کړي ، د بیلګې په توګه طالبان یا افغان ملي اردو. د عملیاتو له ډګر سره د اړوندو محدودیتونو له امله لکه د ځینو نظامي عملیاتو ګډ ماهیت ، او په ځینو پیښو کې د لومړنیو سرچینوپه دې کې پاتې راتلل چې د ګڼ شمیر نظامي فعالینو یا شورشیانوپه منځ کې توپیر وکړي یا داسې حالات چېرې چې هیڅ اړخ د یوې پیښې مسوولیت نه مني ، ممکنه نه ده چې کوم مشخص نظامی لوري ، امنیتي ځواک یا یاغي ډله د مشخصو ملکي تلفاتو لپاره مسوول وګڼل شي. یوناما د ملکي تلفاتو د هرې پیښې لپاره دولت پلوه یا دولت ضد عناصر مسوول ګڼي.

د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ځمکنیو نښتو په مهال چې کله ملکي تلفات یو لوري ته هم منسوب کیدای نه شي ، نو یوناما داسې پېښه په یوه جلا کتګوری کې چې دولت پلوه ځواکونه او دولت ضد عناصر نومیږي ثبت او دواړو ډلو ته يې منسوبوي. یوناما ادعاء نه کوي چې په دغه راپور کې احصایې بشپړې دي ؛ د کار په چاپیریال کې د محدویت په نظر کې نیولو سره کیداي شي یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلي پوره راپور نه وي ورکړی.

## لنډيز

*د سړک پر غاړې روان وم چې يو ځانمرګي د نوی کابل بانک پر مشتريانو باندې چې د ننوتلو په ليکه کې يې انتظارايست ، بريد وکړ. هغه چاودنه او ډزې ماته يادې دي او زه يې پر مځکې راګوزار کړم. زما مخ ، خيټه اوپښې ټپي خوړ شوې او وينې ترې روانې وې. کله چې ما هڅه وکړه چې په خپلو پښو ودريږم ، خو ما ونه شو کولای چې را جګ شم. په دې وخت کې زما پام پر سړک باندې د وينو ، د خلکو د بدن د ټوټو او د مړو خواته شو. دا ډيره هيبتناکه صحنه وه. زما اوه لوڼې او يو زوی دی. زه له مرګه نه ويريږم ،خو که زه مړ شم ، زما په ماشومانو به څه تيريږي؟*[1]

-- د يو ښوونځي ښوونکي چې د اپريل په ۱۸مه ، د ننګرهار ولايت د جلال آباد ښار په ځانمرګي بريد کې ټپي شوی و ،چې په دې بريد کې۱۵۸ ملکی تلفات ( د پنځو ماشومانو په شمول ۳۲ مړه او ۱۲۶ ټپيان ) را منځته شوي وو.

د ۲۰۱۵ کال په اولو شپږو مياشتو کې ، د وسله والې جګړې پايلو په افغانستان کې ملکي وګړي ډير اغيزمن کړي دي. د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د لومړۍ نيټې څخه د جون تر ۳۰مې پورې[2] ، يوناما ۴،۹۲۱ ملکي تلفات (د ۱،۵۹۲ ملکي وګړو مړينه او ۳،۳۲۹ ټپي کيدنه) ثبت کړي دي ، چې د مړو په شمير کې شپږ سلنه کمی او د ملکی وګړو په ټپي کيدلو کې څلور سلنه زياتوالی په ګوته کوي. چې دا شمير د ۲۰۱۴ کال[3] د شپږو لومړنيو مياشتو په پرتله په مجموعی توګه د ملکی تلفاتو يو سلنه زياتوالی ښيي ، او همدارنګه د همدې مودې په پرتله په تيرو کلونو کې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه شميره ده. د ۲۰۰۹ کال دجنورۍ د لومړۍ نيټې څخه د ۲۰۱۵ د جون تر ۳۰ نيټې پورې ، يوناما ۵۲،۶۵۳ ملکي تلفات (۱۹،۳۶۸ مړينې او۳۳،۲۸۵ ټپيان) ثبت کړي دي.




[1] د ۲۰۱۵ کال د اپريل په ۲۶مه ، د جلال آباد ښار ، د ننګرهار ولايت ، د جلال آباد د عامې روغتيا په روغتون کی د يو قرباني سره ، د يوناما مرکه.

[2] په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړوند د ۲۰۱۵ کال شپږ مياشتنی راپور د دې کال د لومړنيو شپږو مياشتو احصايه د ۲۰۱۴ کال د لومړيو شپږو مياشتو له احصايي سره پرتله کوي. په هرکال کې د همدغو شپږو مياشتو موده د دې لپاره کارول شوې څو کال په کال د جګړو د موسم يو کره مقايسوي تحليل تر لاسه شي.

[3] د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د لومړۍ نيټې څخه د جون تر ۳۰مې پورې ، يوناما ۴،۸۹۴ ملکي تلفات مستند کړي(۱،۶۸۶ مړي او ۳،۲۰۸ ټپيان).

د ۲۰۱۵ کال په لومړنیو شپږو میاشتو کې د وسله والې جګړې له امله د زرګونو ملکي کسانو مړینه او ټپي کېدنه ، د جګړې د ښکیلو خواوو له طرفه د ملکي کسانو د خوندیتوب دوامداره ناکامي په ګوته کوي. یوناما پردې باندې په مکرره توګه ټینګار کوي ، چې د بشرپالنې د نړیوال قانون د جګړې د ښکیلو خواوو څخه غوارې چې د ملکي خلکو د خوندیتوب لپاره کلک اواغیزمن ګامونه واخلي. د جګړې د ښکیلو خواوو تر منځ مخامخ ځمکنۍ نښتې په دوامداره توګه د زیاتوملکي تلفاتو لامل دي ، اوځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي د ملکي تلفاتو بل لامل دی ،که څه هم په مجموعي ډول یوناما ددې دواړو پېښو له امله په ملکی تلفاتو کې عمومي کمښت ثبت کړی دی.

د ۲۰۱۵ کال په لومړنیو شپږو میاشتو کې ، په مجموعی توګه د ملکي تلفاتو د لوړوالي لاملونه د د دولت ضد عناصرو له خوا پیچلي ډله ییز[٤] او ځانمرګي بریدونه اوهمدارنګه هدفی او قصدي وژنې وې. ځان وژونکي او ډله ییز بریدونه چې ډېری وخت د ګڼې ګوڼې په سیمو کی پیښیږی ، تقریبا د هغو بریدونو څخه چې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکیو توکو څخه ، چې د ملکي تلفاتو دوهیم محکښ لامل دی ، زیات شوي دی. که څه هم هدفي وژنې د ټولټال ملکي وګړو د مړینې او ټپي کیدلو څلورم لامل بلل کیږي ، د ۲۰۱۵ کال په لومړنیو شپږو میاشتوکې هدفي قتلونه د ملکي وګړو د مړینې مخکښ لامل بلل کیږی.

### د ملکی تلفاتو د مسوولیت نسبت ورکول

یوناما د ملکی تلفاتو ۷۰ فیصده د دولت ضد عناصروته[٥] او ۱۶ فیصده یې د دولت پلوو ځواکونو[٦] ته منسوب کړي دي (۱۵ فیصده افغان امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو او یو فیصد یې نړیوالو ځواکونو ته). د ټولو ملکي تلفاتو لس فیصده د دولت ضد عناصرو او د افغانستان ملی امنیتي ځواکونو د مخامخ ځمکنیو نښتوله امله منځ ته راغلي او پړه یې پرکومې ځانګړې ډلې نه ده اچول شوې . یوناما د ملکي تلفاتو څلور فیصده [٧] د جګړې له امله پاتې شوي ناچاوده توکو ته منسوب کړې ده.[٨]

---

[٤] *د یوناما په اند ، دډله ییز برید تعریف د آګاهانه او هدفی برید څخه اخیستل شوی تعریف دی چی د ځانمرګی برید ، د یوه نه زیات بریدکونکی د یو ډول برید نه زیات او د یو توکی نه زیات کارول شوي توکي . ټول ، دری ډوله عناصر باید یوځای استعمال شي تر څو یو برید ډلیز وبلل شي*

[٥] د دولت ضد عناصر ټول هغه کسان او ګروپونه دي ، چی په وسلواله جګړه کې د وسله وال مخالف په توګه د افغانستان حکومت اونړیوالو ځواکونو په مقابل کې جنګیږي. دوي هغه کسان دي چې د طالبانو په شمول همدارنګه غیر دولتي سازمان لرونکي وسله والو ګروپونو چې په وسله واله جګړه کې بوخت دي او په مختلفو نومونو لکه د حقاني شبکه ،حزب اسلامي ، د ازبکستان اسلامي غورځنګ ، جهاد اسلامي اتحاد ،لشکر طیبه ، جیش محمد ګروپونه او همدارنګه نور پیژندل شوي ګروپونولکه د داعش ګروپ او نور ملیشه ګروپونه چې د سیاسي ، عقیدوي ، اقتصادي هدفونو لکه جنایتکاره ګروپونه چې په جګره کې په مستقیمه توګه ښکیل او د جنګ استازیتوب کوي ،شامل دي.

[٦] د دولت پلوو ځواکونو لفظ هغو کسانو ته مشمول دي چی د افغانستان امنیتي وسلوال ځواکونو او نورو ګروپونو په شمول ،د شورش ضد عملیاتونوکې په مستقیمه او غیرمستقیمه توګه د افغان دولت تر کنټرول لاندې بوخت د ي. دا ګروپونه شامل خو محدود په افغان ملي پوځ ، افغان ملي پولیس ، افغان سرحدي پولیس ، د ملی امنیت ځواکونه او افغان سیمه ییز پولیس چی د افغانستان تر قانوني ساختار لاندې کار کوي ،ندي ، او دولت پلوه وسلوال سیمه ییز وسله وال او ملیشې چې د افغانستان قانون کی کوم بنسټ نلري او د رسمي او پوځي اداري لاندې عملیات نکوي ، ویل کیږي. دا تعریف همدارنګه دنړیوالو ځواکونو ، استخباراتي او امنیتي ځواکونوته هم صدق کوی. دډېرو تفصیلاتو لپاره د تفصیلاتوبرخې ته مراجعه وکړی

[٧] یوناما تر نیم سلنه لږ ملکي تلفاتو پړه د پاکستان لخوا پر افغانستان باندې د راکټی بریدونو باندی اچوي

[٨] له جګړې پاتې ناچاوده توکي چې کومې ځانګړې ډلې ته نه منسوب کیږي او یا له پخوانیو جګړو څخه پاتې شوي ناچاوده توکي.




د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه د جون تر ۳۰ مې نیټې پورې ، یوناما ۳،۴۳۶ ملکي تلفات( ۱،۲۱۳ مړي او ۲۲۲۳ ټپیان) چې د دولت ضد عناصرو په عملیاتو او بریدونو کې چې د دوي لخوا ترسره شوي دي ، ثبت کړي ، چې د ۲۰۱۴ کال[۹] د همدې مودې په پرتله درې فیصده په ملکي تلفاتو کې کمی ښيي. یوناما د دولت ضد عناصرو د ډله ییزو بریدونو په کچه کې چې د ملکي تلفاتو لامل شوي ، ۷۸ سلنه زیاتوالی او په هدفي وژنو کې ۵۷ سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی . د ۲۰۱۵ کال په لومړنیو شپږو میاشتو کې ، هدفي وژنې د ملکي تلفاتو د اصلي لامل په توګه پیژندل شوی دی. یوناما د دولت ضد عناصرو لخوا په مخامخ ځمکنیو نښتو کې په ملکي تلفاتو کې ۴۶ سلنه کمی او د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کې ۲۱ سلنه کمی ثبت کړی دی. په دغه موده کې کموالی ښایي د ټاکنو په پروسه کې د هدفي بریدونو د نشتوالي له دې امله رامنځ ته شوی وي ؛ د ۲۰۱۴ کال په همدې موده کې یوناما د دغه کال په اپریل او جون کې د ولسمشریزو د لومړۍ او دویم پړاو د ټاکنو پرمهال د ملکي تلفاتو لوړه شمیره مستنده کړې ده.

دولت پلوه ځواکونه په ځانګړې توګه افغان ملي امنیتي ځواکونه په دوامداره توګه د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو د زیاتوالی سبب شوي دي. یوناما ۷۹۶ ملکي تلفات ( ۲۳۴ مړینې ۵۶۲ ژوبلې) چې د دولت پلوه ځواکونو لخوا ترسره شوي دي ، مستند کړي چې د تیر ۲۰۱۴کال[۱۰] د همدې مودې په پرتله ۶۰ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. تر ټولو ډیر ملکي تلفات چې لامل یې دولت پلوه ځواکونه بلل شوي ، د مخامخ ځمکنیو نښتو په ترڅ کې منځ ته راغلي دي. په تیره بیا د چاودیدونکو وسلو لکه هاوانونو ، راکټونواو لاسي بمونو کارولو له امله رامنځ ته شوي دي. د ۲۰۱۵ کال په لومړنیو شپږو میاشتو کې ، دولت پلوه ځواکونو په مخامخ ځمکنیو نښتو کې د دولت ضد عناصرو په پرتله ملکي وګړو ته ډیر تلفات اړولي دي.

[۹] د ۲۰۱۴ کال په لومړنی شپږو میاشتو کې ، یوناما د ۳،۵۲۸ ملکي تلفات (۱،۲۴۲ مړي او ۲۲۸۶ ټپیان) و ټولو مخالف وسله والو ګروپونوته نسبت ورکړی و.

[۱۰] د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه تر ۲۰۱۴ کال د جون ۳۰ مې پورې ، د یوناما لخوا د ۴۹۷ ملکی تلفاتو (۲۰۶ مړي او ۲۹۱ټپیان) پړه پر دولت پلوه ځواکونو باندې اچول شوې ده.




**په بریدونو کې اوښتي ملکي تلفات چې طالبانو یې مسوولیت پر غاړه اخیستی**

د ټولټال ۳۴۳۶ ملکي تلفاتو څخه چې دولت ضد عناصروته منسوب شوی ، طالبانو د ۲۳۹ بریدونو چې د ۱۰۰۲ ملکي تلفاتو(۲۵۹ مړینې او ۷۴۳ ژوبلې) سبب شوي دي ، پړه پر غاړه اخیستې ده . په دغو تلفاتو کې هغه ملکي مړینې او ژوبلې شاملې وي ، کومې چې د طالبانو له خوا د دوي پر ویب پاڼه یا ټویټر باندې د منل شویو بریدونو له امله رامنځ ته شوې دي.[11] ۱۰۰۲ ملکي تلفات چې د طالبانو له خوا په منل شویو پیښو کې رامنځ ته شوي ، په ملکي تلفاتو کې د ۲۰۱۴ کال[12] د همدې مودې په پرتله کې ۱۰۵ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. ملکي تلفات چې طالبانو یې د برید مسوولیت پرغاړه اخیستی دی ، د ټولو ملکي تلفاتو ۲۰ فیصده جوړوي. د ۷۰ سلنې ملکي تلفاتو له جملې چې د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ، ۲۹ سلنه د ټولو ملکي تلفاتو د هغو بریدونو له امله چې طالبانو یې مسوولیت پر غاړه اخیستی ، رامنځ ته شوي دي.

تر نیمایي زیات هغه ملکي تلفات چې طالبانو یې د برید مسوولیت په غاړه اخیستی دی ، په ملکي خلکو باندې او یا پر نظامي موخو باندې چې هلته ملکي وګړي اوسیږي ، د ډله ییزو او ځانمرګیو بریدونوله امله را پیښ شوي دي. په ملکي انفرادي کسان باندې هدفي بریدونه ، د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو په ذریعه بې توپیره بریدونه ، او په افغاني امنیتي ځواکونو باندې د طالبانو له خوا د بریدونو پر مهال د ملکي کسانو ژوبلې او وژنې په هغو بریدونو کې شاملې دي چې طالبانو یې مسوولیت منلی دی.

[11] هغه ملکي تلفات چې یوناما دهغو مسولیت پر طالبانو اچولی دی ، اوطالبانو یی مسوولیت ندی منلی هغه ځانګې ته متوجه کیږی چی یوناما د دولت ضد عناصرو عنوان ورکړی دی.

[12] د طالبانو لخوا د منل شویو بریدونو له امله د ۱۰۵ فیصده ملکی تلفاتو زیاتوالی په دې مانا نده چې د مړو او ټپیانو شمیره دوه برابره شوی ده. دا شمیر د دې څرګندونه کوي چی طالبانو یې د ډیروهغو بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستی دی ، چی پکې ملکي وګړي وژل شوي یا ټپیان شوي دي.د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کی ،طالبانو د ۲۳۹ بریدونو مسولیت پرغاړه اخیستی دی چی له امله یې ملکی تلفات رامینځته شوي دي دا په داسی حال کی ده په د ۲۰۱۴ کال په همدي موده کې طالبانو په عامه توګه د ۱۳۶ بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستی و چه په کی ملکی وګړوته مرګ ژوبله اوښتی وه.

**په سیمه ییزه کچه د ملکي وګړو مرګ او ژوبله**
**جنوري - جون: ۲۰۰۹ - ۲۰۱۵**




| | مرکزي سیمه | مرکزي لوړه سیمه | ختیځ | شمال ختیځ | شمال | جنوب ختیځ | جنوب | لویدیځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 314 | 27 | 329 | 35 | 61 | 445 | 1122 | 158 |
| 2010 | 351 | 8 | 440 | 113 | 93 | 551 | 1559 | 156 |
| 2011 | 447 | 1 | 697 | 363 | 98 | 875 | 1216 | 219 |
| 2012 | 464 | 9 | 437 | 147 | 318 | 664 | 891 | 208 |
| 2013 | 612 | 25 | 671 | 187 | 331 | 598 | 1093 | 404 |
| 2014 | 697 | 38 | 856 | 311 | 563 | 615 | 1392 | 422 |
| 2015 | 684 | 42 | 951 | 545 | 368 | 763 | 1272 | 296 |

### ښځې او ماشومان

د ۲۰۱۵ کال د لومړیو شپږو میاشتو په دوران کې نښتو پر ښځو او ماشومانو هم ناوړه اغیزې درلودې . که څه هم یوناما د ټولو ملکي وګړو د مرګ ژوبلې یو سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی خو بل پلو بیا دغه اداري یواځې د ښځو د مرګ ژوبلې ۲۳ سلنه زیاتوالی (۵۵۹ ښځو تلفات: ۱۶۴ مړینې او ۳۹۵ ټپیانې) او د ماشومانو په تلفاتو کې ۱۳ سلنه زیاتوالی (۱۲۷۰ ماشومانو تلفات: ۳۲۰ مړینې او ۹۵۰ ټپیان) ثبت کړي دي.

په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړوند یوناما د ۲۰۱۴ په نیم کلن او کلني راپورونو کې د مستند شوو جریاناتو له مخې د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د عامو خلکو د تلفاتو په پرتله د ښځو او ماشومانو په تلفاتو کې په پرلپسې توګه زیاتوالی څرګندیږي. د ښځو تلفات د کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو د ټولې شمېرې ۱۱ سلنه جوړوي چې د ۲۰۱۴ کال په همدې موده کې د دغو تلفاتو شمېر ۹ سلنه پیژندل شوې وه. د ماشومانو تلفات د ټولو ملکي تلفاتو ۲۶ سلنه وه چې د ۲۰۱۴ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې ۲۳ سلنه اټکل شوې وه.

### ځمکنۍ نښتې په ۲۰۱۵ کال کې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل و

یوناما د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د لومړۍ نېټې څخه د جون د ۳۰ مې نېټې پورې د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ۱۵۷۷ ملکي وګړو مرګ-ژوبله (۳۷۹ مړه او ۱۱۹۸ ټپیان) ثبت کړې ده چې د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۱۹ سلنه کموالی په ډاګه کوي.

یوناما اندېښنه لري چې د ۲۰۱۵ کال د لومړيو شپږو مياشتو په موده کې د دولت پلوه نظامي ځواکونو او د دولت ضد وسله والو مخالفينو د مخامخ ځمکنيو نښتو په دوران کې تقريبا يو برابر ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

په همدغه موده کې کموالي ښايي د دې له امله وي چې د ټاکنو په بهیر کې بریدونه نه دي شوي ؛ د ۲۰۱۴ کال په همدې موده کې یوناما د ولسمشریزو ټاکنو په لومړي او دوهم پړاو کې چې د ۲۰۱۴ کال د اپريل او جون په مياشتو کې ترسره شوې ، د ملکي تلفاتو لوړه شمېره مستنده کړې ده.

د یوناما د موندنو پر اساس د ۲۰۱۴ کال د لومړيو شپږو مياشتو په موده کې د دولت ضد وسله والو مخالفینو له لورې د ټاکنو د کمیسیون په کاروانونو ، د رايې اچونې په مرکزونو ، د ټاکنو نوماندانو او د هغوې د ملاتړو پرخلاف ځمکنۍ حملې ترسره شوې چې له امله یې ۳۸۰ تنو ملکیانو ته مرګ ژوبله (۷۴ مړه او ۳۰۶ ټپيان) اوښتې ده ، [۱۳].

سربیره پردې کمښت ، مخامخ ځمکنۍ نښتې د ملکي مرګ ژوبلې تر ټولو مخکښ لامل و چې د روان کال د لومړيو شپږو مياشتو په اوږدو کې د ټولو ملکي وګړو ۳۲ سلنه تشکیلوي.

د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې ، د افغان ملي امنيتي ځواکونو د حکومت جوړونې په موخه او د دولت ضد وسله والو مخالفينو د حملو پر وړاندې ځمکنيو عملياتو او ځواب حملو کې د پام وړ ډیروالی راغلی دی. دغه عمليات دولت پلوه ځواکونو ته منسوب د ملکي تلفاتو ارقام د ځمکنيو نښتو په دوران کې لوړ ښايي. د ۲۰۱۵ کال د لومړيو شپږ مياشتو په دوران کې ، حکومت پلوه نظامي ځواکونو د ځمکنيو نښتو پر مهال د دولت ضد وسله والو مخالفينوپه پرتله ډېره مرګ ژوبله اړولې ده. یوناما د ملکي وګړو د تلفاتو ۵۸۰ پيښې (۱۴۳ مړيني او ۴۳۷ ټپيان) چې د ځمکنيو نښتو په ترڅ کې رامنځته شوي او دولت پلوه ځواکونو ته منسوبې وې چې د ۲۰۱۴ کال د همدې په پرتله ۸۵ سلنه زياتوالی ښيي او د ځکمنيو نښتو له امله د ټولو ملکي تلفاتو ۳۷ سلنه جوړويثبت کړي دي.

دولت پلوه نظامي ځواکونو ته منسوب د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ارقام ډيری وختونه په ګڼ ميشتو سيمو کې د هاوان ، راکټونو ، او لاسي بمونو د استعمال او لګيدو له امله رامنځ ته شوي دي. یوناما مشاهده کړې چې د دولت پلوه نظامي ځواکونو له لورې د ځمکنيو نښتو پر مهال د ټولو ملکي وګړو د مرګ-ژوبلې ۸۸ سلنه په جګړه کې د غير مستقيم وسلو د استعمال ، په ځانګړې توګه د هاوان مرميو چې د اغيز ساحه يې خورا پراخه ده ، رامنځ ته شوي دي[۱۴]. یوناما داسې پېښې مستندې کړي چې په ګڼ ميشته سيمو کې د غيرمستقيم فير وسلو استعمال په ملکي وګړو بې توپيره او ناوړه بشري اغيزې درلودې. د ملګرو ملتونو عمومي منشی په جګړه کې د ښکيلو غاړو څخه غوښتنه کړې چې په ګڼ ميشته سيمو کې د چاوديدونکو توکو او وسلو د استعمال څخه چې د اغيز ساحه يې خورا پراخه وي ، ډډه وکړي [۱۵].

[۱۳]. یوناما د ۲۰۱۴ کال د لومړیو شپږ میاشتو په اوږدو کې د ټاکنو د پروسې په بهیر کې په هر ډول پیښو کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۶۷۴ پیښې (۱۷۳ مړینه او ۵۰۱ ټپیان) ثبت کړي چې اکثریت یې یوناما د دولت ضد وسله والو مخالفینو ته منسوب کړي دي.
[۱۴]. د غیر مستقیم وسلو انداخت لکه هاوانونه ، راکټونه او لاسي بمونه چې د د لوړ کیفیت چاودیدونکي وسلو سیستم دی چې مرمۍ د هدف په لور فیر کوي پداسې حال کې چې په نښه شوی هدف په مستقیم لیکه کې ورته مخامخ نه ښکاري. هاوانونه په یومشخصه نقطه کارول کیدای نشي بلکه پر یوې پراخې سیمه اغیزه کوي. دا چې کله په یوه هستوګنیزه سیمه کې ولګیږي ، د ملکي وګړو د مرګ-ژوبلې احتمال ډیر زیات وي.
[۱۵]. د ملګرو ملتونو سرمنشي راپور "په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه"/S/ ۲۰۱۲/ ۳۷۶/

د دولت ضد وسله والو مخالفینو له لورې ، د ځمکنیو نښتو پر مهال د ملکي وګړو ۵۱۲ تلفات (۱۳۷ مړینه او۳۷۵ ټپیان) رامنځ ته شوي چې د تېر په نسبت ۴۶ سلنه کموالی په ډاګه کوي او د ځمکنیو نښتو پر مهال د رامنځ ته شوو ټولو ملکي وګړو مرګ-ژوبلې ۳۲ سلنه تشکیلوي. څرنګه مو چې مخکې یادونه وکړه ، د تلفاتو دغه کموالی په ۲۰۱۴ کال کې د ټاکنیزې پروسې د بشپړیدو وروسته رامنځ ته شوی دی.

د ځمکنیو نښتو له امله د رامنځ ته شوو ۳۰ سلنه ملکي وګړو مرګ ژوبله په ځانګړې توګه د متقابلو ډزو په دوران کې اوښتې تلفات ، یوناما د جګړې دواړو ښکیلو ډلو دولت پلوه او د دولت ضد وسله والو مخالفینو ته منسوب کړي دي .

د ځمکنیو نښتو له امله د رامنځ ته شوو ملکي تلفاتو پاتې یو سلنه یې د پولې په دواړو خواوو کې د ډزو له امله رامنځته شوي دي.

**د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي تلفاتو کمښت**

یوناما په لومړی ځل دا موندلې چې د ۲۰۱۲ کال [په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه] شپږ میاشتنې راپور را وروسته د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د استعمال له امله د ملکي وګړو مرګ ژوبله کې کموالی راغلی دی. یوناما د ۲۰۱۵ کال د جنوري د لومړۍ نېټې څخه تر د جون د ۳۰ مې نېټې پورې د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۱۱۰۸ پیښې (۳۸۵ مړینه او ۷۲۳ ټپیان) ثبت کړي [۱۶] چې دا د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په دوران کې د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په پرتله ۲۱ سلنه کموالي په ډاګه کوي [۱۷]. د دې کمښت سربیره ، د ۲۰۱۵ کال د لومړیو شپږو میاشتو په دوران کې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې دوهم لوی لامل ( د ټولو ملکي تلفاتو ۲۲ سلنه) تشکیلوي.

یوناما د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایې کې د نا قانونه د فشاري ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو[۱۸] د کارولو له امله د ملکي وګړو د مرګ-ژوبلې د زیاتوالي په اړه اندیښنه په ډاګه کوي[۱۹]. یوناما د ملکي تلفاتو ۵۰۶ پیښې (۲۵۱ مړینه او۲۵۵ ټپیان) چې د دولت ضد عناصرو له خوا د همدې توکو د کارولو له امله رامنځته شوي ثبتې کړي ، چې د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۳۸ سلنه ډېروالی په ډاګه کوي. د ۲۰۱۵ کال په لومړي نیمایي کې د فشاري ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو له امله د ټولو ملکي وګړو د تلفاتو تقریبا نیمایی (د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو له امله دټولو تلفاتو ۴۶ سلنه) برخه تشکیلوي.

---

[۱۶] یوناما په ډاګه کوي چې دغه ارقام د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي وګړو هغه مرګ-ژوبله چې د ډله ییزو او ځانمرګو بریدونو پر مهال رامنځ ته شوي ، ندی شاملې. که ټول وشمارل شي ، په ټولیز ډول ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو د کارولو له امله د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي وګړو د تلفاتو ۴۳ سلنه تشکیلوي : ۲۱۳۰ ملکي وګړو مرګ-ژوبله (۵۶۸ مړینه او ۱۵۶۲ ټپیان) چې د ۲۱۰۴ کال د همدې مودې پرتله ۸ سلنه ډېروالی په ډاګه کوي.

[۱۷] . د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه تر د جون د ۳۰ مې نیټې پورې یوناما د ملکې وګړو د مرګ ژوبلې ۱۴۰۷ پیښې (۴۷۷ مړینه او ۹۳۰ ټپیان) د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو د کارولو له امله ثبت کړي دي.

[۱۸] . افغانستان د اوتاوا کنوانسیون یا د ماینونو د بندیز د ۱۹۷۷ کال تړون چې د پرسونل ضد ماینونو پر استعمال ، ذخیره کول ، تولید او لیږد ، او د هغوې د له منځه وړلو په اړه دی ، تصویب کړی دی. یاد تړون د پرسونل ضد ماینونو استعمال او د قربانیانو اړوند چاودیدونکو توکو لکه فشاري ماینونو استعمال منع کړی دی. د تړون له مخې ماین تعریف هغه چاودیدونکو توکو ته شامل دی چې په ځمکه او همواره ساحه کې کیښودل کیږي او د یو کس او موټر د موجودیت ، نږدیوالي او تماس په وخت کې چوي.

[۱۹] . یوناما په ۲۰۱۴ کال کې د فشاري ماینونو په پایله کې د ۷۷۵ ملکي مرګ-ژوبله(۴۱۷ مړینه او ۳۵۸ ټپیان) ثبت کړې ده چې دا په ۲۰۱۳ کال کې د فشاري ماینونو له امله د مرګ-ژوبلې پرتله ۳۹ سلنه ډېروالی په ډاګه کوي.
د یوناما د ۲۰۱۴ کال د "په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه" کلني راپور ۴۸ صفحې ته دی مراجعه وشي.

یوناما موندلې چې د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي تلفاتو کمښت اړینه نه ده چې دا په ډاګه کړي چې ګوندې د دولت ضد وسله والو مخالفینو له لوري د چاودیدونکو توکو په استعمال کې کموالی راغلی دی. د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي وګړو تلفاتو کې کمښت د دولت پلوه نظامي ځواکونو د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو د کشف او خنثی کولو په ورتیا پورې هم تړاو لري چې دغه ځواکونو د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ۵۰۰۰ نه ډیر ځای پرځای شوي چاودیدونکي توکي له منځه وړي چې کیدای شوای د ډیرو ملکي تلفاتو سبب ګرځیدلي وای [۲۰].

### د ځان وژونکو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې مخ پر ډیریدونکي ملکي تلفات

د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې د ملکي وګړو د قربانیانو شمېر د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږ میاشتو په دوران کې ۲۱ سلنه ډیر شوی دی چې دا کچه بیا د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو له امله د اووښتې ملکي مرګ ژوبلې را وروسته د ملکي تلفاتو دوهم لوی لامل ګرځیدلی دی. ډله ییزې او ځان وژونکي حملې چې د دولت د وسله والو مخالفینو له لورې کارول شوي ، ۱۰۲۲ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله (۱۸۳ مړینه او ۸۳۹ ټپیان) اړولې ده چې دا اندازه بیا د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې پرتله ۷۸ سلنه ډیروالی په ډاګه کوي. طالبانو د ۴۴ مستندو شوو ډله ییزو او ځانمرګو بریدونو د پیښو څخه د ۲۷ هغو مسوولیت پر غاړه اخیستی چې دا ډول د طالبانو له لورې ادعا شوي ډله ییز او ځانمرګي بریدونه د ۵۴۲ ملکي تلفاتو (۸۷ مړینه او ۴۵۵ ټپیان) لامل ګرځیدلي ، چې په تېر کې د طالبانو لخوا ادعا شوې ډله ییز او ځانمرګي بریدونوپر تله ۱۶۷ سلنه ډیروالی ښیي [۲۱].

### هدفي وژنې د هر بل تاکتیک په پرتله د ډیرې افغان وګړو د مړینې لامل شوې

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د هدفي وژنو په پایله کې د رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبلې په کچه کې ۵۷ سلنه زیاتوالی راغلی دی چې د ۶۹۹ ملکیانو د مرګ ژوبلې (۴۴۰ مړینه او ۲۵۹ ټپیان) لامل شوی دی او دا د کال د لومړۍ نیمایي د ټولې ملکي مرګ ژوبلې ۱۴ سلنه جوړوي. که څه هم ځمکنۍ نښتو ، چاودیدونکي توکو ، ډله ییزو او ځانمرګي بریدونو په عمومي توګه د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې ډیرې ملکي مرګ ژوبله رامنځته کړې ، ولې هدفي وژنې د بل هر تاکتیک په پرتله د زیاتې مړینې لامل شوی دی چې د ۴۴۰ وګړو په مړینې سره د ټولو ۱۵۹۲ مستند شوې ملکي تلفاتو مړینې د جملې ۲۸ سلنه جوړوي. یوناما د هدفي وژنو څخه د ټولې رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبلې ۹۴ سلنه د دولت وسله والو مخالفینو ته منسوب کړې.

### د ملکي وګړو د تښتونې زیاتوالی او د برمته شویو ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په کچه کې لوړوالی

د ۲۰۱۵ کال د جنورې میاشتې د ۱ نیټې څخه د جون د میاشتې تر ۳۰ مې نیټې پورې ، یوناما ۱۹۶ د تښتونې پیښې مستندې کړې دي ، چې نږدې ټولې یې د دولت د وسله والو مخالفینو له خوا ترسره شوي دي ، چې د ۷۶ ملکي مرګ ژوبلې (۶۲ مړینه او ۱۴ ټپیان) لامل شوی دی چې د دې ډول پیښو په شمیر کې ۳۷ سلنه زیاتوالی ، او د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله د

---

[۲۰]. د ناټو ایمیل دې وکتل شي:
Email from NATO/ RS UNCLASSIFIED Re: UNAMA, Resolute Support Mission Response to UNAMA – Protection of Civilians in Armed Conflict, received 29 July 2015.

[۲۱]. د ۲۰۱۴ کال د جنورې د لومړۍ نیټې څخه تر د جون د ۳۰ نیټې پورې طالبانو د ۲۰ ځانمرګو او ډله ییزوبریدونو پړه پر غاړه اخیستې چې په نتیجه کې ۲۰۳ ملکي تلفات (۷۶ مړینه او ۱۲۷ ټپیان) ثبت شوې .

تښتونو اړونده ملکي مرګ ژوبله کې ۱۱۷ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي[۲۲]. د یوناما له خوا د ۱۹۶ملکي وګړو د تښتونو مستند شویو پېښو له ډلې ۱۹۰ پیښې د دولت وسله والو مخالفینو ترسره کړي دي چې د ۷۶ څخه د ۷۵ ملکیانو د مرګ ژوبلې لامل شوی دی. یوناما ۶ پیښې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړې دي.

یوناما د دولت وسله والو مخالفینو له خوا د ملکي وګړو تښتونې مستندې کړي دي چې د مالي ګټو ، د عامه خلکو د ویرولو او یا د بندیانو د تبادلې په ګډون د مقابل لوري څخه د امتیازاتو ترلاسه کولو په موخه ترسره شوې دي. سربېره پردې یوناما د هغو تښتول شویو کسانو په شمیر کې زیاتوالی مستند کړی دی چې د تښتونکو له خوا په دې خاطر وژل شوي دي چې ددوی غوښتنې یې نه دي منلي ، او یا په برمته شویو کسانو ولکه کلکه کړي یا یې هم هغوی د وژلو په موخه تښتولي وو.

تښتونې او د هغوی په پایله کې رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبله چې دواړه د یوناما له خوا ثبت شوې دي ، د ۲۰۰۹ کال راهیسې چې یوناما په سیستماتیک ډول دا ډول پیښې مستندې کوي ، کچه یې ترټولو لوړه ده او د ۲۰۱۵ کال د لومړۍ نیمایي د ټولې ملکي مرګ ژوبلې ۲ سلنه جوړوي.

### د هوايي عملیاتو په پایله کې د ملکي مرګ ژوبلې کچه لوړیدل

د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ میاشتې د ۱ نیټې څخه د جون میاشتې تر ۳۰ مې نیټې پورې ، یوناما ۷۷ ملکي مرګ ژوبله (۳۲ مړینه او ۴۵ ټپیان) مستند کړې ده چې د نړیوالو نظامي ځواکونو او افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د هوایي عملیاتو په پایله کې رامنځته شوې ده ، چې د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۸۸ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. دا د دې لامل شوی چې په تیرو کلونو کې په دا ډول مرګ ژوبله کې د کمښت دوامداره بهیر ټکنی کړي. د هوایي عملیاتو په پایله کې رامنځته شوې مرګ ژوبله د ټولې مرګ ژوبلې ۲ سلنه جوړوي.

د ۷۷ مُلکیانو د مرګ ژوبلې له ډلې ، یوناما ۴۹ (۲۷ مړینه او ۲۲ ټپیان) نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب کړي دي. سره له دې چې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچې راټیټولو په موخه یو لړ تدابیر ترلاس لاندې نیول شوي ، دا شمیره د هغوی په هوایي عملیاتو کې د ملکي مرګ ژوبلې په کچه کې ۲۳ سلنه زیاتوالی څرګندوي[۲۳] ، چې ډیری یې د بې پیلوټه الوتکو د بریدونو په پایله کې رامنځته شوي ، او دا د یوناما له خوا په مخکینی مستند شوي بهیر کې په شاتګ ښیي[۲٤].

د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ له ۱ نیټې نه د جون د تر ۳۰ مې نیټې پورې ، یوناما د ۲۸ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۵ مړینه او ۲۳ ټپیان) مستند کړي چې د هوایي عملیاتو ۱۰ بیلابیلو په پیښو کې د افغان هوایي ځواکونو له خوا رامنځته شوي دي. افغان هوایي ځواکونه د افغان ملي اردو برخه ده چې د ۲۰۱۵ کال په لومړیو کې د ملي امنیتي ځواکونو د ملاتړ په موخه ، په لومړي ځل یې د هوایي بریدونو او هوایي ملاتړ مسؤلیت په غاړه واخیست.

[۲۲] د ۲۰۱۴ کال د جنوري ۱ نیټې څخه د جون تر ۳۰ مې نیټې پورې ، یوناما د تښتونې ۱۴۳ پیښې ثبت کړي دي چې د ۳۵ ملکي وګړو د مرګ ژوبلې (۲۷ مړه او ۸ ټپیان) لامل شوي دي.

[۲۳] د ۲۰۱۴ کال د جنوري ۱ نیټې څخه د جون تر ۳۰ مې نیټې پورې ، یوناما د نړیوالو نظامي ځواکونو د هوایي بریدونو په پایله کې ۴۰ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۲۷ مړه او ۱۳ ټپیان) ثبت کړې ده.

[۲٤] په وسله والو نښتو کې د ملکي وګړو ساتنه ، د ۲۰۱۴ کال د یوناما شپږ میاشتنی راپور ، ۵۹-۶۰ مخونه وګورئ.

## نور هغه تاکتیکونه چې د ملکي وګړو د زیانمنیدو لامل شوي

له جګړې څخه پاتې ناچاودي توکي چې کومې ځانګړې غاړې ته نه منسوبیږي ، د ټولو ملکیانو ۴ سلنه مرګ ژوبلې لامل شوی دی. دغه ناچاوده توکي په غیر متناسبه توګه د ماشومانو لپاره زیانمنوونکي وو او قربانیان یې ۸۳ سلنه افغان ماشومان جوړوي. د ملکي مرګ ژوبلې پاتې ۳ سلنه ، د دولت وسله والو مخالفینو له خوا د موازي عدلي جوړښتونو د صحرایي وژنو ، د ځاني دفاع پیښو او د جګړې ښکیلو غاړو له خوا د نورو وژنو او ناوړه چلند په ترڅ کې رامنځته شوې ده.

## د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د بشري حقونو څخه سرغړونې

د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د ۱ نیټې نه تر جون ۳۰مې نیټې پورې ، یوناما د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ملکي مرګ ژوبلې زیاتیدونکې کچه مستند کړې. یوناما د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ۶۹ بیلابیلو پیښو په ترڅ کې د ۸۷ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۳۱ مړینه او ۵۶ ټپیان) ثبت کړې ده چې دا د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۱۱۸ سلنه زیاتوالی ښیي. د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې ، د ځمکنیو نښتو ، هدفي وژنو ، وهلو ټکولو او ناوړه چلند په پایله کې دولت پلوه وسله والې ډلې د ټولو ملکي تلفاتو ۲ سلنه تلفات تشکیلوي.

## د شخړې سره په تړاو کې بې ځایه کېدل

په افغانستان کې د داخلي بې ځآیه[۲۵] شویو کسانو اړونده کاري ډلې ، د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې نږدې ۱۰۳۰۰۰ بې ځایه شوي ملکي وګړي ثبت کړي دي چې د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۴۴ سلنه زیاتوالی ښیي. د ۲۰۱۵ کال د جولای تر ۱۶ مې نیټې پورې ، په افغانستان کې د داخلي بې ځآیه شویو وګړو شمیر ټول ټال ۹۴۵۶۰۰ تخمین شوی دی.[۲۶]




[۲۵] د داخلي بې ځایه شوي ګډه کاري ډله د ملګرو ملتونو د کډوالو د پاره عالی کمشنرۍ ( یو این ایچ سي ار ) او د افغانستان د کډوالو او راستنو شویو وزارت لخوا په ګډه مشري کیږي. دا د جګړې له امله د بې ځایه شوي خلکو د ثبتولو او مرستې لپاره اساسي میکانیزم جوړوي. تازه او وروستی شمیرې په دې راپور کې د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ څخه د مئ تر ۳۱ مې نېټه رانغاړي.
[۲۶] دا ارقام د یو این ایچ سي آر په واسطه تیارې شوي. دا مالومات د ۲۰۱۵ کال د جولای په ۲۱ نېټه د برښنالیک له لارې ترلاسه شوي دي.

## کتنې

د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایی کې ګڼ شمېر جریانونه رامنځ ته شول چې له امله یې ملکي وګړو ته مخ په ډېریدونکی زیان اوښتی دی. د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې د ملکي تلفاتو کچه د دوو مخکښو لاملونو یانې ځمکنیو نښتو اود ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو پخ پایله کې راټیټه شوې ده ، خو هدفي وژنې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل ګرځیدلی او ملکي وګړي په زیاته پیمانه د پیچلو او ځان مرګو بریدونو له امله چې د دولت ضد عناصرو له لوري تر سره شوي زیانمن شوي دي. سره له دې چې د ځمکنیو نښتو په پایله کې په عمومي ډول په ملکي تلفاتو کې کمښت راغلی ، خو د دولت پلوه ځواکونو لخوا د ځمکنو نښتو او هوایی عملیاتو په وخت ملکي مرګ ژوبله ډېره شوې. د دې سره دولت ضد عناصرو دسیالو ډلو ترمنځ نښتو او نوو ډلو راڅرګندیدلو سره په افغانستان کې ملکي وګړي د نوي ګواښ سره مخ کړي.

طالبانو او نور دولت ضد عناصرو دوامداره هڅې کړي چې سیمې د خپلې ولکې لاندې راولې او د زیات ملکي نفوس د مرکزونو په لور یې پرمختګ وکړ چې په دې کې د ولسوالیو مرکزونه او د کندوز لوی ښار شامل وو. په داسې حال کې چې د افغانستان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې خبرو کې پرمختګ تر سترګو شو ، خو دې د طالبانو په هغه هڅو چې د خپل واک سیمې پراخه کړي د یر لږ یا هم هیڅ اغیز نه دی کړی : چې طالبانو او نورو وسله والو عناصرو په دې اړه ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایی کې یو متعرض کمپاین په لاره اچولی و. یوناما د جګړې په مهال د دولت ضد وسله والو لخوا یو څه احتیاط مشاهده کړی - چې یوناما د دولت ضد وسله والو له خوا د ځمکنیو نښتو په مهال ملکي تلفاتو کې کمښت ثبت کړی- طالبانو او نورو ډلو د ډله ییزو او ځانمرګو بریدونو ترسره کولو ته ادامه ورکړې وه او د دې سره یې د ملکي وګړو هدفي وژنې ترسره کړي دي. دا انګیرله شي چې د داسې ډول فعالیتونو هدف د یوې پریکړې اونهایي فیصلې تر مخه د حکومت واک کمزوری کول و ، چې له امله یې ملکي وګړو ته زیات زیان واوښت.

که څه هم چې په ټوله کې د ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو له امله ملکي تلفات راکم شوي ، خو د دولت ضد عناصرو مخ په ډېریدونکي ډول غیر قانوني فشاري چاودیدونکو توکي دفاعي وسیلې په توګه کارولي تر څو د ځکمنیو نښتو پر مهال ، له هغه وړاندې او له هغه وروسته د افغان ملي امنیتي ځواکونوپرمختګ ټکني کړي او یا یې مخه ونیسي ، چې د ځاي پرځاي شویودې ډول چاودیدونکو توکو د استعمال له امله په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی راغلی دی.

د جنورۍ د ۱ څخه تر ۳۰ جون پورې ، افغان امنیتي ځواکونو زیات عملیات د نړیوالو امنیتي ځواکونو پرته په مستقل ډول تر سره کړي او ډیري ځل یې د افغان هوایی ځواک ملاتړ نه کار اخیستی. افغان امنیتي ځواکونو په دوامداره ډول غیر مستقیم کاریدونکې وسلې ( هاوان ، راکټ ، لاسي بمونه او توپونه ) کارولي چې ملکي وګړو ته په کې ډیر زیان اوښتی دی. د افغان امنیتي ځواکونو په ځوابي عملیاتو کې زیاته بسیا په هاوان ، راکټ ، توپخانې او جنګي خرخي الوتکو باندې وه چې زیاتره وخت د ډیرو ملکي تلفاتو لامل ګرځیدلي. یوناما دا هم په پرلپسې دول مشاهده کړې چې دولت پلوه وسله والو ډلو په ځانګړې ډول په شمال ختیځ کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ کړی دی. یوناما مشاهده کړې چې افغان امنیتي ځواکونه د دولت ضد وسله والو په نسبت د کم شمیر ملکي تلفاتو سبب شوي کله چې دوي د وړاندې څخه پلان شوي عملیات اجرا کړي ، لکه د ذوالفقار په نوم عملیات چې د هلمند د ولایت په سنګین کې تر سره شول. په مقایسوي توګه افغان امنیتي ځواکونه هغه مهال د ډیرو ملکي تلفاتو سبب ګرځیدلی چې د کندز په ولایت کې د طالبانو او دولت ضد عناصرو پرمختګ مخنیوی وکړ او د هغوي پرضد یې عملیات تر سره کړل.

د دولت ضد عناصرو د ډلوتر منځ او د دوي دننه ښکاره مخالفتونه چې د سولې د پروسې په اړه اختلاف هم په کې شامليږي د داسې ډلو د راڅرګندیدو سره مرسته وکړې چې د داعش په نوم ( چې پخپله ځان اسلامي دولت ګڼي) ترهګر سازمان سره بیعت وکړي او د دولت ضد عناصرو د ډلو تر منځ خپل منځي جګړې راپيدا کړي په تيره بیا د ننګرهار په ولایت کې. یوناما همدارنګه مشاهده کړې چې د نوو ډلو په رامنځ ته کیدلو سره چې داعش[27] ته خپل ځانونه وفادار بولي په ملکي سیمو کې یې دخلکو اندیښنې را پارولې. یوناما په ننګرهار ولایت کې د داعش د وفادارو ډلو له خوا د ملکي کسانو د سر پریکولو او نورو اعدامونو بېلګې مستندې کړي. د دولت ضد عناصرو خپل منځي سیالو ډلو ترمنځ په ځانګړې ډول د طالب جنګیالیو او هغه چې داعش ته ځان وفادار بولي تر منځ جګړو له امله ملکي تلفات رامنځ ته شوي او هم بيځايه شوي دي. یوناما اندیښنه لري چې په دغو سیمو کې ملکي وګړي د مختلفو جګړه مارو ډلو منځ کې نښتې پاتې دي او کیدای شي نور هم زیانمن شي ځکه چې دا ډلې د نورو هغو سختو تاکتیکونو کارولو کې د سیالۍ کوښښ کوي کوم چې داعش پورې تړلو ګروپونو په نورو هیوادونو کې کارولې دي.

په دې شرایطو کې یوناما په خپله غوښتنه ټینګار کوي چې په جګړه کې ټولې ښکېلې خواوې دې مشخص عملی ګامونه واخلي ، او د بشر پالنې د نړیوال قانون مطابق خپل مکلفیت سره سم دې د ملکي تلفاتو مخنیوی وکړي. د دولت ضد وسله وال دې په ځانګړې ډول د ملکي اهدافو پر ضد او ملکي نفوس سیمو کې ډله ییز او ځان مرګي بریدونه په حتمي توګه ودروي. د دولت ضد وسله وال دې په فوري ډول د ملکي وګړو هدفي وژنې بندې کړي اود نا قانونه بې توپیره فشاري چاودیدونکو توکو کارول دې سمدستي ودروي.

د افغان امنيتي ځواکونو په شمول دې ټولې ډلې ، ټول هغه ممکنه احتیاط وکړي چې په نظامي عملیاتو کې د ملکي وګړو د تلفاتو مخنیوی وکړي ، او د ملکي وګړو د میشت سیمو کې د ثقیله او غیر مستقیم فیر وسلې کارول ودروي. یوناما یو ځل بیا په ټولو ښکېلو خواو غږ کوي چې د هغو وسله والو ځواکونو او افرادو سره محاسبه یقیني کړي چې په قصدي ډول او بې توپیره ملکي وګړي وژني اویا یې ژوبلوي.

یوناما ښکېلو خواو ته لاندې سپارښتنې لري چې د هغوی د هغو هلو ځلو سره مرسته وکړي چې ملکي وګړي او ټولنې خوندي وساتي ، د ملکي تلفاتو مخنیوی وکړي ، او د بشر پالنې د نړیوال قانون او بشري حقونو د نړیوال قانون سره سم مکلفیت تر سره کړي.

[27] هغه ډلې چې د اسلامي دولت سره تړاو لري په عربي ژبه کې ورته په افغانستان کې "داعش " مخفف نوم ویل کیږي ، که څه هم د هیواد په ځینې برخو کې دغه کلمه د وفادارۍ پرته هر خارجي جنګیالي ته ویل کیږي.

## سپارښتنې

### دولت ضد عناصرو ته

د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې مکلفیت سره په سمون کې :

- په قصدي ډول د ملکي وګړو په نښه شوې وژنې او ملکي ځایونو ، د عبادت او کلتوري ځایونو په شمول او ملکي دولتي دفترونو او مرستندویه مامورینو په نښه کول ودروئ.
- بې توپیره او غیرمتناسب بریدونه ودروئ.
- په ملکي سیمو باندې او د ملکي سیمو څخه د هاوانونو ، راکټونو او لاسي بمونو توغول ودروئ.
- د ملکي و ګړو د پرلپسې تګ راتګ په ځایونو کې د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو کارول او په ځانګړې ډول د ځانمرګو بریدونو ترسره کول ودروئ او هم د فشار په ذریعه د فعالیدونکو نا قانونه ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو کارول توقف کړئ.
- د " ملکی ، ملکیانو" لپاره هغه تعریف وکاروئ چې د بشرپالنې د نړیوال قانون سره مطابقت ولري او د دې قانون د اصولو سره سم په ټولو نظامي عملیاتو کې تفکیک ، تناسب او احتیاطي تدابیر په پام کې ونیسئ.
- د طالبانو د رهبرۍ له خوا هغه صادرې شوې اعلامیې پلي کړئ کومې چې په ملکي خلکو او د ملکي اوسیدنې په ځایونو کې بریدونه منع کوي. هغه لارښودونه پلي کړئ چې د طالبانو غړیو ته یې لارښونه کړې چې د ملکیانو د تلفاتو څخه مخنیوی او ورڅخه ډډه وکړئ او هغو کسانو سره حساب وشي څوک چې ملکي خلک هدف ګرځوي ، وژني او ټپي کوي.
- د طالبانو د رهبرۍ له خوا د طالبانو د نفوذ لاندې سیمو کې د ښځو او نجونو د حقونو په اړه صادر شوې اعلامیې پلي کړئ ؛ د نجونو په ضد ، د معارف ، ښوونکو اوپه عموم ډول د پوهنې سکتور پر ضد بریدونه او ګواښونه ودروئ.
- د دې ډاډ ورکړئ چې جنګیالي ښوونځي ، روغتونونه ، کلنیکونه او نور خوندي ځایونه د نظامي اهدافو لپاره نه کاروي.
- د پولیو د واکسناتورانو او پولیو واکسین کمپاین باندې بریدونه ، ګواښونه او د دې مخنیوی ودروئ.

### د افغانستان دولت ته

- د هستوګنې په سیمو کې د هاوانونو ، راکټونو او لاسی بمونو ویشتل ودروئ.
- په ملکي تلفاتو کې د کمښت په موخه دې ملي پالیسي جوړه او تصویب شي چې د یو کړنلارې په اساس بې ملاتړ وشي چې د کوټلي اهدافو په درلودلو سره په جګړو کې د ملکي وګړو د تلفاتو مخنیوی وکړي ؛ کوښښ و کړئ چې ملکیان د جګړې د زیان څخه د واضحو تاکتیکي لارښوونو ، د نښتو د قواعدو او نورو طرزالعملونو په ځانګړې ډول د هاوانو ، راکټونو ، لاسي بمونو ، توپونو او په وسله مجهزو الوتکو په اړه د جوړولو او پلې کولو ، او د ملکي کسانو د ساتنې د تدابیرو ، د اغیزو د کمولو ، احتساب ، او قربانیانو ته د تاوان د تلافي په برخه کې د ټولو افغان ملي امنیتي ځواکونو د

روزنې تمویل او تجهیز د لارې خوندې شي.

- ټولې وسله واله ډلې او ملېشې بې وسلې او منحل کړئ ، او د هغو وسله واله ډلو د غړیو سره د حساب کولو نه ډاډ ورکړئ چې د بشري حقونو څخه سرغړونه کړې.
- د افغان امنیتي ځواکونو د لا ښه ظرفیت ودې ورکولو ته دې لومړیتوب ورکړل شي ، چې د ځای په ځای شوي چاویدونکو توکو سره د مبارزې عملیات ، له منځه وړلو او را ایستلو قومانده او کنترول په اغیزمن ډول تر سره کړای شي. ټولې لازمې سرچینې د دې لپاره ځانګړې کړئ څو د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې دملي ستراتیژۍ بشپړه پلې کېدنه یقیني شي.
- داسې پالیسي ګانې او طرزالعملونه دې رامنځ ته شي چې د جنګ په میدان کې د ځمکنیو نښتو وروسته د ناچاوده چاودیدونکو پاتې شوني په نښه او د پاکوالې په اړه یې ډاډ تر لاسه شي.
- د افغان امنیتي ځواکونو ، د دولت پلوه وسله والو ډلو او ایتلافی ځواکونو د بشري حقونو د تیري او د بشر پالنې د نړیوال قانون او بشری حقونو قانون څخه د سرغړونو ټول تورونه دې وپلټل شي. د افغانستان او نړیوال قانون په وړاندې ګرم پیژندل شوې کسان دې قانوني تعقیب او مجازات شي او د دې ډاډ ورکړئ چې د سرغړونو قربانیانو په اغیزمن ډول تلافي کیږي.
- د جګړې له امله تاوتریخوالي په نتیجه کې د وژل شویو ملکي وګړو د ښځو او کورنۍ لپاره د خسارې د جبران په اړه په شته طرزالعملونو دې بیا کتنه وشي او هغه دې اصلاح شي. او ورسره د خسارې جبران تر لاسه کولو طرزالعمل او بنسټیز خدمتونو ته لاس رسي په اړه دې عامه پوهاوی لوړ شي.
- ښوونځي ، روغتونونه او کلنیکونه د نظامي اهدافو لپاره کارول ودروئ او طبي اسانیتاوو ته په ځانګړي ډول د ناپیلي تاسیساتو په ډول د احترام ډاډ ورکړئ.
- د دې ډاډ ورکړئ چې ټولې خواوې د ملکي وګړو روغیتایی خدمتونو ته د لاس رسي احترام کوي او په ځانګړي ډول دا یقیني کړئ چې ټولې خواوې د ماشومانو واکسینو او نورو روغتیا مراکزو ته د لاس رسي د حق احترام کوي.

**نړیوالو نظامي ځواکونو ته**

- د افغانستان د حکومت سره په ملکي تلفاتو کې د کموالي په موخه د ملي پالیسي په جوړولو کې مرسته وکړئ او د عمل د هغه پلان په پلي کولو کې ملاتړ وکړئ چې په جګړو کې د ملکي وګړو د تلفاتو مخنیوی کوي.
- د ۲۰۱۵ وروسته د ناتوټو د پریکنده ملاتړ ماموریت له خوا افغان امنیتي ځواکونو سره د پالیسۍ ، عملیاتي او په تاکتیکي کچه مرستې ته ادامه ورکړئ ، او اوسني عملیاتي شرایطو ته په کتلو سره دې د دې څخه ډاډ تر لاسه شي چې افغان امنیتي ځواکونه په بشپړ ډول تمویل ، تجهیز او روزل شوي ، او په ځانګړي ډول د غیر مستقیم وسلو دفیر کولواو د افغان امنیتي ځواکونو لخوا د جنګي الوتکو د کارولو په اړه د مناسب پروتوکول ، روزنې ، د ملکي تلفاتو د کمښت لپاره د تدابیرو شتون اړتیا په پام کې ونیول شي.

- د افغان امنيتي ځواکونو سره مرستې ته ادامه ورکړئ چې د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو سره د مبارزې د عملياتو او د دغو توکو د خنثی کولو قومانده کنټرول په اغېزمن ډول ترسره کړي ، چې د ۲۰۱۵ – ۲۰۱۷ کلونو کې د دغو توکو ايستل او استحصال شامل دی .
- په افغانستان کې ټول نظاميان يا خارجي استخبارات او امنيتي ځواکونه چې په يواځې سر يا د افغان امنيتي ځواکونو سره د ملاتړ لپاره ګډ عمليات ترسره کوي ، بايد دې ډاډ ورکړي چې په مخامخ ځمکنيو اوهوايي عملياتو کې د ملکي وګړو د خوندي ساتنې په موخه ټول اړين ګامونه او تدبيرونه واخلي.
- په شفاف ډول د عملياتو وروسته د ارزونو ، او د هغو عملياتو په تعقيب چې په کې د ملکي تلفاتو اتهامات چې نړيوالو امنيتي او يا هم استخباراتي ځواکونو د ښکيلتيا له امله په ځانګړي ډول د بې پيلوټه الوتکو په بمبارۍ کې را منځته شوي د تحقيقاتو د سرته رسولو د باوري کولو په موخه او د حساب ورکولو ، خسارې جبران او د عملياتي تمريناتو په موخه مناسب ګامونه واخلئ .



## ۱. د جګړو په سيمو کې د بشري حقونو ساتنه

### ښځې او وسله والې جګړې

*"په هغه ورځ زه د ښځو لپاره د خياطي په کورس کې په عکاسي بوخته وم. زه د دروازې خوا ته ولاړه وم او يو عکس مې وايست. مخکې له دې چې دوهيم تصوير وباسم ، يوې لويې چاودنې زما په لاسونو کې کمره ماته کړه او زه يې په ځمکه وغورځولم. له يو څو دقيقو وروسته ، زه بېرته ودريدم او ځان ته مې وکتل- د بم ګولۍ او شيشې زما په سر ، پښو او لاسونو لګيدلې وې خو زه روغه وم. ما يوه ښځه وليده چې د يوې لويې دروازې لاندې ايساره وه او نورې ډيرې ښځې ژوبلې وې او وينې ترې روانې وې. دا زما په ژوند کې تر ټولو دردناکه صحنه وه." ۲۸*

-- د ښځو د چارو د رياست کارمنده چې د زابل ولايت د کلات د ولايتي شورا په دفتر په موټر کې ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو په ذريعه د ځانمرګي بريد له امله ژوبله وه ، ۲۵ مۍ ۲۰۱۵. په دې بريد کې ۷۹ ملکي کسان ژوبل شول چې ۳۰ تنه يې ښځې وې.

د ۲۰۱۵ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ديرشمې پورې ، يوناما د ښځو ۵۵۹ تلفات مستند کړي (۱۶۴ مړينې او ۳۹۵ ژوبلې)، چې د ۲۰۱۴ کال د لومړيو شپږو مياشتو په پرتله ۲۳ سلنه زياتوالی ښيي.[۲۹] دغه زياتوالی له هغو جرياناتو سره سمون لري چې په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما له خوا د ۲۰۱۴ نيمايي کال او کلني راپورونو کې په ګوته شوي. په دې راپورونو کې په ښځو باندې د جګړو اغيزې څرګندې شوي دي. د ۲۰۱۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې ، د وسله واله جګړو د ټولو تلفاتو ۱۱ سلنه يوازې ښځې وې ، چې دغه شمير د ۲۰۱۴ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې ۹ سلنه وه. په منځنۍ کچه ، په ۲۰۱۵ کې تر اوسه پورې په هره اونۍ کې ۲۱ ښځې په جګړو پورې د تړلې تاوتريخوالي له امله وژل شوې يا ژوبلې شوې دي.




[۲۸] د يوناما سره تيلفوني مرکه ، ۱۴ جون ۲۰۱۵

[۲۹] د ۲۰۱۴ د جنوري د لومړۍ او جون ۳۰ نېټې ترمنځ يوناما ۴۵۵ ښځينه تلفات (۱۵۳ مړينې او ۳۰۲ ژوبلې) مستند کړي.

د ځمکنیو نښتو پر مهال تر ټولو زیات شمیر تلفات ښځو ته اوښتي دي. د ۲۰۱۵ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د جون تر دیرشمې پورې، یوناما ۲۷۳ ښځینه تلفات (۶۸ مړينې او ۲۰۵ ژوبلې) مستند کړي چې د ځمکنیو نښتو له امله رامنځ ته شوي او د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۵ سلنه زیاتوالی ښکاري.[۳۰] ځمکنۍ نښتې د ښځینه تلفاتو له نیمايي څخه د لږ کم شمیر تلفاتو (۴۹ سلنه) سبب ګرځېدلې. په ډیرۍ دغو پېښو کې ښځې د ډزو په تبادله کې یا د سړو ګولیو او په تیره بیا د هوانونو له امله زیانمنې شوي،[۳۱] چې د دوي پر کورونو لګیدلې.

ډله ییز یا پیچلي ځانمرګي بریدونه د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ښځو د تلفاتو دوهیم لوی مخکښ لامل و چې ۱۱۶ ښځینه تلفات (۱۹ مړينې او ۹۷ ژوبلې) یې ورکړي. دغه شمیر د ۲۰۱۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو د تلفاتو په پرتله د دې تاکتیک په ذریعه په تلفاتو کې درې برابره زیاتوالی ښکاري.[۳۲] ځانمرګو بریدونو، چې ملکي هدفونه یې په نښه کړي په ځانګړې ډول ښځو او د دوي کورنیو ته ډیر زیانونه اړولي. د مثال په ډول، د مۍ په ۱۹مه طالبانو په کابل کې د عدلیې په وزارت ځانمرګي برید وکړ، چې درې ښځې یې و وژلې- درې واړه ځارنوالانې وې- او څلور نورې ښځې یې ژوبلې کړې. که څه هم د هر ملکي کس وژنه یوه وحشتناکه پېښه ده، د ښځینه قضایي چارواکو د وژنې اغیزې لا ډیرې زیان رسونکې دي. په یقیني ډول، ښځینه ځارنوالانې- په قضایي سکتور کې د کارمندانو یو لړ شمیر جوړوي- د ښځو او نجونو په اړوند د اندول یوه ښه بیلګه ده [د علمي او مسلکي لوړ موقف د لاس ته راوړلو له لارې]

*"زما خور خپل ژوند قانون ته وقف کړی و. زموږ پلار د دې له پریکړې څخه ملاتړ وکړ چې په قانوني چارو کې تخصص واخلي او د هغې فعالیتونه یې تقویه کول. هغې شل کاله د ځارنوالي دنده ترسره کړه او په ټوله موده کې له ګواښونو او سپکاویو سره مخ شوې وه- سره د دې هم هغه ناهیلې نه شوه ځکه هغې له خپلې وظیفې او عدالت سره مینه درلوده. زما زوي هغې ته د خپلې مور په سترګه کتل. هغې د ده له ټولې کورنۍ سره مرسته کوله.*

*په هغې ورځ، د دې یوه همکار تیلفون وکړ او راته یې و ویل چې د داوطلبۍ لپاره له هغې سره اړیکه ونیسم. په هغه ورځ د لویې ځارنوالي د کارمندانو په موټر برید شوی و. ما څو څو وارې تیلفون وکړ، خو هغې ځواب را نه کړ. کله چې زه روغتون ته ورسیدم، چیرې چې ډیر قربانیان راوړل شوي وو، دوي ما ته وویل چې هغه مړه ده. یوه چا زه د بیړنۍ کتنې ځانګې ته بوتلم چیرې چې د هغې جسد پروت و. زما خور ۴۷ کلنه وه."*[۳۳]

-- د یوه قرباني ورور، چې د لویې ځارنوالي د کارمندانو په موټر په یو ځانمرګي برید کې د ۲۰۱۵ کال د مۍ په لسمه وژل شوې وه. په دې برید کې ۵ تنه ملکیان و وژل شول او لس نور په کابل کې ټپیان شول. طالبانو د دې برید مسوولیت ومانه.۳٤

[۳۰] د ۲۰۱۴ د جنورۍ د لومړۍ نېټې او د جون د دیرشمې ترمنځ یوناما ۲۶۱ ښځینه تلفات (۵۴ مړينې او ۱۳۹ ژوبلې) مستند کړي چې د ځمکنیو نښتو په پایله کې رامنځ ته شوي.

[۳۱] د ۲۰۱۵ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د جون تر دیرشمې پورې ۶۶ سلنه ښځینه تلفات (۱۸۱ تلفات، ۴۲ مړينې او ۱۳۹ ژوبلې) په ځمکنیو نښتو کې د هاوانونو، راکټونو او لاسي بمونو له امله مستند شوي.

[۳۲] د ۲۰۱۴ د جنوري له لومړۍ نېټې د جون تر دیرشمې هغې یوناما ۲۹ ښځینه تلفات (۱۳ مړينې او ۱۶ ژوبلې) مستند کړي چې د ځانمرګو او پیچلو بریدونو له امله رامنځ ته شوي.

[۳۳] د ځانمرګي برید د یوه قرباني له ورور سره د یوناما مرکه، ۱۹ مۍ ۲۰۱۵، کابل.

[۳٤] وګورئ: د طالبانو د عملیاتو په اړه راپور، ۱۰ مۍ، ۲۰۱۵ http://justpaste.it/l1tg، د جولای ۱۵، ۲۰۱۵ وکتل شو.

د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله ۱۰۱ ښځینه تلفات اوښتي (۵۴ مړینې او ۴۷ ژوبلې) چې د ۲۰۱۴ کال د لومړینو شپږو میاشتو د تلفاتو په پرتله لس سلنه کموالی څرګندوي.[۳۵] د یادونې وړ ده چې دغه کموالی له ۲۱ سلنه هغه کموالی څخه ډیر کم دی چې د یوناما له خوا د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله په ټولو ملکي تلفاتو کې مستند شوی (د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په اړه فصل وګورئ).

د مثال په توګه ، په یوه حادثه کې چې د جون په ۲۰مه پیښه شوه ، هلمند ولایت د مارجه په ولسوالي کې یو تراکټور چې درې کورنۍ په کې سپرې وې ، د فشاري چاودیدونکو توکو باندې وخوت. دغه کورنۍ او قربانیان له هغه وروسته خپل کلي ته راستنیدل چې د افغان امنیتي ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ځمکنیو نښتو له امله یې خپل کورونه پرې ایښي وو. دې چاودنې ۱۶ تنه ملکیان و وژل ، چې ۱۱ تنه ښځې ، درې ماشومان او دوه تنه سړي وو. او اووه تنه نور یې ټپیان کړل چې څلو تنه ماشومان او درې سړي وو.

دولت ضد عناصرو ته د ښځینه ټولو مړینو او ژوبلو تر نیمایي زیاته برخه منسوبیږي (۶۱سلنه) چې حکومت پلوه ځواکونو ته د دې تلفاتو ۲۶ سلنه منسوبیږي. دښځو په منځ کې پاتې تلفات د دولت ضد عناصرو او حکومت پلوه ځواکونو تر منځ د ډزو د تبادلې له امله رامنځ ته شوي او یوناما نه شوای کولای چې د (۱۱ سلنه) تلفاتو مسوولیت هیڅ یوې خوا ته منسوب کړي ، همدارنګه د پولې په دواړو خواو کې د ډزو د تبادلې او د نا څرګنده مجرمینو له امله تلفات چې هر یو یې (۱ سلنه) تاکل شوي ، نه دي منسوب شوي چې زیاتره له جګړو څخه د پاتې شونو توکو له امله وو.

د ښځینه تلفاتو شمیر چې حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي په ۲۰۱۵ کې ۷۱ سلنه لوړ شوی[۳۶] چې اکثره په ګڼ میشتو سیمو کې د هاوان د ګولیو له امله رامنځ ته شوي. د مثال په ډول د مارچ په ۲۵مه ، د افغان امنیتي ځواکونو او د دولت ضد عناصرو تر منځ د لوګر ولایت په خرخ ولسوالي کې په یوه ځمکنۍ نښته کې ، افغان ملي اردو د هاوان یوه ګولۍ و اوروله چې په یوه ملکي کور ولګیدله ، اته ملکي کسان یې ژوبل کړل ، چې درې ښځې ، دوه نجونې او درې هلکان په کې شامل وو.

د ښځینه تلفاتو په شمیر کې زیاتوالی چې د وسله والې جګړې له امله دی ، د دې اړتیا بیا تاییدوي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت ضد عناصرو څخه وغوښتل شي چې یقیني کړي چې د ملکي تلفاتو څخه د مخنیوی په موخه ټول ضروري اقدامات ونیسي ، د هغو اقداماتو په ګډون چې دوي ور څخه ګټه پورته کوي لکه په غیر مستقیمه توګه ډزې او نور تاکتیکونه لکه په ګڼ میشتو سیمو کې چاودیدونکي توکي.

په ښځو باندې د جګړو د اغیزو د زیاتیدو تر څنګ ، یوناما د دې یادونه کوي چې هغه ښځې کومې چې په جګړو کې د خپلو میړونو له مړینې یا ژوبلیدو څخه وروسته د خپلو کورنیو لپاره په یوازې ډول عایدات برابروي ، په اوږد مهال کې له ډیرو منفي اقتصادي او ټولنیزو پایلو سره مخامخې دي او په ځانګړي ډول د تاوتریخوالي او ناوړه ګټې اخیستنې د نورو شکلونو په وړاندې

[۳۵] د ۲۰۱۴ د جنوري د لومړۍ او جون د ۳۰ ترمنځ یوناما ۱۱۲ ښځینه تلفات (۴۷ مړینې او ۶۵ژوبلې) مستند کړي چې د ځای پر ځآی شویو چاودیدونکو توکو له امله پیښ شوي دي.

[۳۶] د ۲۰۱۴ کال د جنوري د لومړۍ او جون دیرشمې نېټې ترمنځ حکومت پلوه ځواکونه د ۸۶ ښځینه تلفاتو (۳۰ مړینې او ۵۶ ژوبلې) مسوول وو. د ۲۰۱۵ د جنوري د لومړۍ او جون تر دیرشمې پورې دوي د ۱۴۷ ښځینه تلفاتو لامل ګرځیدلي (۳۱ مړینې او ۱۱۶ ژوبلې).

زیانمنیدونکي دي.[۳۷] یوناما په دې اړتیا بیا ټینګار کړی چې اړونده دولتي موسسات باید بیړني اقدامات وکړي چې د هغو ښځو او ماشومانو چې د جګړو له امله کونډې او یتیمان پاتې شوي ، بنیادي اړتیاوې پوره شي.

## ماشومان او وسله والې جګړې

*"زما کورنۍ زما د تره د زوی واده ته چې په بل کلي کې و ، بلل شوې وه. زه په بهر کې له لسو نورو ماشومانو سره په لوبو بوخت وم چې په هغه ساحه کې درې د هاوان ګولۍ ولګیدې. یوه ګولۍ موږ ته نږدې ولګیده. ما ډیره درنه وه او ډیر لوړ غږ یې وکړ. زه نه پوهیږم چې له هغه وروسته څه پیښ شول. کله چې په هوښ شوم ، زه له څو نورو هلکانو سره یو ځای د غزني په روغتون کې وم."* ۳۸

-- یو اته کلن ماشوم چې د غزني ولایت د غزني په ولسوالي کې د افغان ملي اردو په عملیاتو کې چې د شورشیانو په ضد یې پیل کړي وو ، د هاوان په ګولۍ د ۲۰۱۵ د جون په پینځمه نیټه لګیدلی و. د هاوان برید اته هلکان و وژل او لس تنه ملکیان یې ژوبل کړل چې ۹ تنه یې ماشومان وو.

### *وژل او سخت ژوبلول*

د ۲۰۱۵ کال د لومړیو شپږو میاشتو په موده کې ، وسله والو نښتو ماشومانو ته ډیر زیانونه ورسول. د جنوري له لومړۍ د جون تر دیرشمې پورې ، یوناما ۱۲۷۰ د ماشومانو تلفات (۳۲۰ مړیني او ۹۵۰ ژوبلې) مستند کړي چې په جګړو کې د تاوتریخوالي له امله رامنځ ته شوي او د ۲۰۱۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله ۱۳ سلنه زیاتوالي ښکندوي.[۳۹] د ملکي تلفاتو له هرو څلورو څخه یو یې ماشوم دی.




[۳۷] وګورئ: په وسله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې د ۲۰۱۴ کلنی راپور ، مخ ۱۴-۱۶.
[۳۸] له قرباني سره د یوناما مرکه ، کابل ولایت ، کابل ښار ، ۸ جون ، ۲۰۱۵.
[۳۹] د ۲۰۱۴ د جنوري له لومړۍ نېټې او جون تر دیرشمې پورې یوناما ۱۱۲۳ د ماشومانو تلفات (۳۲۳ مړیني او ۸۰۰ ژوبلې) مستند کړي.

سره د دې چې په عمومي ډول د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو په شمیر کې کموالی راغلی، د دې ډول جګړو له امله د ماشومانو په تلفاتو کې ۱۷ سلنه زیاتوالی لیدل کیږي.[۴۰] چې یوناما ۶۳۷ دا ډول تلفات (۱۳۶ مړینې او ۵۰۱ ژوبلې) ثبت کړې. په دې ډول، ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د تلفاتو تر ټولو لوی لامل دی، چې د ماشومانو د ټولو تلفاتو تر ۵۰ سلنې سبب ګرځیدلې دي.

یوناما ۲۵۱ د ماشومانو تلفات (۸۳ مړینې او ۱۶۸ ژوبلې) د ۲۰۱۵ په لومړیو شپږو میاشتو کې چې د ځای پر ځای شویو چاویدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي او د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۱۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، مستند کړي.[۴۱] ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي د ماشومانو د تلفاتو دویم لوی لامل دي، چې د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ټولو وژل شویو او سخت ژوبل شویو ماشومانو ۲۰ سلنه ورته منسوب شوي.

له جګړې څخه پاتې شوي ناچاودلي توکي، چې د اوسنیو او پخوانیو جګړو څخه پاتې شوي دي په همدې ډول ماشومانو ته جدي زیانونه اړولي دي. پاتې شوني په خاص ډول ماشومانو ته ځکه لوی خطر جوړوي چې هغوي د ناچاودو چاودیدونکو توکو په خطر نه پوهیږي او ماشومان په طبیعي ډول د اجناسو له پوهیدلو سره لیوالتیا لري او دارنګه د دوي بې وزلي هم په دې برخه کې نقش لري. یوناما په پرلپسې ډول داسې پیښې مستندې کړې چې ماشومان د وسپنې ټوټې ټولوي (چې وروسته یې خرڅ کړي) او په دې ترڅ کې په تصادفي ډول په ناچاودو توکو وخیږي.

له جګړو څخه پاتې شوني د ۱۷۳ ماشومانو د تلفاتو سبب ګرځیدلي (۳۹ مړینې او ۱۳۴ ژوبلې) چې د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۷ سلنه زیاتوالي ښيي.[۴۲] د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې له جګړو څخه پاتې شونو په منځني ډول په افغانستان کې په هره اونۍ کې یو ماشوم وژلی او پینځه نور یې ټپیان کړي. له جګړو څخه پاتې شوني د ماشومانو د تلفاتو دریم لوی لامل و- له ځمکنیو نښتو او ځای پر ځای شویو چاویدونکو توکو څخه وروسته- چې د ټولو تلفاتو ۱۴ سلنه یې جوړوله.

د ۲۰۱۵ په لومړیو شپږو میاشتو کې په ځانمرګو او پیچلو بریدونو کې دوه برابره هومره ماشومان وژلي او سخت ژوبل کړي که د ۲۰۱۴ کال له همدې مودې تلفاتو سره پرتله شي. یوناما ۹۶ سلنه د ماشومانو تلفات مستند کړي (۱۸ مړینې او ۷۸ ژوبلې) چې د دې ډول بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوي او د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۱۴۰ سلنه زیاتوالي ښکاره کوي.[۴۳]

همدارنګه یوناما د تښتونو، هدفي وژنو او هوایي بمباریو په ترڅ کې د ماشومانو په تلفاتو کې کمه اندازه زیاتوالی مستند کړی.

[۴۰] د ۲۰۱۴ د جنوري له لومړۍ ورځې د جون تر دیرشمې پورې یوناما ۵۴۵ د ماشومانو تلفات مستند کړي (۱۲۳ مړینې او ۴۲۲ ژوبلې) چې د ځمکنیو نښتو له امله رامنځ ته شوي.

[۴۱] د ۲۰۱۴ د جنوري له لومړۍ ورځې د جون تر دیرشمې پورې یوناما د ۲۸۲ د ماشومانو تلفات (۹۱ مړینې او ۱۹۱ ژوبلې) مستند کړي چې د ځای پر ځای شویو چاویدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي.

[۴۲] د ۲۰۱۴ د جنوري له لومړۍ ورځې د جون تر دیرشمې پورې یوناما ۱۶۱ د ماشومانو تلفات مستند کړي (۵۳ مړینې او ۱۰۸ ژوبلې) چې له جګړو څخه د پاتې چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي.

[۴۳] د ۲۰۱۴ د جنوري له لومړۍ ورځې د جون تر دیرشمې پورې یوناما د ماشومانو ۴۰ تلفات (۱۴ مړینې او ۲۶ ژوبلې) مستند کړي چې د ځانمرګو او پیچلو بریدونو له امله رامنځ ته شوي.

## له جګړو څخه چاودیدونکي پاتې شوني

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ، یوناما له جګړو څه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو ۹۵ جلا پېښې مستندې کړې[٤٤] چې ۲۰۸ ملکي تلفات (۴۷ مړيني او ۱۶۱ ژوبلې) یې واړول او د ۲۰۱۴ د همدې مودې[٤٥] په پرتله ۱ سلنه کموالی څرګندوي.[٤٦] له جګړو څخه د پاتې شونو له امله له ۲۰۸ ملکي تلفاتو څخه له ۱۷۳- یا ۸۳ سلنه یې ماشومان وو. له ځمکنیو نښتو او ځای پر ځای شویو چاودیدونکو څخه وروسته ، له جګړو څخه پاتې شونو تر بل هر ډول پېښې زیات ماشومان وژلي یا ژوبل کړي. (د نورو تفصیلاتو لپاره وګورئ تیره برخه- ماشومان او وسله واله جګړه. )




د دې لپاره چې ماشومان د جګړو له زیان څخه وژغورل شي ، یوناما په خاص ډول له هغو زیانونو څخه ډیره اندېښمنه ده چې له جګړو څخه پاتې شوني چاودیدونکي توکي یې ماشومانو ته اړوي. په نږدې نیمایي پېښو کې چې مستندې شوې دي ، ماشومانو له نښتو څخه پاتې شوني توکي له پیدا کولو او له هغو سره له لوبې کولو وروسته چاودلي دي.

له نښتو څخه د پاتې شونو له امله د وژلو او ژوبلیدلو خطر په هغو ټولنو پر ځای پاتې کیږي ، چیرې چې نښتې شوې دي او داسې وسلې په کې کارول شوې دي چې ناچاودې توکي تولیدوي[٤٧] او په هغو ځایونو کې چیرې چې په جګړو کې ښکیلې خواوې نه دي توانیدلي چې د جګړو له ځایونو څخه ناچاودې توکي نښاني کړي یا یې ایسته کړي. ماشومان او لویان د ناچاودو توکو له امله تلفات ویني کله چې هغوي د اوسپنې ټوټې ټولوي ، د خپلو څارویو څارنه کوي یا په کرنیزو کارونو بوخت وي.

[٤٤] له جګړو څخه پاتې چاودیدونکي توکي هغه نا چاودې وسلې او پریښودل شوي چاودیدونکي وسیلې دي.

[٤٥] یوناما او د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز مشاهده کړې چې په جنګي تمرین ځایونو کې له جګړو څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د پاک کولو له امله په ملکی تلفاتو کې کمښت راغلی چې د افغان امنیتي ځواکونو او ایتلاف د ځواکونو له خوا ترسره شوي. د ماکا احصاییې د کموالی جریان څرګندوي ، چې په ۲۰۱۳ کې د لوړو جنګي تمرین ځایونو څخه ۵۰ سنله په ملکي تلفاتو کې کموالی ښيي او دغه کموالي په ۲۰۱۴ کې ۱۹ سلنه او د ۲۰۱۵ په لومړۍ نیمایي کې ۲ سلنه و.

[٤٦] د ۲۰۱۴ د جنوري له لومړۍ ورځې د جون تر دیرشمې پورې یوناما ۲۱۱ ملکي تلفات (۷۱ مړيني او ۱۴۰ ژوبلې) مستند کړي.

[٤٧] د وسلو هغه سیستم چې په کې غلې وسلې تولیدیږي لکه هاوانونه ، راکټونه ، لاسي بمونه له هوا څخه اورول کیدونکې ګولۍ ، او نورې هغه جوړې شوې وسلې چې په افغانستان کې ورڅخه استفاده شوي.

که څه هم د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ناچاودو توکو له امله په تلفاتو کې په عموم ډول کمښت لیدل کیږي ، خو د ماشومانو په منځ کې دې ډول تلفاتو د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۷ سلنه زیاتوالی ښودلی. د مثال په توګه ، د اپریل په ۲۴مه ، دوو هلکانو د څارویو د څارنې په وخت کې د سمنګان ولایت د حضرت سلطان په ولسوالي کې یو ناچاودي توکي وموند او هغه یې په اور کې واچولو. ناچاودي توکي وچاودلو او دواړه هلکان یې و وژل. په یوه بله پېښه کې ، د جنوري په ۷مه د کندهار ولایت د شاولي کوټ په ولسوالي کې د ماشومانو یوې ډلې نا چاودي توکي وموندل. کله چې هغوی له دغو توکو سره لوبې کولې ، توکي وچاودل او لس تنه ماشومان یې ژوبل کړل چې عمرونه یې له ۶- ۱۷ کلونو پورې وو.

***له جګړو څخه د ناچاودو توکو له امله په تلفاتو کې زیاتوالي او څمکنی نښتې***

د یوناما له خوا په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې لپاره د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو کلني او نیم کلن راپورونو ښودلې چې په ځمکنیو نښتو کې او په ملکي تلفاتو کې د د زیاتوالی ترمنځ اړیکه شته. له افغان ملي امنیتي ځواکونو سره په مباحثو کې ، چارواکو داسې کوم طرز العملونه یا پروتوکولونه دي ښودلي چې له مخې یې له جګړو څخه پاتي شوني په نښه کړي چې د افغان ځواکونو له خوا د وسلو د هغو سیستمونو په ذریعه ښایي رامنځ ته شي چې ناچاودي توکي تولیدوي.[48]

د دې لپاره چې له نا چاودو توکو څخه د ملکي تلفاتو مخنیوی وشي ، یوناما د افغانستان له حکومت څخه غواړي چې داسې مناسبې پالیسۍ او طرزالعملونه طرح کړي چې له مخې یې د امنیتي ځواکونو څخه غوښتنه کیږي څو د جګړو له میدانونو څخه نا چاودي توکي په نښه او پاک کړي.

***د ځینو دودیزو وسلو له تړون سره له نښتو څخه د چاودیدونکو پاتې شونو V پروتوکول***

څرنګه چې له ناچاودو توکو څخه په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی ادامه لري ، په ځانګړي ډول د ماشومانو په تلفاتو کې ، یوناما د دې سپارښتنه کوي ، چې افغانستان د ۱۹۸۰ کال د ځینو دودیزو وسلو له تړون سره له نښتو څخه د چاودیدونکو پاتي شونو V پروتوکول غړي هیواد شي.[49] دغه پروتوکول له جګړو څخه د چاودیدونکو پاتي شونو بشري ناوړه پایلې او د داسې تدبیرونو لاربښودنه کوي چې د دې وسلو پیښې ، اغیزې او خطرونه کم کړي.

د V پروتوکول له غړیتوب سره ، غړي دولتونه د دې مسوولیت پیدا کوي چې د خپلې ولکې په ساحه کې د ننه په متاثره شویو ساحو کې له جګړو څخه پاتې چاودیدونکي توکي په نښه ، ایسته یا تخریب کړي ، څو ملکي کسان د دغو وسلو له هغه خطر څخه وژغورل شي چې د دوي فزیکی خوندیتوب ته تاوان رسوي. د V پروتوکول غړي مسوول دي چې له نښتو څخه د پاتي شونو په اړه معلومات ثبت او خوندي وساتي ، او په خپلو منځونو کې او د نورو هیوادونو او سازمانونو سره د چاودیدونکو پاتي توکو په ایسته کولو او تخریب کې همکاري وکړي.

[48] په کابل کې د دفاع وزارت له چارواکو سره کتنه ، ۱۲ مۍ ، او ۴ جون ، ۲۰۱۵.

[49] د جګړو څخه د چاودیدونکو توکو په اړه پروتوکول (V پروتوکول چې په ۱۹۸۰ کې د ځینو دودیزو وسلو په اړه لاسلیک شوی) ۲۸ نومبر ، ۲۰۰۳، په دې پته:
http://www.onug.ch/80256EE600585943/ (httpPages)/C7DDB8CCD5DD3BB7C12571D8004247FA?OpenDocument

## په جګړو کې تاوتریخوالی د افغان ماشومانو راتلونکی د پولیو (ګوزڼ) له خطر سره مخامخ کوي [۵۰]

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ، د ملګرو ملتونو د څارنې او راپور ورکونې هیوادني کاري ځواک ۱۶ پېښې مستندې کړې چې د واکسیناسیون کمپاینونه او کارمندان په کې تر تهدید لاندې نیول شوي وو. په اوو پېښو کې د پولیو کارمندانو اجازه نه درلوده چې هغو ساحو ته ننوځي چې د دولت ضد عناصرو په ولکه کې وې. په څلورو پیښو کې ، دولت ضد عناصرو د پولیو په کارمندانو بریدونه کړي ، هغوي یې وژلي یا ژوبل کړي دي. په دریو پېښو کې دغه کارمندان تښتول شوي او په دوو نورو هغو کې هغوي له تهدیدونو او بیرونو سره مخامخ شوي.

د دغو پېښو زیاته برخه په ختیځ کې پیښې شوي چې ور پسې سهیلي سیمې راځي. جنوب ختیځ او لویدیځې سیمې هم د پولیو د کمپاینونو په ضد د بریدونو شاهدانې دي. دولت ضد عناصر له ۱۶ پېښو څخه د ۱۳ هغو لامل ګرځیدلي دي. [۵۱] په دوو پیښو کې یوناما و نه شو کولای چې مجرمین وپیژني ، خو په یوه پېښه کې افغان ملي اردو ګرم ګڼل شوي.

که څه هم طالبانو په پخوا کې بیانیې خپرې کړې دي ، چې په شرطونو د پولیو له کمپاینونو سره په کې ملاتړ شوی دی ، [۵۲] یوناما مشاهده کړې ده چې ځینو طالب قوماندانانو او همدارنګه نورو دولت ضد عناصرو چې د کنړ او ننګرهار په ولایتونو (ختیځ افغانستان) کې فعال وو د پولیو د واکسیناسیون د هڅو مخنیوی کړی. په جنوبي سیمو کې ، دولت ضد عناصرو د هلمند په ولایت کې دوه ځلې د پولیو د واکسیناسیون په کمپاین باندې بندیز ولګاوه. د ۲۰۱۴ د جنوري او اګست د میاشتو ترمنځ داتوو میاشتو لپاره او بیا د دوو میاشتو لپاره د ۲۰۱۴ د ډسمبر څخه د ۲۰۱۵ تر جنوري پورې یوناما په ځانګړې ډول اندېښمنه ده چې دغه بندیز په کندهار ولایت کې د ۲۰۱۵ د مۍ په میاشت کې په ځینو برخو کې ولګید. او د دې کال تر جون پورې ټول ولایت ته وغځید او د دې راپور تر لیکلو پورې دا بندیز لګیدلی و. کندهار په افغانستان کې د پولیو د ویروس اصلي ځای ګڼل کیږي. د دولت ضد عناصرو له خوا ټول بندیزونه سیاسي لاملونه لري چې د پولیو له پروګرام سره هیڅ راز اړیکې نه لري. د جون په میاشت کې ، د تیر کمپیان په ترڅ کې په جنوبي سیمه کې یوازې نیمایي ماشومان واکسیناسیون شول ، ځکه چې دولت ضد عناصرو محدودیتونه او بندیزونه لګولي وو.

---

[۵۰] پولیو (پولیو میلیټس) چې ګوزڼ هم ورته وایې یوه ساري ویروسي ناروغي ده چې عصبي سیستم تر برید لاندې راولي. دې ناروغي قربانیان ډیر ځله څه غبرګون نه ښیي خو په ۲۰۰ ماشومانو کې یو له فلج کیدو څخه رنځیږي یا مري. هرڅوک کیدای شي په دې ناروغي اخته شي ، خو تر ۵ کلونو کم عمره ماشومان تر ټولو زیات زیانمنیدونکی دي. په خپل وخت سره د خولې له لارې د واکسین ورکولو په ذریعه د دې ناروغي د مخنیوي تر ټولو ښه طریقه ده. یونیسف د پولیو له منځه وړل په دې پته: http://www.unicef.org/immunization/polio/

[۵۰] طالبان د اوو پیښو سبب ګرځیدلی ، څلور د نامعلومو دولت ضد عناصرو او دوه پیښې د هغو ډلو له خوا رامنځ ته شوي چې ادعا کوي له په اصطلاح اسلامي دولت سره تړاو لري.

[۵۰] وګورئ په وسله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۳ کلني راپور ، مخ ۶۳- ۶۴ او ۲۶۸ لمن لیک. "طالبانو د ۲۰۱۳ د مۍ په ۱۳ یوه بیانه خپره کړه ، چې د پولیو د واکسیناسیون کمپاین یې تقویه کړی ، که چیرې دغه کمباینونه د افغانانو له خوا رهبري شي او د اسلامي ارزښتونو سره سم ترسره شي ، د طالبانو وینا: "د پولیو د واکسیناسیون په اړه د طالبانو وینا" ۱۳ مۍ ۲۰۱۳ په دې پته: http://shahamat-english.com/index.php/paighamoona/31412-declaration-of-the-islamic-emirate-of-afghanistan-regarding-the-polio-vaccination

[۵۱] طالبان د اوو پیښو سبب ګرځیدلی ، څلور د نامعلومو دولت ضد عناصرو او دوه پیښې د هغو ډلو له خوا رامنځ ته شوي چې ادعا کوي له په اصطلاح اسلامي دولت سره تړاو لري.

[۵۲] وګورئ په وسله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۳ کلني راپور ، مخ ۶۳- ۶۴ او ۲۶۸ لمن لیک. "طالبانو د ۲۰۱۳ د مۍ په ۱۳ یوه بیانه خپره کړه ، چې د پولیو د واکسیناسیون کمپاین یې تقویه کړی ، که چیرې دغه کمباینونه د افغانانو له خوا رهبري شي او د اسلامي ارزښتونو سره سم ترسره شي ، د طالبانو وینا: "د پولیو د واکسیناسیون په اړه د طالبانو وینا" ۱۳ مۍ ۲۰۱۳ په دې پته: http://shahamat-english.com/index.php/paighamoona/31412-declaration-of-the-islamic-emirate-of-afghanistan-regarding-the-polio-vaccination

په ځینو مواردو کې ځایي مشرانو او د بشرپالنې سازمانونو دولت ضد عناصر دې ته هڅولي چې د دوی تر ولکې لاندې سیمو کې د واکسیانسیون کمپاینونو ته د فعالیت اجازه ورکړي. خو دغه ډول خبرو اترو په غیر ضروري ډول کارونه ځنډولي او د پولیو کارمندان یې له دې ګرځولي چې ملکي وګړو ته له قید او شرط پرته لاس رسی پیدا کړي.

د ځارنې او راپور ورکونې لپاره د ملګرو ملتونو د هیواد په سطحه کاري ځواک ویلي دي چې د دولت ضد عناصرو پریکړو او فعالیتونو ډیرې ناوړه پایلې درلودې ، په ځانګړې ډول د طالبانو له خوا د پولیو د واکسیناسیون د لګولو په ضد بندیزونه. د یونیسف د تخمین له مخې د ۲۰۱۵ د جون تر پایه پورې ، لږ تر لږه ۴۹۱۸۳۲ افغان ماشومان د پولیو له واکسیناسیون څخه محروم شول ، ځکه چې دولت ضد عناصرو په مستقیم ډول بریدونه کول او په واکسیناسیون یې بندیز لګولی و او بله دا چې عمومي امنیتی وضعه په هیواد کې ښه نه وه.[۵۳]

په لاندنیو کرښو کې د پولیو د کارمندانو او کمپاینونو په وړاندې د بریدونو څو بیلګې لولئ:

- د جون په ۱۵مه ، طالبانو د لوګر ولایت د پل علم په ولسوالۍ کې یو موټر ودرولو او د پولیو د واکسیانسیون یو تن کارمند چې کار ته روان و ، ویې وویشت او مړ یې کړ.
- د اپریل په ۱۶مه ، طالبانو د کندهار ولایت د پنجوایي په ولسوالي کې د یو تن واکسیناتور په کور برید وکړ. دوی واکسیناتور تر برید لاندې ونیو او ژوبل یې کړ چې طالبانو ده ته پخوا په کرتو ګواښ کړی و چې کار پریږدي.
- د اپریل په ۲۳مه ، د غور ولایت د چغچران په ولسوالي کې طالبانو د پولیو یو کارمند چې کلینک ته په لاره روان و ، په هغه ساحه کې وتښتاوه ، چې د دوی تر ولکې لاندې وه او د اپریل تر ۲۸مه د قومي مشرانو د منځګړیتوب په ذریعه خوشې شو.
- د مارچ په ۱۵مه ، افغان ملي اردو د غزني ولایت د غزنی په ښار کې د پولیو کارمند په هغه وخت کې وویشت او مړ یې کړ چې کله هغه له یوه کور څخه راووت او هلته یې ماشومان واکسین کړل. د راپورونو له مخې افغان ملي اردو فکر کړی و چې واکسیناتور د دولت ضد یو کس دی. د دې پیښې لپاره د ملي اردو هیڅوک مسوول و نه ګڼل شو.

یوناما د پولیو د کارمندانو په ضد هغه بریدونه په کلکه غندي چې په زور او جبر د پولیو د واکسیناسیون د کمپاین مخنیوی کوي. دغه بندیزونه او بریدونه نه یوازې د بشردوستانه کارمندانو جسماني روغتیا او ژوند له خطر سره مخ کوي ، بلکه په سل ګونو زره ماشومان له واکسین څخه محرومو ي چې د دوی د روغې ودې او ژوند لپاره ډیر ضروري دي.

یوناما د دې یادونه کوي چې افغان حکومت د دې مسوولیت لري څو یقیني کړي چې په دې خاوره کې ټول اشخاص روغتیایي خدمتونو ته لاس رسی لري[۵۴] او دربیمه خوا باید د دې لاس رسي مخنیوی و نه کړي.

---

[۵۳] د یوناما او یونیسف ، افغانستان ترمنځ د بریښنالیکونو تبادله او مباحثې ، جولای ۲۰۱۵.
[۵۴] د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو په اړه کمیټه، ۱۴ عمومي تبصره د روغتیا تر ممکن لوړ معیار د درلودلو حق په اړوند، پراګراف ۳۵، په دې پته: http://www.ohchr.org/en/hrbodies/cescr/pages/cescrindex.aspx

باید و ویل شي چې افغانستان په نړۍ کې له دریو هیوادونو څخه یو دی چې له ۲۰۱۲ راهیسې د پولیو وبا په کې شته.[۵۵] په ۲۰۱۵ کې تر اوسه یوازې پاکستان او افغانستان د پولیو د ویروس شتون ثبت کړی دی.[۵۶]

## د جګړو له امله د ملکي کسانو بې ځایه کیدنه: داخلي بې ځایه شوي کسان

د ۲۰۱۵ کال د جولای په ۱۶مه په افغانستان کې د داخلي بې ځایه شویو کسانو شمیر په تخمیني ډول له (۹۴۵۶۰۰) تنو څخه اوښتی و. د داخلي بې ځایه شویو کسانو په اړوند د افغانستان کاري ځواک نږدې (۱۰۳۰۰۰) ملکي کسان ثبت کړي چې د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د نښتو له امله بې ځایه شوي دي.[۵۷] دغه شمیر د ۲۰۱۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله ۴۳ سلنه زیاتوالي څرګندوي ، چې د نښتو له امله (۷۱۸۰۰) کسان بې ځایه شوي وو.[۵۸] د بې ځایه کیدنې تر ټولو لوی لاملونه د راپورونو له مخې د حکومت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ ځمکنۍ جګړې (د لویې پیمانې د عملیاتو او د تیت پرکو وړو نښتو په ګډون) چې د کڼ میشتو سیمو په ګاونډیتوب کې رامنځ ته شوي ، بیرونې او تهدیدونه چې د دولت ضد عناصرو له خوا شوي او د وسله واله ډلو ترمنځ نښتې وې.

داخلي بې ځایه شویو کسان په محل کې له یوه ځایه بل ځای ته خوځیدلي ، چې له کلیوالي سیمو څخه د ولسوالیو یا ولایتونو مرکزونو یا په یوه سیمه کې ګاونډیو ولایتونو ته خوځیدلي دي.

په کندز او بدخشان ولایتونو باندې د دولت ضد عناصرو له بریدونو او د افغان ملي اردو د ځوابي بریدونو څخه وروسته ، د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د افغانستان شمال ختیځ سیمې تر ټولو زیات داخلي بې ځایه شوی کسان درلودل. په جنوبي سیمه کې د افغان ملي امنیتی ځواکونو د هملند ولایت د سنګین په ولسوالي کې د ذوالفقار په نوم عملیاتو هم زیات شمیر خلک په داخل کې بې ځایه کړل. د بشردوستانه مرستو فعالینو راپور ورکړی چې د هلمند ، بدخشان او کندز د ولایتونو په هغو سیمو کې چې لاس رسي ورته نه کیده ، زیات شمیر خلک بې ځایه شوي دي.[۵۹]

په شمالي سیمه کې د فاریاب په ولایت کې د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د حکومت پلوه ځواکونو د فعالیتونو له امله زیات شیمر خلک بې ځایه شوي. په مرکزي ، ختیځو او جنوبي سیمو کې ، په تېره بیا په کاپیسا ، میدان وردګو ، کابل ، کنړ ، ننګرهار ، هلمند او کندهار ولایتونو کې[٦۰] بې ځایه کیدنه په پرلپسې ډول د هدفي بریدونو او محلي وړو نښتو په پایله کې رامنځ ته شوې.

[۵۵] نایجریا او پاکستان نور ملکونو دي چې متاثره شوي.
[۵٦] د یوناما او یونیسف افغانستان ترمنځ د بریښنالیکونو تبادله ، جولای ۲۰۱۵.
[۵۷] د داخلي بې ځایه شویو کسانو کاري ځواک د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري او د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو د وزارت له خوا په ګډه اداره کیږي. دغه کاري ځواک هغه اساسي میکانیزم لري چې له مخې یې د جګړو له امله داخلي بې ځایه شوي کسان پیژندل کیږي او مرستې ورسره کیږي. تر اوسه د دې راپور تر لیکلو وروستنی معلومات د جنوري له لومړۍ د جون تر دیرشمې پورې (۲۰۱۵) موده رانغاړي.
[۵۸] د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري له خوا تیار شوي ارقام ، د داخلي بې ځایه شویو وګړو د کاري ځواک مشرتابه ، معلومات د ۲۰۱۵ د جولای په ۲۱ د بریښنالیک په ذریعه لاس ته راغلي.
[۵۹] همدا ماخذ
[٦۰] همدا ماخذ

## د پولې دواړو خواوو ته نښتې

د ۲۰۱۵ کال د جنوري له لومړۍ نېټې د جون تر دیرشمې پورې ، یوناما له پاکستان څخه افغانستان ته د پولې په دواړو خواوو کې د ګولیو ورولو درې پېښې مستندې کړې چې ۱۵ ملکي تلفات (۶ مړینې او ۹ ژوبلې) یې درلودل او د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۶۱ سلنه زیاتوالی څرګندوي.[٦١]

یوناما په کنړ ، خوست او ننګرهار ولایتونو کې د پولې له هغو خواوو څخه د ډزو له امله ملکي تلفات مستند کړي. د مثال په توګه ، د مارچ په ۲۶مه پاکستاني نظامي ځواکونو د خوست ولایت تیرى زیو ولسوالۍ باندې ۱۵ هاوان ګولې وویشتلې ، چې دریو ملکي کورونو ته یې زیان واړاوه ، درې ملکي کسان یې ووژل (دوې ښځې او یوه نجلۍ) او ۸ نور یې ټپیان کړي چې دوه یې ښځې او درې ماشومان وو.

یوناما د کنړ د دانګام په ولسوالي کې دوې نورې پیښې مستندې کړې ، چې ملکي تلفات یې نه درلودل ، خو څاروي او ملکي شتمنې یې تخریب کړل.

[٦١] د ۲۰۱۴ د جنوري له لومړۍ د جون تر دیرشمې پورې ، یوناما ۳۸ ملکي تلفات مستند کړي (درې وژني او ۳۵ ژوبلې) چې له پاکستان څخه د افغانستان په لور د پولې په اوږدو کې د متقابلو ډزو له امله په کنړ ولایت کې رامنځ ته شوي.

## ۲. په جګړو کې د ښکېلو خواوو ترمنځ ځمکنۍ نښتې[٦٢]: ملکي وګړي د متقابلو ډزو په منځ کې

### د ځمکنیو جګړو له امله ملکي تلفات: په ۲۰۱۵ کې عمده جریانات

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ، د ځمکنیو نښتو له امله ۱۵۷۷ ملکي تلفات (۳۷۹ مړینې او ۱۱۹۸ ژوبلې) یې واړول ، چې د ۲۰۱۴ د همدې مودې په پرتله ۳۶۶ کم تلفات اووښتي دي په فیصدي لحاظ ۱۹ سلنه کموالی ښیي.[٦٣] یوناما اندېښمنه ده او یادوي چې د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې حکومت پلوه او دولت ضد عناصر دواړوه د ځمکنیو نښتو په ترځ کې نږدې د یو برابر ملکي تلفاتو لامل ګرځیدلي.

یوناما یادونه کوي ، چې د ۲۰۱۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې ، چې د دولت ضد عناصرو له خوا پیل شوې او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کاروانونه ، د رایې اچونې مرکزونه ، د ټاکنو لپاره نوماندان او د دوی پلویان یې تر برید لاندې ونیول ، ۳۸۰ تنه ملکي تلفات (۷۴ مړینې او ۳۰۶ ژوبلې) رامنځ ته شول ، چې د دغو اکثریت د ۲۰۱۴ کال د اپریل په پینځمه[٦٤] او د جون په ۱۴مه[٦٥] پیښ شوي. د ځمکنیو نښتو په ترځ کې د ۲۰۱۵ په لومړیو شپږو میاشتو کې کموالی شایي له دې امله وي چې په ۲۰۱۴ کال کې د ټاکنو پروسه بشپړه شوه او د ټاکنو پروسه نور له بریدونو سره نه ده مخامخ شوې. د ۲۰۱۴ کال په لومړۍ نیمایي کې ، دولت ضد عناصرو په عمدي او فعال ډول ټاکنیزه پروسه تر برید لاندې نیولې وه.

سره د دې چې په ملکي تلفاتو کې کموالی لیدل شوی ، د حکومت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو د اصلي لامل په څیر پیژندل شوي ، چې د ټولو ملکي مړینو او ژوبلو ۳۲ سلنه جوړوي. ملکي کسان په پرلپسې ډول د حکومت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ په ګڼ میشتو سیمو کې د جګړو په ترځ کې د متقابلو ډزو په منځ کې پاتې شوي. لکه څنګه چې مخکې یاده شوه ، ښځې او ماشومان د ملکي تلفاتو تر نیمایي څخه زیاته برخه جوړوي.

یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۳۷ سلنه چې د ځمکنیو نښتو له امله رامنځ ته شوي حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.[٦٦] ۳۲ سلنه دولت ضد عناصرو ته او ۳۰ سلنه یې د دې دواړو خواوو ترمنځ ځمکنیو نښتو ( متقابلې ډزې) ته منسوب کړي چې ملکي تلفات یوې مشخصې خوا ته نه شو منسوب کیدای. د ملکي تلفاتو پاتې برخه هغو ځمکنیو نښتو ته منسوب شوې چې د پولې په دواړو خواوو کې پیښې شوې دي.

---

[٦٢] په ځمکنیو بریدونو کې خوځیدونکی ځمکني عملیات ، له لېرې واټن څخه بریدونه ، متقابلې ډزې او په جګړو کې د ښکیلو خواوو له خوا هغه بریدونه شاملیږي چې کوچنۍ وسلې ، درندې وسلې او/یا د ساحې د وسلو سیستمونه ، لکه هاوانونه ، او راکټونه په کې کارول کیږي.

[٦٣] د ۲۰۱۴ د جنوري د لومړۍ د جون تر دیرشمې پورې ، یوناما ۱۹۴۳ ملکي تلفات (۵۳۶ مړینې او ۱۴۰۷ ژوبلې) مستند کړي چې په ځمکنیو نښتو کې رامنځ ته شوي.

[٦٤] د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د رایې اچونې ورځ

[٦٥] د دوهیم پړاو ولسمشریزې ټاکنې

[٦٦] د ځمکنیو نښتو له امله د ملکی تلفاتو د منسوبونې لپاره یوه لوري ته ، یوناما د ملکي تلفاتو د حادثو په اړوند د تصدیق کولو په موخه له دریو منابعو کار اخیستی ، - په تیره بیا د ډزو د تبادلې په پیښو کې- یوناما ملکي تلفات دواړو خواوو ، حکومت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي چې دولت ضد عناصرو/حکومت پلوه ځواکونه د یوې جلا کټګورۍ په ډول پیژني.




په ۲۰۱۴ کې د جریاناتو په تعقیب ، چې یوناما مستند کړې دي ، د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې ، یوناما د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې د ملکي کسانو په تلفاتو کې ډیر زیاتوالی مشاهده کړی چې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا د عملیاتو او بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوي دي. یوناما ۵۸۰ ملکي تلفات (۱۴۳ مړیني او ۴۳۷ ژوبلي) حکومت پلوه ځواکونو ته منسوبوي چې د ۲۰۱۵ د جنوري له لومړۍ نیټې څخه د جون تر ۳۰ هغې پورې رامنځ ته شوي او د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۸۵ سلنه زیاتوالي ښودلی.[٦٧] زیاتوالي ښایي له دې امله وي چې په ۲۰۱۵ کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ځمکنیو عملیاتو ته زور ورکړی څو د حکومت جوړوني پروسه غښتلې شي او د دولت ضد عناصرو بریدونو ته ځواب و وایي.

د ۲۰۱۵ د جنوري له لومړۍ نیټې څخه د جون تر دیرشمې پورې ، یوناما ۵۱۲ ملکي تلفات (۱۳۷ مړیني او ۳۷۵ ژوبلي) دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي ، چې د ځمکنیو نښتو به ترڅ کې یې اړولي او د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۴۶ سلنه زیاوالی ښودلی.[٦٨] دغه لړوالی تر ډیره بریده څکه راڅرګند شو چې د ټاکنو پروسه لکه مخکې چې و ویل شول بشپړه شوې وه ، خو دغه راز له دې کبله هم لړ شوي چې په عمومي ډول د هاوانونو ، راکټونو او لاسي بمونو څخه چې دولت ضد عناصر یې په ځمکنیو نښتو کې کاروي ، کموالی لیدل کیږي.

[٦٧] د ۲۰۱۴ د جنوري د لومړۍ د جون تر دیرشمي پورې ، یوناما ۳۱۳ ملکي تلفات (۱۰۷ مړیني او ۲۰۶ ژوبلي) حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي چې د ځمکنیو نښتو له امله رامنځ ته شوي.
[٦٨] د ۲۰۱۴ د جنوري د لومړۍ د جون تر دیرشمي ترمنځ یوناما ۹۴۰ ملکي تلفات (۲۵۲ مړیني او ۶۸۸ ژوبلي) دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي چې د ځمکنیو نښتو له امله رامنځ ته شوي.




## د ځمکنیو نښتو په ترځ کې د ماشومانو او ښځو په تلفاتو کې زیاتوالی

د هغو جریانونو په تعقیب چې یوناما په وسله واله جګړو کې د ملکي کسانو د ساتنې په ۲۰۱۴ کلني راپور کې مستند کړي وو ، ځمکنیو نښتو زیات شمیر ښځې او ماشومان وژلي او ژوبل کړي دي. یوناما تر بل هر شپږ میاشتني راپور د ځمکنیو نښتو په ترځ کې د ښځو او ماشومانو ډیر تلفات ثبت کړي چې د ځمکنیو نښتو په ترځ کې رامنځ ته شوي دي. دغه تلفات اکثرا د هاوان د ګولیو یا نورو ګولیو له امله دي چې په کورونو لګیدلي یا د متقابلو ډزو له امله پیښ شوي.

ځمکنیو نښتو د بل هر تاکتیک څخه زیات شمیر ښځینه تلفات اړولي (۲۷۳ ښځینه تلفات چې ۶۸ مړینې او ۲۰۵ ژوبلې) د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۵ سلنه زیاتوالي څرګندوي[69] - او دښځینه ټولو تلفاتو ۴۹ سلنه جوړوي.

ځمکنیو نښتو همدارنګه تر بل هر تاکتیک زیاتو ماشومانو ته مرګ ژوبله اړولې ده (۶۳۷ د ماشومانو تلفات ، ۱۳۶ مړینې او ۵۰۱ ژوبلې) چې د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۱۷ سلنه زیاتوالي څرګندوي.[70] دغه شمیر د ۲۰۱۵ په لومړیو شپږو میاشتو کې د ماشومانو د ټولو تلفاتو ۵۰ سلنه جوړوي.

## د سیمې له مخې د ځمکنیو نښتو تلفات : د ۲۰۰۹څخه تر ۲۰۱۵

په جنوبي سیمه کې له ځمکنیو نښتو څخه د ملکي تلفاتو شمیر تر بل هر ځای زیات و ، چې شمیر ۳۱۸ (۶۲ مړینې او ۲۵۶ ژوبلې) ، په ختیځو سیمو کې ۳۱۱ ملکي تلفات ( ۶۴ مړینې او ۲۴۷ ژوبلې) ، او په شمال ختیځو سیمو کې دغه تلفات ۲۷۱ (۷۱ مړینې ۲۰۰ ژوبلې) ته کیږي.

[69] د ۲۰۱۴ د جنوري د لومړۍ د جون تر دیرشمې ترمنځ یوناما ۲۶۱ ښځینه تلفات (۶۵ مړينې او ۱۹۶ ژوبلې) د ځمکنیو نښتو له امله مستند کړي.
[70] د ۲۰۱۴ د جنوري د لومړۍ د جون تر دیرشمې پورې ، یوناما ۵۴۵ د ماشومانو تلفات (۱۲۳ مړينې او ۴۲۲ ژوبلې) له ځمکنیو نښتو څخه مستند کړي.

د ولایت پر بنسټ له ویشلو څخه وروسته ، یوناما د ځمکنیو جګړو په ترڅ کې تر ټولو زیات ملکي تلفات د کندز په ولایت کې ثبت کړي دي ، چې په شمال ختیځ کې پروت دی او شمیر یې ۲۱۴ (۵۲ مړیني او ۱۶۲ ژوبلي) تنو ته رسیږي ، له هغه وروسته ننګرهار په ولایت کې چې ختیځ سیمه ده دغه تلفات ۱۵۰ (۳۰مړیني او ۱۲۰ ژوبلي) تنه دي او په غزني ولایت جنوب شرق کې ۱۴۴ ملکي تلفات ( ۳۸ مړیني او ۱۰۶ ژوبلي) او د جنوب په هلمند ولایت کې ۱۳۶ (۲۸ مړیني او ۱۰۸ ژوبلي) تنه ثبت شوي.




| | مرکزي سیمه | مرکزي لوړه سیمه | ختیځ | شمال ختیځ | شمال | جنوب ختیځ | جنوب | لویدیځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 45 | 0 | 154 | 12 | 25 | 120 | 145 | 6 |
| 2010 | 90 | 8 | 254 | 52 | 45 | 162 | 236 | 46 |
| 2011 | 149 | 0 | 288 | 20 | 22 | 194 | 361 | 28 |
| 2012 | 188 | 0 | 188 | 19 | 80 | 151 | 42 | 21 |
| 2013 | 122 | 4 | 311 | 42 | 69 | 139 | 246 | 72 |
| 2014 | 210 | 5 | 419 | 158 | 217 | 253 | 528 | 153 |
| 2015 | 144 | 19 | 311 | 271 | 132 | 247 | 318 | 135 |

د ملکي تلفاتو زیات شمیر چې د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې په کندز ولایت کې وژل شوي یا ژوبل شوي په ۲۰۱۵ اپریل کې د طالبانو له خوا د بریدونو د پیل او بیا د افغان امنیتي ځواکونو د ځوابي بریدونو له امله رامنځ ته شوي.

***په کندز ولایت کې د طالبانو بریدونه: اپریل- جون ۲۰۱۵***

د اپریل د ۲۴مه او می د ۱۳مه او بیا د جون د ۲۰مه او ۳۰مه ترمنځ د طالبانو او حکومت پلوه امنیتي ځواکونو ترمنځ په کندز ولایت کې له هغه وروسته ډېرې شدیدې جګړې وشوې کله چې طالبانو د کندز د ښار په لوري یرغلیز بریدونه پیل کړل. په کندز کې د بریدونو په ترڅ کې ، یوناما د ګڼ میشتو سیمو په دننه یا د هغو په شا و خوا کې بریدونه مستند کړې. په دغو نښتو کې افغان امنیتي ځواکونو د هاوان ګولۍ او نوري غیر مستقیمې وسلې کارولي ، افغان ملي اردو هوایي بمباري کړې او دولت ضد عناصرو د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي خښ کړې. دغه راز په جګړو کې ټولو ښکیلو خواوو ملکي تاسیساتو او ښوونځیو ته زیان رسولی دی.

په ګڼ میشتو سیمو کې جګړې ، چې دواړه خواوې غیر مستقیمو وسلو سیستمونه کاروي بې له دې چې د توپیر اصل مراعات کړي ، ملکي کسانو ته ډېر زیانونه رسوي: یوناما ۱۷۶ ملکي تلفات (۳۶ مړینې او ۱۴۰ ژوبلې) د دغو دوو جنګي دورو په ترڅ کې مستند کړي. په دې برسیره ، په کندز کې جګړې نږدې (۳۰۰۰۰) کسان بې ځایه کړل.

حکومت پلوه ځواکونه د ملکي تلفاتو د ۶۴ سلنې مسوول دي (۱۱۳ ملکي تلفات ، ۲۴ مړینې او ۸۹ ژوبلې) او دولت ضد عناصر د ۲۱ سلنه ملکي تلفاتو مسوول دي (۳۶ ملکي تلفات ، ۸ مړینې او ۲۸ ژوبلې) په داسې حال کې چې یوناما ۱۵ سلنه (۲۷ ملکي تلفات ، ۴ مړینې او ۲۳ ژوبلې) د متقابلو ډزو له امله ګڼي.

حکومت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو اکثریت د غیر مستقیمو سیستمونو د وسلو له وجې رامنځ ته شوي لکه هاوانونه ، راکټونه او لاسي بمونه[71]. یوناما په جګړو کې له ټولو ښکیلو خواوو بیا غوښتې چې په ګڼ میشتو سیمو کې د غیر مستقیمو وسلو له کارونې ډډه وکړي.

افغان امنیتي ځواکونو په کندز ښار کې لږ تر لږ څلور ښوونځي او یو بل د امام صاحب په ولسوالي کې د نظامي هدفونو لپاره اشغال کړي وو. یوناما تایید کړې ده چې دوو ښوونځیو په جګړو کې زیان لیدلی دی. د ښوونځیو له اشغال سره ، زده کوونکو اجازه نه درلوده چې د ۱۵ او ۲۰ ورځو لپاره ښوونځیو ته ولاړ شي او یو ښوونځی د دې راپور د لیکلو تر وخته پورې دکندز په ښار کې د نظامي ځواکونو تر ولکې لاندې و. په جګړو کې د ښکیلو خواوو په ذریعه د ښوونځیو اشغال د نظامي تاسیساتو په خیر د افغان ماشومان د تعلیم حق ته سخت زیان رسوي. یوناما په جګړو کې له ښکیلو خواوو څخه غوارې چې د نظامي هدفونو لپاره د ښوونځیو ، کلینیکونو او نورو ملکي تاسیساتو له نیولو څخه ډډه وکړي.

یوناما مشاهده کړې چې د ۲۰۱۵ کال د جنورې د لومړۍ او د جون تر دیرشمې نیټې پورې د فشاري ځای پر ځای شویو د چاودیدونکو توکو له امله په کندز کې ملکي مړینې یا ژوبلې نه دي رامنځ ته کړې. د جون له ۱۵ څخه تر ۳۰ پورې- د ځمکنیو نښتو څخه وروسته- یوناما شپږ ملکي تلفات (دوه مړینې او څلور ژوبلې) مستند کړې چې د دولت ضد عناصرو له خوا د فشاري ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو له وجې رامنځ ته شوي څو د حکومت پلوه ځواکونو خوځښت محدود کړي.

---

[71] غیر مستقیمي وسلې ، لکه هاوانونه ، راکټونه او لاسي بمونه د وسلو ډیر لوړ چاودیدونکي سیستمونه دي چې ګولۍ هغو ځایونو ته اورول کیږي چې هدف په مستقیم ډول د لیدلو ور نه وي. هاوانونه نه شي کیدای داسې رهبري شي چې هدف په مشخص او مستقیم ډول وولي ، او اغیزې یې په پراخه ساحه کې لویږي ؛ که په ګڼ میشتو سیمو کې وکارول شي ، د ملکي تلفاتو اندازه یې زیاته وي.

## افغان ملي امنیتی ځواکونه: له ځمکنیو نښتو څخه ملکي تلفات

*"لطفا هغې ته مه وایاست چې مور یې مړه ده" ۷۲*

-- د یوې لس کلنې نجلۍ خپلوانه چې دا نجلۍ د افغان ملي اردو له خوا د هغې په کور د اورول شوي هاوان ګولۍ په ذریعه ژوبله شوې ، ، د لیژه احمد خیل ولسوالي ، پکتیا ولایت ، ۱۲ اپریل ، ۲۰۱۵. په دې پېښه کې یوه ښځه او یو ماشوم ووژل شول او اته تنه ماشومان ژوبل شول.

د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې ، حکومت پلوه ځواکونو د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې تر ټولو زیات ملکي تلفات اړولي دي. په دغو تلفاتو کې چې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا اوښتي ، ۸۵ سلنه د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې زیاتوالی راغلی چې ۵۸۰ ملکي تلفات (۱۴۳ مړینې او ۴۳۷ ژوبلې) وي.[۷۳]

د حکومت پلوه ځواکونو له خوا ملکي تلفات- په عمده ډول د افغان ملي امنیتی ځواکونو له خوا- د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې د اوښتو ټولو ملکي تلفاتو ۳۷ سلنه جوړوي.

د ډیرې اندېښنې خبره ده چې یوناما ۳۵۲ ملکي تلفات (۹۱ مړینې او ۲۶۱ ژوبلې) په ځمکنیو نښتو کې افغان ملي اردو ته منسوب کړي چې دغه شمیر د ۲۰۱۴ کال په لومړۍ نیمایي کې د افغان ملي اردو له خوا د اوښتو ملکي تلفاتو په پرتله دوه برابره و.[۷۴] حکومت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو ۹۴ سلنه په ځمکنیو نښتو کې د غیر مستقیمو وسلو له وجې رامنځ ته شوي لکه هاوانونه ، راکټونه او لاسي بمونه. د ۲۰۱۵ په لومړۍ نیمایي کې یوناما ۳۳۰ ملکي تلفات مستند کړي (۸۲ مړینې او ۲۴۸ ژوبلې) چې د افغان ملي اردو له خوا د غیر مستقیمو وسلو په ذریعه رامنځ ته شوي او د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۱۳۹ سلنه زیاتوالی څرګندوي.[۷۵] یوناما سپارښتنه کوي چې حکومت پلوه ځواکونه باید نور تدابیر ونیسي چې د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې د ملکي تلفاتو مخنیوی وکړي. په دغسې تدابیرو کې د ډزو په اغیزمن ډول همغږي کول او د وسلو د کارولو جازه اخیستل شاملیږي چې د دولت ضد عناصرو سره د مقابلې په وخت کې د ملکي تلفاتو مخنیوی کوي.

په لاندې ډول د ځمکنیو نښتو څو بیلې برخې یادې شوې چې حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي:

- ۱۰۵ پیښې چې یوازې افغان ملي اردو ته یې نسبت شوی او ۳۵۲ ملکي تلفات (۹۱ مړینې او ۲۶۱ ژوبلې) یې اړولي دي.
- ۱۶ پیښې چې یوازې حکومت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب شوې او ۴۸ ملکي تلفات (۷ مړینې او ۴۱ ژوبلې) یې اړولي دي.
- لس پیښې چې یوازې افغان ملي پولیسو ته منسوب شوې او ۱۸ ملکي تلفات یې اړولي (۴ مړینې او ۱۴ ژوبلې).

[۷۲] د یوه قرباني سره د یوناما مرکه ، پکتیا ولایت ، ګردیز ښار ، اپریل ۱۲ ، ۲۰۱۵.
[۷۳] د ۲۰۱۴ د جنوري د لومړۍ او جون دیرشمې پورې ، یوناما ۳۱۰ ملکي تلفات (۱۰۷ مړینې او ۲۰۳ ژوبلې) مستند کړي چې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا په ځمکنیو نښتو کې رامنځ ته شوي.
[۷۴] د ۲۰۱۴ د جنوري د لومړۍ او جون دیرشمې پورې ، یوناما ۱۵۴ ملکي تلفات (۴۹ مړینې او ۱۰۵ ژوبلې) مستندي کړي چې افغان ملي اردو ته منسوبیږي.
[۷۵] د ۲۰۱۴ د جنوري د لومړۍ او جون دیرشمې پورې ، یوناما ۱۳۸ ملکي تلفات (۴۰ مړینې او ۹۸ ژوبلې) مستندي کړي چې د افغان ملي اردو له خوا غیر مستقیمو ډزو ته منسوبیږي.

- دري پیښې چې محلي پولیس ته منسوبې شوي او ۸ ملکي تلفات (دوه مړیني او ۶ ژوبلې).

پاتې پیښې او تلفات د افغان ملي امنیتي ځواکونو په ګډو عملیاتو کې رامنځ ته شوي ، د هغو عملیاتو په ګډون چې د حکومت پلوه وسله والو ډلو سره یو ځای ترسره شوې دي.

***د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا په ځمکنیو نښتو کې د ملکي تلفاتو بیلګې***

- د اپریل په ۱۲مه ، دولت ضد عناصرو د کاپیسا ولایت د تګاب په ولسوالي کې د افغان ملي اردو یو کاروان تر برید لاندې ونیو. په دې نښته کې ، افغان ملي ادرو له نږدې اډې څخه د هاوان ګولۍ و توغولې ، چې په یوه ملکي کور ولګیدلې او ۱۷ تنو ملکي وګړو ته یې تلفات واړول (اوه تنه مړه: درې ښځې او څلور ماشومان او لس تنه ټپیان شول چې درې تنه یې د خاپوړو ماشومان وو.)
- د مارچ په ۲۳مه ، افغان ملي اردو د بادغیس ولایت بالامرغاب په ولسوالي کې څو نور ي پوستې ځای پر ځای کړې. دولت ضد عناصرو پخوانۍ پوستې ونیولې اوپه افغان ملي اردو یې برید وکړ. په دې ځمکنۍ نښته کې ، افغان ملي اردو څو د هاون ګولې و اورولې چې ۹ ملکي تلفات (درې وژنې ، یوه ښځه او شپږ تنه ټپیان دي چې درې یې ښځې او یو هلک و) یې واړول.

## دولت ضد عناصر: له ځمکنیو نښتو څخه رامنځ ته شوي ملکي تلفات

*"د سهار ۸:۴۵ وې چې د کور خوا ته روان وم. ما ولیدل چې طالب جنګیالیو د غره له لوري ، ښایي په ملي اردو د هاوان ګولۍ و ویشتلې. څو ګولۍ په کلي کې زما د ګاونډي پر کور ولګیده. لږ وروسته زه او نور کلیوال د هغه کور ته ورغلو ، هلته موږ د ده د دوو ماشومانو جسدونه ولیدل چې عمرونه یې اووه او یوولس کاله وو. دې چاودنې دده څلور لونې او یو بل زوی هم ټپیان کړي وو. ګولۍ په هغه وخت کې ولګیده چې ټول ماشومان په کور کې وو. زما ګاونډي او دده ښځه بهر په کرونده کې وو. که داسې نه وای ټوله کورنۍ به تباه شوې وای." ۷٦*

-- د طالبانو له خوا د هاوان د ګولۍ د ویشتلو شاهد چې د ملي اردو په یوې پوستې یې د کنړ ولایت په وټه پور ولسوالي کې د مارچ په ۲۰مه اورولې وې او دوه تنه ماشومان یې و وژل او یینځه نور یې ټپیان کړل. طالبانو دغه مسوولیت په خپله ویب پاڼه کې منلی دی.۷۷

د ۲۰۱۵ د جنورۍ له لومړۍ د جون تر دیرشمې نېټې پورې ، یوناما ۵۱۲ ملکي تلفات (۱۳۷ مړیني او ۳۷۵ ژوبلې) دولت ضد عناصر ته منسوب کړي دي چې په ځمکنیو نښتو او بریدونو کې اوښتي او د ۲۰۱۴ کال[۷۸] د همدې مودې په پرتله ۴۶ سلنه کموالی جوړوي. لکه څنګه چې په تیرو مخونو کې مو ولوستل ، دغه کموالی په ۲۰۱۴ کال کې د ټاکنیزې پروسې په ضد د طالبانو له خوا له بریدونو سره پرتله شوی.

---

[۷٦] د یوناما مرکه ، جلال آباد ښار ، ننګرهار ولایت ، ۲ جون ، ۲۰۱۵.

[۷۷] وګورئ: http://shahamat-english.com/index.php/news/53517-enemy-posts-come-under-attack-2-injured-in-eastern-kunar

[۷۸] د ۲۰۱۴ د جنوري د لومړۍ او جون دیرشمې پورې ، یوناما ۹۴۰ ملکي تلفات (۲۵۲ مړیني او ۶۸۸ ژوبلې په ځمکنیو نښتو کې دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

د ۲۰۱۵ کال په ترڅ کې ، یوناما مشاهده کړل چې د طالبانو له خوا په حکومت پلوه ځواکونو بریدونو په هغه وخت کې ډیر ملکي تلفات درلودل چې دوي په هغو حکومت پلوه ځواکونو برید کړی چې کڼ میشتو سیمو ته یې نږدې پوستې درلودې یا یې ګزمې کولې. یوناما دغه راز ، په ولسوالیو کې په اداري مرکزو نو د برید په وخت کې هم ملکي تلفات مستند کړي دي. که څه هم ، د دولت ضد عناصرو له خوا د ځمکنیو نښتو او بریدونو اکثریت امنیتي ځواکونه تر هدف لاندې نیولي وو ، خو یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا داسې ځمکنۍ نښتې هم مستندې کړې چې ملکي کسان یې په عمدي ډول په نښه کړي لکه په ملکي حکومتي ادارو یا نورو ملکي تاسیساتو باندې د ځمکنیو جګړو په ترڅ کې بریدونه.[۷۹]

***د دولت ضد عناصرو له خوا په ځمکنیو جګړو کې د ملکي تلفاتو بیلګې***

- د اپریل په څلورمه طالبانو د فراه ولایت د پشت رود په ولسوالي کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو په یوې پوستې برید وکړ چې په کڼ میشته سیمه کې پرته وه. طالبانو په دې برید کې د هاوان ګولۍ ، راکټونه او درندې وسلې وکارولې. په برید کې څلور تنه ملکي کسان و وژل شول چې دوه تنه یې ښځې او یوه نجلۍ وه او یوه ښځه او دوې نجلې یې ټپیانې کړې. طالبانو د دې برید مسوولیت ومانه ، خو د ملکي کسانو تلفات یې د ملي اردو د څرخیو بریدونو ته منسوب کړل.[۸۰]
- د جون په ۱۰مه ، طالبانو د ننګرهار ولایت د حصارک په ولسوالي کې د ملي امنیتي ځواکونو په پوستو باندې برید وکړ. د راپورونو له مخې له ۸۰ نه تر ۱۰۰ هاوانونه په دې برید کې وکارول شول. څو ګولۍ په ولسوالۍ کې په ملکي کورونو ولګیدې چې دوه تنه ملکي کسان یې و وژل (یو مېره او ښځه) او ۲۳ نور یې ټپیان کړل ، چې اته تنه یې ماشومان وو. طالبانو د دې برید مسوولیت په خپله ویب پاڼه کې منلی دی.

## د دولت ضد عناصرو او حکومت پلوه ځواکونو ترمنځ ځمکنۍ نښتې چې تلفات یې کوم مشخص لوري ته منسوبول ناممکن و[۸۱]

*"زه د فزیک په لوست کې اومه چې سهار مې د توپک اواز واورید. په ښوونځي کې د توپک اواز په ندرت سره اوریدل کیږي ، او هیڅکله دومره نږدې نه و ، موږ دهلیز ته و وتلو. زده کوونکو چیغې وهلې او ځینو ښوونکو هم. یوه ګولۍ زما په لینګي ولګیده او زه ولویدم. له هغه وروسته مې هیڅ په یاد نه دي. ښایي د ګرکۍ له لارې څخه راغلې وي. له ما وروسته په بلې نجلې هم یوه ګولۍ ولګیدله. ښوونځي و نه تړل شو او زده کوونکي په هغه ماسپښین هم ښوونځي ته ولاړل."[۸۲]*

---

[۷۹] وګورئ: د وژنې د جنګي جرم په اړه برخه: د ملکي کسانو هدفي وژنې چې د ملکي کسانو په ضد بریدونه رانغاړي. د ملکي کسانو په ضد بریدونه چې په ځمکنیو نښتو کې پیښ وي د ځمکنیو نښتو په برخه کې راغلي.

[۸۰] یوناما د افغان ملي اردو له خوا د هوایي بمباریو له امله ملکي تلفات په بیله برخه کې اچولي او تصدیق کړي. وګورئ د افغان ملي امنیتی ځواکونو هوایي عملیات

[۸۱] د مسوولیت منسوبونه ، په خاص ډول د هغو ملکی وژنو او ژوبلو په اړه چې د حکومت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ د اوږدو نښتو په ترڅ کې رامنځ ته کیږي خاصې ستونزې او ګواښونه جوړوي. یوناما دې ته خاصه پاملرنه کوي چې دا ډول پیښې تحقیق کړي او په عادي ډول له ډیر شمیر شاهدانو ، قربانیانو او نورو منابعو سره مشورې کوي څو معلومه کړي چې څنګه ملکي کسان چې په جګړو کې ګیر وو وژل شوي یا ژوبل شوي ، دارنګه څو څرګنده کړي چې تر ممکنه حده پورې د قرباني ملکي موقف څنګه و. که چیرې ، د ملکی تلفاتو منسوبونه چې په جګړو کې ګیر وو ، ممکنه نه وي ، یوناما پیښې حکومت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو دواړو ته په جلا کتګوري کې منسوبوي: حکومت پلوه ځواکونه/دولت ضد عناصر.

[۸۲] د یوناما مرکه ، شبرغان ، جوزجان ولایت ، ۲۱ اپریل ، ۲۰۱۵.

-- ۱۸ کلنه ښځینه زده کوونکې چې د جوزجان ولایت د شبرغان په ولسوالي کې د ملي پولیسو او دولت ضد عناصرو ترمنځ په متقابلو ډزو کې د اپریل په ۱۵مه ټپي شوه. دولت ضد عناصرو د تیلو په یوه کاروان برید وکړ او ملي پولیسو ځوابي ډزې وکړې.

د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې ، ګڼ میشتو سیمو ته نږدې نښتو په پرلپسې ډول ملکي تلفات اړولي دي. د ۲۰۱۵ د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د جون تر دیرشمې پورې ، یوناما ۴۷۰ ملکي تلفات مستند کړي (۹۳ مړینې او ۳۷۷ ژوبلې) چې د حکومت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصر ترمنځ د ځمکنیو نښتو په ترځ کې رامنځ ته شوي ، چې د تلفاتو منسوبول یوې مشخصې خوا ته نا ممکن و. دغه شمیر د ۲۰۱۴ کال د لومړۍ نیمایي په پرتله ۲۸ سلنه کموالي ښکاره کوي[۸۳] چې په عمومي ډول د ځمکنیو نښتو په ترځ کې د ملکي تلفاتو له کموالي سره سم دي.

***د حکومت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ د ځمکنیو نښتو په ترځ کې د ملکي تلفاتو بیلګې چې منسوبول یې یوه لوري ته نا ممکن و:***

- د مۍ په ۱۱مه ، طالبانو د افغان ملي امنیتي ځواکونو په ګډو عملیاتو برید وکړ چې افغان ملي ځانګړي ځواکونه ، ملي پولیس ، د ملي امنیت اداره او حکومت پلوه وسله وال ځواکونه په کې شامل وو ، چې د جوزجان ولایت د آقچې په ولسوالي کې یې چانیز عملیات ترسره کول. دواړو خواوو سپکې او درندې وسلې لکه هاوانونه چې ۱۲ ملکي تلفات (یو هلک مړ او ۱۱ ملکیان ټپیان شول چې دوې ښځې او درې ماشومان وو). د جګړو د شدت له امله ، دا تشخیصول شوني نه وو چې معلومه شي کومه خوا د تلفاتو لامل ګرځیدلې دی.
- د مۍ په ۲۴مه ، دولت ضد عناصرو د غزني ولایت د خوګیانیو په ولسوالي کې په ګڼ میشتو سیمو کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو په پوستو باندې د سپکو وسلو ، راکټي بمونو او هاوانونو په ذریعه برید وکړ. د ډزو د تبادلې په پایله کې ۱۲ ملکیان ټپیان شول چې شپږ تنه ښځې او درې ماشومان وو. د نښتو د شدت له امله ، شوني نه وه چې تلفات کوم لوري ته منسوب شي.

## په ګڼ میشتو سیمو کې د هاوانونو او راکټونو بریدونه

د هاوان ګولیو اته تنه ماشومان د غزني په ښار کې ، چې د واده مراسمو ته تللي وو ، و وژل

د جون په ۵ ، د افغان امنیتي ځواکونو د ګډو عملیاتو په ترځ کې ، افغان ملي اردو د غزني ولایت ، غزنی ښار ته څیرمه نږدې لس د هاوان ګولۍ و ویشتلې ، یوه ګولۍ د غزني ښار په شاو خوا کې په یوه کلي کې په یوه کور ولګیده چې د واده مراسم په کې ترسره کیدل. چاودنې ۸ هلکان و وژل چې عمرونه یې د ۸ او ۱۴ کلونو په منځ کې وو او لس تنه یې ټپیان کړل چې ۹ یې هلکان وو.

افغان امنیتي ځواکونو او حکومت د دې پیښې په اړه متضاد بیانونه ورکړي دي. په رسنیو کې د والي او د هغه د ویاند له قوله ویل شوي چې یو موټر چې له یوه واده څخه راګرځیدلې پر ځای پر ځای شوی چاودیدونکو توکو ختلي.۸۴ له یوناما سره په

---

[۸۳] د ۲۰۱۴ د جنوري د لومړۍ او جون دیرشمې پورې ، یوناما ۶۵۲ ملکي تلفات (۱۷۴ مړینې او ۴۷۸ ژوبلې د حکومت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ د ځمکنیو نښتو په ترځ کې ، چې منسوبونه یې یوې خوا ته ممکنه نه وه ، مستند کړي.

[۸۴] وګورئ: عادل ، میرویس ، اووه تنه ووژل شول ، کله چې چاودنې په غزني کې د واده د مراسمو وسیله په نښه کړه. خامه خپرونې ، ۵ جون ، ۲۰۱۵: پته: http://www.khaama.com/7-killed-as-explosion-targets-vehicle-of-wedding-guests-in-ghazni-1173 او ۷ تنه د واده میلمانه په غزني کې د سړک د غاړې د چاودنې له امله ووژل شول ، پژواک افغان نیوز ، پته: http://www.pajhwok.com/en/2015/06/05/7-wedding-guests-killed-ghazni-roadside-blast

مباحثه کې د افغان امنیتي ځواکونو متضاد بیانونه ورکړي دي چې د دې پېښې ملامتي د ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکی چاودنې ته منسوبوي چې د ماشومانو د وړونکې نقلیه وسیلې په وړاندې چاودېدلي او دا يې هم ویلي چې یوه چاودېدونکې وسیله په کور کې ځای پر ځای شوې وه او یو تن په تصادفي ډول له هغې سره لګېدلی او په دې ډول تلفات رامنځ ته شوي.۸۵ د ټولنې زیاتو منابعو یوناما ته ویلي چې د ملي اردو یوه افسر چې هغې ساحې ته ورغلی منلې ده چې تلفات د هاوان د ګولۍ له امله رامنځ ته شوي.۸۶ په دې برسېره ، یوناما له ډېرو نورو منابعو سره هم مشورې کړې ، لکه حکومتي چارواکي ، افغان امنیتي ځواکونه ، شاهدان او د ټولنې خپلواکې سرچینې ، او دې پایلې ته رسیدلې چې په کور کې د پټې ځای پر ځای شوي چاودېدونکي وسیلې په ذریعه دغه پېښه نه ده رامنځ ته شوې.

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د راکټونو ، هاوانونو او لاسي بمونو له امله ډېر ملکي تلفات رامنځ ته شوي. یوناما ۸۶۲ ملکي تلفات (۱۸۸ مړینې او ۶۷۴ ژوبلې) مستند کړي چې په جګړو کې د بشکیلو خواوو له خوا د دا ډول وسلو له کارولو څخه راپیدا شوي. که څه هم ، دغه شمیر د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۴ سلنه کموالي ښکندوي ،[۸۷] هاوانونو ، راکټونو او لاسي بمونو د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمايي کې په افغانستان کې د ملکي تلفاتو د ټول شمیر ۱۸ سلنه جوړوي.

یوناما ۵۹ سلنه د ملکي تلفاتو (۵۱۰ ټول ملکي تلفات ، ۱۱۸ مېرنې او ۳۹۲ ژوبلې) د هاوان ګولیو ، راکټونو ، او لاس بمونو ته منسوبې کړې چې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا کارول شوي[۸۸] او ۳۴ سلنه ( ملکي تلفات۲۹۵- ۵۹ مړینې او ۲۳۶ ژوبلې) دولت ضد عناصرو ته منسوبوي ؛ پنځه سلنه (۴۲- پنځه مړینې او ۳۷ ژوبلې) هیڅ لوري ته نه شوای منسوبیدای ؛ او پاتې ۲ سلنه (۱۵ تلفات-شپږ مړینې او ۹ ژوبلې) د سرحد د هغه خوا د دزو د تبادلې له امله بولي.[۸۹]

د یوناما د ۲۰۱۴ په نیمايي او کلنې راپورونو کې چې په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه يې خپاره کړي ، دې احتمال ته اشاره شوې چې د افغان امنیتي ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې د هاوانونو ، راکټونو او لاسي بمونو د کارولو له امله د جګړو ساحې په نا چاودو چاودېدونکو توکو سره ککړې کېږي. یوناما دا اندېښنه بیا تکرار کړې چې افغان امنیتي ځواکونه داسې پالیسي یا طرز العمل نه لري چې له مخې يې دوی له ځمکنیو نښتو څخه وروسته ساحه له ناچاودو توکو څخه نښاني کړي او هغه پاکه کړي.[۹۰]

د بشرپالنې نړیوال قانون حکم کوي چې د نظامي عملیاتو په جریان کې ټولې هڅې باید وشي چې ملکي خلک دجګړو له ورانیو څخه وژغورل شي او ټول احتیاطي تدابیر باید ونیول شي چې ملکي خلک له زیان ، ژوبلې یا مرګ څخه وساتل شي.[۹۱] یوناما په

[۸۵] له افغان ملي پولیسو ، ملي اردو او ملي سرحدي پولیسو سره د یوناما ټیلفوني مرکه د ۲۰۱۵ کال د جون د ۶ او ۸ ترمنځ.
[۸۶] همدا ماخذ
[۸۷] د ۲۰۱۴ د جنوري د لومړۍ او جون دیرشمې ترمنځ ، یوناما ۸۹۸ ملکي تلفات مستند کړي (۲۰۴ مړینې او ۶۹۴ ژوبلې چې د هاوانونو ، راکټونو او لاسي بمونو په ذریعه ټولو خواوو ته منسوبې دي.
[۸۸] له هاوانونو ، لاسي بمونو او راکټونو څخه راپیدا شوي ملکي تلفات چې حکومت پلوه ځواکونو ته يې نسبت شوی ، یوناما ۱۱۷ پېښې افغان ملي امنیتی ځواکونو (د هغو عملیاتو په کډون چې د حکومت پلوه وسله والو او نړیوالو ځواکونو په ګډون شوي) ته منسوبوي او ۶ پېښې حکومت پلوه وسله واله ځواکونو ته منسوبوي.
[۸۹] وګورئ: د پولې دواړو خواوو ته د نښتې برخه
[۹۰] د دفاع وزارت له چارواکو سره مرکه ، کابل ، ۱۲ می ، ۲۰۱۵
[۹۱] وګورئ: ۱۳ ماده د ژنیو د توافقاتو د ۱۲ اګست ۱۹۴۹ کال دوهم الحاقیه پروتوکول او غیر بین المللي وسله واله جګړو کې د قربانیانو ساتنه (II پروتوکول) ۸ جون ، ۱۹۷۷.

دې ټینګار کوي چې دولت ضد عناصر د طالبانو په ګډون باید تدابیر ونیسي چې په نا چاودو توکو ککړې ساحې نښاني او پاکې کړي.

یوناما یادونه کوي چې نه افغان ملي امنیتي ځواکونه او نه دولت ضد عناصر ، د طالبانو په ګډون په هیڅ مورد کې مسوولیت نه دي منلی چیرې چې ملکي کسان په قصدي ډول تر هدف لاندې نیول شوي او بې تشخیصه بریدونو له امله زیانمن شوي وي یا په داسې موارد و کې چې ځواکونه نه دي توانیدلي څو احتیاطي تدابیر ونیسي او د غیر مستقیمو وسلو په ذریعه ملکي کسان له زیان څخه بچ کړي.

***د ملي اردو له خوا د هاوان د ګولیو په وړاندې چې ۸۳ ملکي تلفات (۲۹ ښځې او ماشومان ووژل شول او ۵۳ ملکي کسان ټپیان شول) یې د هلمند ولایت د سنګین په ولسوالي کې د ۲۰۱۴ د دسمبر په ۳۱ واړول ، د احتساب نشتوالی***

له هغه وروسته چې ملي اردو د ۲۰۱۴ کال د دسمبر په ۱۳مه د هلمند ولایت د سنګین په ولسوالي کې د واده په مراسمو د هاوان برید وکړ او ۲۰ ماشومان او ۹ ښځې یې و وژلې او ۳۷ نور ماشومان ، نهه ښځې او اته تنه سړي یې ټپیان کړل ، د راپورونو له مخې ، ملي اردو له خپلې پوستې څخه دوه تنه کارمندان ونیول چې هاوانونه یې اورولي وو او تحقیقات یې پیل کړل.

له هغه وروسته ، یوه پلاوي چې د ملي دفاع وزارت ، د کورنیو چارو د وزارت او د ملي امنیت د ریاست له کارمندانو څخه ترکیب شوی و ، ساحې ته ولاړل چې تحقیقات وکړي. دوی دې پایلې ته ورسیدل چې په کور کې د واده د مراسمو په وخت کې یوه وسیله چې له ناچاودو توکو څخه ډکه وه بې وخته و چاودېدله. د راپورونو له مخې دوی د ملي اردو د ځینو قوماندانانو او پرسونل د تبدیلۍ سپارښتنه وکړه ، خو د دې پیښې د پېښیدلو هیڅ ډول مسوولیت یې نه دی منلی. د ادعا له مخې ، د دوی سپارښتنې په دې ضرورت چې په ولسوالي کې د ملي اردو د هغو کارمندانو د خدمت د مودې نوبت مراعات شي چې د زیات وخت لپاره هلته پاتې وو او د ځایي خلکو د غوښتنو پر بنسټ ولاړې وې. د راپورونو له مخې ، ملي اردو دوه تنه  خوشې کړي چې د تحقیقاتو لپاره نیول شوي وو. د تحقیقاتو پایلې نه دي ښکاره شوي.۹۲

یوناما له شاهدانو ، افغان ملي امنیتی ځواکونو او د ټولنې او قومی مشرانو سره په مرکو کې تایید کړې چې ملکي تلفات د هاوان د ګولیو له امله رامنځ ته شوي. هیڅ یوې منبع و نه ویل چې په دې حادثه کې د دولت ضد عناصرو ته تلفات اړول شوي وي. په دې برسیره ، یوناما یادوي چې د پیښې په وخت کې ملي اردو منلې ده چې دوی هغه هاوانونه ویشتلي و چې د واده په کور کې ولګیدل خو ادعا یې کوله چې په دې وخت کې په هغه ساحه کې وسله والې ښتې روانې وې.۹۳

د تیرو خبرو په رڼا کې ، یوناما په افغان چارواکو غږ کوي چې د پیښې په اړه نوي ، هر اړخیزه او شفافه څیړنه پیل کړی او د هغو کسانو سره چې مسوولین دي حساب وشي ، که چیرې د بشرپالنې د نړیوال قانون یا د بشري حقونو د نړیوال قانون څخه سرغړونه تایید شي.

یوناما په جګړو کې په ټولو ښکیلو خواوو غږ کوي څو یقینی کړي چې د غیر مستقیمو وسلو د کارولو په اړه چې ملکي تلفات اړوی په سملاسي او بې طرفه ډول تحقیقات وشي. دا ډول تحقیقات باید یقیني کړي چې موضوع په مناسب ډول باید تعقیب شي ، په

[92] د دفاع وزارت له چارواکو سره مرکه ، توحید ، پخوانی د معلوماتو د همغږي ولسمشریز دفتر ، کابل: کابل ولایت ، ۱۷ جون ، ۲۰۱۵. وګورئ په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې کلنی راپور ، یوناما ۸- ۹ مخونه.

[93] وګورئ: په وسله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه راپور ، مخ ۳۶- ۳۷ ، د زیاتو معلوماتو لپاره.

دې ډول چې یا له زده شویو سبقونو څخه زده کړه وشي څو پالیسي او طرز العملونه یا د فعالیت قواعد بهتر شي یا که چیرې لازمه وي دسپلیني یا جنایي اقدام وشي.

د بشرپالنې د نړیوال قانون په جګړو کې له ښکیلو خواوو غواړي ، د طالبانو او د افغان ملي امنیتي ځواکونو په ګډون ، چې د ملکي کسانو او ملکي شیانو د ساتنې لپاره ټول ممکن احتیاطي تدابیر ونیسي څو هغوی د جګړو له اغیزو څخه وژغورل شي. په داسې تدابیرو کې ملکیانو ته وار د مخه خبرداری ، د جګړو لپاره د مناسبو طریقو اختیارول ، او ګڼ میشتو سیمو ته نږدې د نظامي هدفونو له په نښه کولو څخه ډډه کول ، شامليږي.[94]

یوناما یو ځل بیا په ټولو ښکیلو خواوو غږ کوي چې ګڼ میشتو ملکي سیمو ته د هاوانونو او لاسي بمونو له ویشتلو څخه ډډه وکړي او له دوي څخه غوښتنه کوي چې د جګړو او د غیر مستقیمو وسلو د کارولو قواعد او طرز العملونه تر بیا کتنې لاندې ونیسي. د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندې د دوي د مسوولیت سره سم ، مخکې له دې چې غیر مستقیمې وسلې وکاروی لکه هاوانونه ، راکټونه او لاسي بمونه ، په جګړو کې ښکیلې خواوې مسوولیت لري لاندې کارونه ترسره کړي څو ملکي تلفات حد اقل ته راټیټ شي: په جګړو کې د وسلو اغیزې ، هغه نظامي دنده چې وسله یې باید اجرا کړي او د دې دوو فکتورونو ترمنځ انډول.[95]

***د ذوالفقار عملیات***

د فبروري په نهمه ، افغان ملي امنیتی ځواکونو د هلمند په شمال کې د ذو الفقار عملیات پیل کړل. دغه عملیات له ۲۰۰۱ راهیسي په خپلواک ډول تر ټولو د لویې کچې عملیات وو. عملیاتو د سنګین په ولسوالي زور واچاوه او د اپریل تر اتمه یې دوام وموند.۹٦

یوناما ۶۵ ملکي تلفات (۱۶ مړینې او ۴۹ ژوبلې) په سنګین ولسوالي کې د عملیاتو په دوران کې مستند کړي ، چې ۴۸ سلنه دولت ضد عناصرو او ۳۷ سلنه یې حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي او پاتې ۱۵ سلنه د دواړو خواوو ترمنځ متقابلو ډزو ته منسوب ګڼلې. زیاتره ملکي تلفات د هاوانونو او نورو درندو وسلو له امله رامنځ ته شوي ، که څه هم یوناما داسې ملکي تلفات هم مستند کړي چې د دولت ضد عناصرو له خوا د ایښودل شویو ناچاودو توکو او نا انډوله تروریستي بریدونو له امله رامنځ ته شوي. د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې افغان ملي امنیتي ځواکونو له یوناما سره په مرکو کې ویلي چې حکومت پلوه ځواکونو د ذوالفقار عملیاتو په ترڅ کې د هیڅ ډول ملکي تلفاتو لامل نه دي ګرځیدلي.۹۷

یوناما تایید کړې چې افغان ملي امنیتي ځواکونو په قسمي  ډول د ملکي کسانو کورونه ویجاړ کړي یا یې د هغو ۵۰ سلنه په قسمي ډول تخریب کړي ، هیڅ یوې خوا نه شو کولای د افغان امنیتي ځواکونو له خوا د ملکیتونو د ویجاړولو قانوني بنسټ وښيي.۹۸ محلي چارواکو۹۹ او ملکي خلکو ۱۰۰ شکایت درلود چې د ملکیتونو د ویجاړتیا لپاره هیڅ ډول د خسارې د جبران

[94] قواعد ۲۲ ، ۲۳ ، ۲۴ ، د بریدونو د اغیزو په وړاندې احتیاطي تدابیر ، آی سی ار سي د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون ، لومړی ټوک ، قواعد ، ایډیت ، ژان ماری هینګاریټس ، او لوویز دوسوالدبیک (کیمبریج ۲۰۰۵).

[95] وګورئ: ۲/۶ ، ۲/۶ -۱ برخې: د لارښوونې او تطبیق اصول ، وسلې ، د وسله والې جګړې د قانون درسي کتاب ، بریتانیا ، د دفاع وزارت ، اکسفورډ پوهنتون چاپ ، اکسفورد ۲۰۰۴.

[96] د کورنیو چارو وزارت له چارواکو سره مرکه ، کابل ، ۱۴ اپریل ، ۲۰۱۵.

[97] د کورنیو چارو وزارت له چارواکو سره مرکه ، کابل ، ۷ اپریل ، ۲۰۱۵ او ۲۱ مۍ ۲۰۱۵ او د دفاع وزارت له چارواکو سره مرکه ، کابل ، ۱۷ جون ، ۲۰۱۵.

[98] د والي له مرستیال سره د یوناما مرکه ، هلمند ولایت ، لشکرګاه ، ۶ اپریل ، ۲۰۱۵ ، د یوناما مرکه د کورنیو چارو وزارت له امنیتي مرستیال سره ، کابل ۷ اپریل ، ۲۰۱۵ ، د یوناما مرکه د کورنیو چارو وزارت له اپراتیفي مشر سره ، کابل ۲۱ مۍ ، ۲۰۱۵.

میکانیزم نشته. د ملي امنیتي ځواکونو له خوا د لومړني مستقل پلان شوي[۱۰۱] برید په څیر ، د ذوالفقار علمیاتو افغان ملي ځواکونو ته دا فرصت ورکړ څو په داخل کې داسې تدابیر تقویه کړي چې د ملکي تلفاتو د زیاتوالي مخنیوی وکړي. لکه په ملکي کسانو باندې د دوي د عملیاتو د اغیزو ارزونه که څه هم یوناما تایید کړې چې دولت ضد عناصرو ذوالفقار په عملیاتو کې زیات ملکي تلفات اړولي ، افغان امنیتي ځواکونو هم په عملیاتو شکاره بیا کتنه نه ده کړې او ویلي یې دي چې دولت ضد عناصر د ټولو ملکي تلفاتو سبب ګرځیدلي.[۱۰۲]

یوناما د افغانستان په حکومت غږ کوي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د نظامي عملیاتو یوه خپلواکه او شفافه بیا کتنه تضمین کړی څو یقیني کړي چې ملکي کسانو او ملکي شتمنیو ته د زیان کچه راټیټه شي او د متاثره شویو ملکیانو لپاره د خسارې د قانوني جبران تدابیر ونیول شي.

یوناما سپارښتنه کوي ، چې ملي پالیسي چې د ملکي تلفاتو د کمولو لپاره طرح شوې وي ، باید ژر تر ژره پلې شي ( لاندې وګورئ : حکومت پلوه ځواکونه او د ملکیانو ساتنه).

[۹۹] د والي له مرستیال سره د یوناما مرکه ، هلمند ولایت ، لشکرګاه ، ۶ اپریل ، ۲۰۱۵.

[۱۰۰] د سنګین او نادعلي د ولسوالیو له ملکی کسانو سره د یوناما تیلفوني مرکې ، مارچ او اپریل ، ۲۰۱۵.

[۱۰۱] د ۲۰۱۵ د جګړو له موسم څخه مخکې ، افغان ملي امنیتی ځواکونو خپلو شدیدو عملیاتو ته ادامه ورکړه او د هلمند ولایت په شمال کې په ۲۰۱۵ کې تر ټولو لوی عملیات پیل کړل. د ډګروال عبد الخالق چې رییس ارکان هم و په مشري ، افغان ملي امنیتی ځواکونو مشترک عملیات د هلمند په شمال کې پیل کړل څو د یاغیانو ساحې پاکې کړي ، د جنګي موسم لپاره د یاغیانو د تیاري مخنیوی وکړي. دغه عملیات د ملي اردو د ۲۱۵ قول اردو له خوا پلان او رهبري شول ، چې د ۲۰۵ او ۲۰۷ قول اردو له خوا یې ملاتړ کیده ، او د ای ای ایس ایف ، ای ای ایف او افغان ملي پولیسو جز و تامونه ورسره وو. د امریکا د دفاع وزارت په افغانستان کې د امنیت د ټینګښت او ثبات په اړه راپور ، کانګرس ته راپور ، جون ۲۰۱۵ ، مخ ۵ ، پته: http://www.defense.gov/pubs/June_1225_Report_Final.pdf

[۱۰۲] له افغان ملي امنیتي ځواکونو سره د یوناما غونډې او د بریښنالیکونو مکاتبه ، اپریل ۲۰۱۵.

## ۳. دولت ضد عناصر او د ملکي کسانو ساتنه[۱۰۳]

*"زه د کور مخې ته ولاړ وم او لیدل مې چې زیات شمیر خلک د لوبو میدان ته روان دي چې مظاهر وکړي. یو ناڅاپه یوه لویه چاودنه وشوه او هر ځای لوګي ونیو. زه د دیوال شاته پټ شوم. له یو څه وخت وروسته پولیس راغلل او ټپیان او مړي یې راغونډول."۱۰٤*

-- د خوست ولایت د خوست په ښار کې د هغه ځانمرګي برید شاهد چې په هغه کې بریدګر پر ځان پورې ناچاودي توکي تړلي وو چاودنه یې وکړه ۱۹ ملکي کسان یې و وژل (یو هلک) او ۶۱ نور یې ټپیان کړل (۸ تنه هلکان). هیڅ یوې ډلې د دې پیښې مسوولیت نه دی منلی.

د جنوري د لومړۍ څخه د جون تر دیرشمې نیټې پورې یوناما ۳۴۳۶ ملکي تلفات (۱۲۱۳ مړیني او ۲۲۲۳ ژوبلې) چې د دولت ضد عناصرو له خوا د عملیاتو او بریدونو په ترڅ کې راپیدا شوي مستند کړي.[۱۰۵] دغه شمیر د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۳ سلنه کموالی څرګندوي. ملکي تلفات چې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي د ټولو ملکي تلفاتو چې یوناما د ۲۰۱۵ کال د جنوري له لومړۍ څخه د جون تر دیرشمې نېټې پورې ثبت کړي ، ۷۰ سلنه جوړوي.

د ملکي تلفاتو په اړه چې دولت ضد عناصرو ته یې نسبت کیږي ، یوناما لاندې مسوولیتونه په ګوته کړي:

| | |
|---|---|
| ملکي تلفات چې طالبانو یې مسوولیت په ښکاره منلی دی | ۱۰۰۲ |
| ملکي تلفات چې دولت ضد وسله والو ډلو ته منسوب شوي ، لکه طالبان ، د حقاني شبکه ، حزب اسلامي ، چې مسوولیت یې چا نه دی منلی. | ۲۴۳۴ |
| **ټولټال ملکي تلفات چې دولت ضد عناصرو ته یې نسبت شوی** | **۳۴۳۶** |

یوناما ۱۲۰۷ پیښې دولت ضد عناصرو ته منسوبې بولي چې مسوولیت یې نه دی منلی او ۲۴۳۴ ملکي تلفات لري (۹۵۴ مړیني او ۱۴۸۰ ژوبلې)[۱۰۶]

### تاکتیکونه او د پیښو ډولونه چې ملکي کسانو ته دیر زیانونه اړوي

ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي او ځانمرګي بریدونو ګن میشتو سیمو کې او په ټول افغانستان کې د ملکي کسانو په عمدي ډول د په نښه کولو له لارې زیات شمیر ملکي تلفات اړولي چې دولت ضد عناصرو ته یې نسبت شوي.

[۱۰۳] و ګورئ د یوناما له خوا د دولت ضد عناصرو تعریف چې په ۵ شمیره لمن لیک کې وراندی شوی دی.
[۱۰٤] له شاهدانو سره د یوناما تیلفوني مرکه ، کردیز ښار ، پکتیا ولایت ، ۷ اپریل ، ۲۰۱۵
[۱۰۵] د ۲۰۱۴ په لومړیو شپږو میاشتو کې ، یوناما ۳۵۲۸ ملکي تلفات (۱۲۴۲ مړیني او ۲۲۸۶ ژوبلې) ټولو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړی.
[۱۰۶] له دغو پیښو څخه ، سرجینو ۶۵۵ نورې پیښې په طالبانو پورې تړلو قوماندانو ته منسوبې کړې ، چې ۹۷۱ تلفات (۴۶۶ مړیني او ۵۰۵ ژوبلې) یې درلودل.

د ۲۰۱۵ په لومړۍ نیمايي کې یوناما په ملکي تلفاتو کې ۷۸ سلنه زیاتوالی مستند کړی چې نسبت یې دولت ضد عناصرو ته شوی او د ځانمرګو او پیچلو بریدونو له امله رامنځ ته شوي او ۵۷ سلنه زیاتوالی له هدفي وژنو له امله پیښ شوي چې د ۲۰۱۵ په لومړۍ نیمايي کې د ملکي تلفاتو تر ټولو لومړی لامل و.

یوناما په ملکي تلفاتو کې ۴۶ سلنه کموالی مستند کړی چې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی او د ځمکنیو جګړو په ترڅ کې پیښ شوي او ۲۱ سلنه کموالی په هغو ملکي تلفاتو کې مستند کړي چې د ځای پر ځای شویو نا چاودو توکو له امله رامنځ ته شوي. په ملکي تلفاتو کې کموالی چې د دولت ضد عناصرو له خوا د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمايي کې د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې مستند شوي د بریدونو هغه لوړ شمیر ته منسوب شوی چې د ټاکنیزې پروسې وړاندې په ۲۰۱۴ کال د یوناما له خوا مستند شوي. د ۲۰۱۵ په لومړۍ نیمايي کې په ټول هیواد کې ټاکنې نه وې.




یوناما مشاهده کړې چې طالبانو او نورو دولت ضد عناصرو د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمايي کې خپلو تهاجمي بریدونو ته زور ورکړی چې افغان وګړو ته یې ډیر زیان رسولی دی. سره له دې چې د ملکي کسانو په تلفاتو کې په عموم ډول درې سلنه کموالی راغلی ، دولت ضد عناصر د طالبانو په ګډون اوس هم د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ټولو ملکي تلفاتو د ۷۰ سلنې لامل ګرځیدلي. داسې نښې شته چې دولت ضد عناصرو د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې او د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په کارونه کې بدلون را وستي ، چې یوناما د دې یادونه کوي.

د دې بدلونونو سره ، یوناما دغه راز یادوي چې دولت ضد عناصرو د ځمکنیو جګړو په ترڅ کې د ملکي ټولو تلفاتو د ۳۳ سلنې سبب ګرځیدلي او د حکومت پلوه ځواکونو سره په یوه کچه د نورو دیرشو فیصدو ملکي تلفاتو سبب ګرځیدلي چې د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې را منځ ته شوي. په دې برسیره ، ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي چې د دولت ضد عناصرو له خوا خښبیږي. د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمايي کې دوهیم لوی عامل دی چې ملکي تلفات یې اړولي ، په داسې حال کې د ځانمرګو او

پیچلو بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې ۷۸ سلنه زیاتوالی راغلی. هدفي وژنې -۹۴ سلنه یې د یوناما له خوا دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي- دا په ۲۰۱۴ کې د ملکي مړینو یو ستر لامل و. په داسې شرایطو کې ، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي کسانو د تلفاتو په کمولو کې په ځینو برخو کې پرمختګ ویني ، خو د دې یادونه بیا کوي چې ډیر نور څه هم باید وشي چې د دوی د فعالیتونو په ترخ کې ملکي کسان له زیان څخه وژغورل شي ، لکه په سملاسي ډول د ملکي هدفونو په عمدي ډول په نښه کولو بندول ، او له دې سره یوځای د دولت ضد عناصرو له خوا د هغو مسوولیتونو منل چې د بشرپالنې د نړیوال قانون د لاندې یې لري.

## هغه پیښې چې د طالبانو له خوا منل شوي او ملکي تلفات یې لرل

د ۲۰۱۵ په لومړۍ نیمایي کې ، طالبانو په ښکاره ډول د ۲۳۹ پیښو مسوولیت منلي چې ۱۰۰۲ ملکي تلفات (۲۵۹ مړینې او ۷۴۳ ژوبلې) یې لرل چې دغه شمیر په ۲۰۱۴ کې د همدې مودې په پرتله د طالبانو له خوا د منل شویو پیښو په ترخ کې د ملکي تلفاتو ۱۰۵ سلنه[۱۰۷] زیاتوالی دی.

ملکي مړینې او ژوبلې چې د طالبانو له خوا د منل شویو پیښو په ترخ کې رامنځ ته شوي د دولت ضد عناصرو له خوا د ټولو ملکي تلفاتو ۲۹ سلنه جوړوي.[۱۰۸] او ۲۰ سلنه د ټولو ملکي تلفاتو جوړوي.

د طالبانو له خوا د منل شویو بریدونو په پایله کې د ملکي تلفاتو تر نیمایي زیاته برخه د ځانمرګو او پیچلو بریدونو له امله ده چې په ګڼ میشته ملکي ځایونو کې یې ملکي اجناس یا نظامي هدفونه تر برید لاندې نیولي. د طالبانو له خوا په منل شویو بریدونو کې دغه راز د انفرادي ملکي کسانو په عمدي ډول هدف نیونې ، د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو بې توپیره کارول او د طالبانو له خوا په افغان امنیتي ځواکونو باندې د حملو په ترخ کې د ملکي کسانو وژنې یا ژوبلې شاملې دي .

## ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي

*"زه په کلي کې وم چې د چاودنې اواز مې واورید. کله چې زه هغه ځای ته ورسیدم ، ما ولیدل چې د انسانانو د بدن ټوټې هرې خوا ته تیتې وې. ما دوه سرونه ولیدل- یو د ځوان سړي و او بل سر د زاړه سړي و- او یو لینګی مې ولید. د نورو ټولو جسدونو څخه نور څه نه وو پاتې ، یوازې د غوښو ټوټې."* ۱۰۹

-- د غزني ولایت د خوګیاڼي/ولی محمد شهید ولسوالي کې د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي په وسیله د یوې پیښې شاهد ، چې د ۲۰۱۵ د اپریل په ۱۰ وچاودله او ۱۲ ملکي کسان یې و وژل (اته تنه سړي او څلور ښځې) چې په جنازه کې روان وو.

[۱۰۷] ۱۰۵ سلنه زیاتوالي په ملکي تلفاتو کې په هغو پیښو کې چې د طالبانو له خوا منل شوي د دې مانا نه لري چې د طالبانو له خوا د ملکي کسانو مړینې او ژوبلې له دوه برابره څخه زیات وو. احصایي څرګندوي چې د طالبانو له خوا د منل شویو حادثو شمیر زیات وو چې ملکی تلفات یې درلودل. د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې طالبانو په ښکاره ډول د ۲۳۹ بریدونو مسوولیت منلی چې ملکی تلفات یې درلودل ؛ د ۲۰۱۴ په همدې موده کې طالبانو په ښکاره ۱۴۷ بریدونه منلي چې ملکي تلفات یې درلودل.

[۱۰۸] د جنوري له لومړۍ او جون تر دیرشمې پورې ، یوناما ۳۳۹۶ ملکی تلفات دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

[۱۰۹] د فشار د تختې په ذریعه فعالیدونکي د ځای پر ځای شوي چاودیدونکې توکي د حادثې له شاهد سره د یوناما ټیلفوني مرکه ، غزني ښار ، غزني ولایت ، ۱۲ اپریل ، ۲۰۱۵.

د ۲۰۱۲ کال څخه راهیسې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په راپور کې د لومړي ځل لپاره یوناما د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو د کارولو له امله لارې په ملکي تلفاتو کې کمښت ثبت کړ.[۱۱۰] د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د لومړۍ څخه د جون تر ۳۰ نېټې پورې ، یوناما د ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو د کارولو له امله ۱۱۰۸ ملکي تلفات( ۳۸۵ مړیني او ۷۲۳ ژوبلې) مستند کړي دي چې په ټولو ملکي تلفاتو کې د ۲۰۱۴ کال د همدغې مودې په پرتله ۲۱ سلنه کموالی جوتوي.[۱۱۱]




لا هم ځای پرځای شوي چاودیدونکي توکي د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو دوهمه پورته شمیره جوړوي چې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۳ سلنه ده. یوناما په ځانګړې ډول په ملکي تلفاتو کې چې د فشار د لارې فعالیدونکو د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د لارې رامنځته کیږي ، د زیاتوالي له امله خپله اندیښنه ښکاره کوي.

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د کندهار ولایت د ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو د کارولو له امله تر ټولو زیات اغیزمن شوی ولایت و چې وروسته د هلمند ، غزني او ننګرهار ولایتونه دي.

[۱۱۰] د ۲۰۱۲ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه د جون تر ۳۰ نیټې پورې یوناما ۱۰۱۶ ملکي تلفات( ۳۲۷ میرنې او ۶۸۹ ژوبلې) د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو د لارې مستند کړي دي چې د ۲۰۱۱ کال د همدغې مودې په پرتله ۱۹ سلنه کمښت په ډاګه کوي. په وسله واله جګړه کې د ملکیانو دساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۲ نیم کلن راپور ته په ۱۳-۱۵ مخونو کې مراجعه وکړئ.

[۱۱۱] د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه د جون تر ۳۰ نیټې پورې یوناما د ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو تو کو د لارې۱۴۰۷ ملکي تلفات( ۴۷۷ مړیني او ۹۳۰ ژوبلې ) ثبت کړي دي.

**د ملکي کسانو مرګ ژوبله: په سیمه ییزه کچه ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي**
**جنوري- جون : ۲۰۰۹ - ۲۰۱۵**




| | مرکزي سیمه | مرکزي لوړه سیمه | ختیځ | شمال ختیځ | شمال | جنوب ختیځ | جنوب | لویدیځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 21 | 0 | 43 | 3 | 11 | 153 | 397 | 12 |
| 2010 | 80 | 0 | 78 | 37 | 26 | 215 | 610 | 80 |
| 2011 | 24 | 0 | 143 | 98 | 13 | 300 | 471 | 112 |
| 2012 | 77 | 0 | 81 | 73 | 76 | 287 | 315 | 107 |
| 2013 | 65 | 19 | 128 | 32 | 140 | 258 | 610 | 114 |
| 2014 | 139 | 1 | 181 | 51 | 183 | 227 | 486 | 139 |
| 2015 | 82 | 13 | 136 | 135 | 49 | 209 | 434 | 50 |

یوناما د دې یادونه کوي چې د ځای پرځای شویو چاودیدونکو توکو له امله په ملکي تلفاتو کې کموالی حتمي نه ده چې په دې مانا  وي چې ګواکې د دولت ضد عناصر په لږ شمیر کې ځاي پرځاي شوي چاودیدونکی توکي کاروي. د ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو د لارې په تلفاتو کې تر یوه بریده کموالی دې ته راجع کیږي چې د افغان امنیتي ځواکونو قابلیت په دې برخه کې چې ځاي پرځاي شوي چاوېد ونکي توکي کشف او هغه مصوونه کړي زیات شوی دی. د ۵۰۰۰ څخه زیات ځاي پرځاي شوي چاودیدونکي توکي په دې ظرفیت سره چې ګڼ شمیر ملکي زیانونه  یې رامنځته کړي وای د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې پاک شوي دي.[۱۱۲]

[۱۱۲] د ناټو د غوڅ ملاتړ څخه غیر محرم بریښنالیک Rep: UNAMA, Resolute Support Mission Response to UNAMA-Protection of Civilians in Armed Conflict, د ۲۰۱۵ کال د جولای په ۲۹ نېټه رسیدلی.

## د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو ډولونه چې ملکي تلفات رامنځته کوي

د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو د پيښو چې د ملکي تلفاتو لامل کيږي د کره کولو پر مهال يوناما د افغانستان او نړيوالو امنيتي سازمانونو[۱۱۳] سره مشورې کړي دي ، چې په کې د ځاي پرځاي شويو چاوديدونکو توکو سره د مجادلې او د چاوديدونکو توکو د خنثی کولو د ولسواليو ، ولايتونو او د ملي کچو متخصصان شامل دي چې په دې توګه د هغو ځاي پرځاي شويو چاودېدونکو توکو ډولونه چې په مشخص بريد کې کارول شوي دي کتګوري شي. يوناما د ځاي پرځاي شويو چاوديدونکو توکو کتګورۍ د هغه اساسي ميتود له مخې چې ورته چاودنه ورکول کيږي معلوموي[۱۱٤] ، چې په کې د قرباني له خوا فعاليدونکي ځاي پرځاي شوي چاوديدنکي توکي ، له لېرې څخه کنټروليدونکي چاوديدونکي توکي ، د دستور په ذريعه فعاليدونکي ځاي پرځاي شوي چاوديدونکي توکي ، او د انتحاري شخص له خوا ځاي پرځاي شوي چاوديدونکي توکي شامل دي.[۱۱۵] په افغانستان کې تر ټولو عام د قرباني د تماس سره فعاليدونکي ځاي پرځاي شوي چاوديدونکي توکي او د فشار ذريعه فعاليدونکي ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي[۱۱٦] دي. په داسې حال کې چې يوناما مقناطيسي ځاي پرځاي شوي چاوديدونکي توکي په جلا توګه ثبتوي ، هغه په تخنيکي لحاظ له لېرې څخه د کنټروليدونکو چاوديدونکو توکو يوه فرعي کتګوري ده. د ځاي پرځاي شويو چاوديدونکو توکو ماشې د نوعيت د تعريف لپاره د اصطلاحاتو په برخه کې وګورئ.

## په ملکي ګڼ ميشته سيمو کې د ځاي پرځاي شويو چاوديدونکو توکو د لارې پر نظامي هدفونو بريدونه

يوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ځاي پرځاي شويو چاوديدونکو توکو د پرلپسې کارولو له امله چې په کې د ملکي وګړو ګڼه ګونه وي پرته له دې چې د دغو توکو بې توپيره او غير متناسبې پايلې چې پر ملکيانو يې لرې په پام کې ونيولې شي افغان امنيتي ځواکونه هدف نيول کيږي چې په دې کې بازارونه ، د ښارګوټو او ښارونو مرکزي ساحې ، جوماتونه او روغتونونو ، ښوونځيو ته نږدې ځايونه شامل دي. د ۲۰۱۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې يوناما د ځاي پرځاي شويو چاوديدونکو توکو د بريدونو په پايله کې ۸٤٦ ملکي تلفات( ۲۹۸ مړيني او ۵٤۸ ټپي کېدنې) ثبت کړي دي چې ښايي افغان امنيتي ځواکونه يې هدف ګرځولي وو- چې د ا د ۲۰۱۴ کال[۱۱۷] دهمدې مودې په پرتله اوه سلنه زياتوالی په ډاګه کوي.

لاندې هغه دوه بيلګې دي چې په کې د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي وګړو د ګڼې ګونې په سيمو کې ځاي پرځاي شوي چاوديدونکي توکي کارول شوي دي:

[۱۱۳] د نورو تر منځ د کابل د ولايت د کابل په ښار کې د ځاي پرځاي شويو چاودېدونکو توکو سره د مبارزې د افغان ملي اردو د مشر سره د ۲۰۱۵ کال د جون په ۴ نېټه د يوناما مرکه.

[۱۱٤] يو ځاي پرځاي شوی چاودېدونکی توکی د فعالونکي سيستم له لارې چول کيږي او يا يې هم ماشه فعاليږي ، چې هغه کېدلای شي د فشار تخته ، موبايل ټيليفون ، راديو ، ټايمر ، او يا هم هغه سيم وي چې په فزيکي لحاظ ددغه توکي سره وصل شوی وی وي. وګورئ د کنټرول شويوځاي پرځاي شويو چاوديدونکو توکو د پوهېدنې لپاره تنظيمونکی ، د ملکی-نظامي فيوژن مرکز (سي ايف سي) ، د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو د اساساتو پوهېدنه ، سپټمبر ۲۰۱۱، په : http:// www.cimicweb.org?counterIED/20110912_C-IED_Topical_Report_Introduction_to_IEDs20-%20draft%20final%5B1%5D.pdf, accessed 8 june 2014.

[۱۱۵] د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو د ډولونو د تعريف او تشريح لپاره اصطلاحاتو ته مراجعه وکړئ.

[۱۱٦] د فشار د تختې په ذريعه فعاليدونکي ځاي پر ځای شوي چاوديدونکي توکي په عمومي صورت د قرباني په ذريعه فعاليدونکي بمونه دي او هغه مهال چوي کله چې يو شخص او يا هم يوه نقليه وسيله ورباندې تيره شي. دغه ډول د فشار د تختې په ذريعه فعاليدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي بې توپيره او ناقانونه وسلې دي.

[۱۱۷] د ۲۰۱۴ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې يوناما ۷۸۹ ملکي تلفات ( ۲۲۹ مړينې او ۵٦۰ ژوبلې) د افغان ملي امنيتي ځواکونو پر خلاف د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو د بريدونو په پايله کې ثبت کړي دي.

- د اپریل په څلورمه ، د بغلان ولایت د پلخمري په ښار کې له لېرې څخه کنترولیدونکی ځاي پرځای شوی چاودیدونکی توکی چې هلته د افغان ملي اردو تیریدونکی کاروان یې هدف ګرځولو. وچاودېد چې پنځه ملکیان یې د دیوې ښځې او یوې نجلۍ په شمول و وژل او اوه تنه نور یې د یو هلک په ګډون ټپیان کړل.
- د مارچ په ۳۱ مه نېټه ، د لوګر د ولایت د محمد آغې په ولسوالۍ کې یو مقناطیسي ځاي پرځاي شوی چاودېدونکی توکی د افغان ملي اردو د یوې نقلیه وسیلې په وړاندې وچاودېد چې په بله نقلیه وسیله کې سپاره شپږ تنه ملکي نارینه یې ژوبل کړل. طالبانو د پېښې مسوولیت منلی دی.[118]

## د ځاي په ځای شوي چاودیدونکو توکو د فرعي تاکتیک په اساس د ملکي وګړو مرګ ژوبله
## جنوري - جون ۲۰۱۵




### *فشاري ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو د لارې په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی*

د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د لومړۍ څخه تر جون د ۳۰ نېټې پورې ، یوناما فشاري ځاي پرځاي شویو نا قانونه چاودېدونکو توکو ۲۴۲ پیښې مستندې کړي دي چې ملکي وګړي په کې وژل شوي او یاهم ټپي شوي دي. فشاري ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو ۵۰۶ ملکي تلفات( ۲۵۱ ملکي مړینې او ۲۵۵ژوبلې ) رامنځته کړي دي ، چې د ۲۰۱۴ کال[119] دهمدې مودې په پرتله ۳۸ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.

د فشاري ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو د کارولو زیاتوالی د دولت ضد عناصرو له خوا د دغو توکو د دفاعي وسیلو په توګه د کارولو د ډېریدو له امله دی چې د ځمکنیو نښتو څخه تر مخه ، د هغو په جریان کې او یا هم له هغو وروسته د افغانستان د

[118] وګورئ: http://shahamat-english.com/index.php/news/53744-bombing-in-logar-leaves-two dead
[119] د ۲۰۱۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یوناما ۳۶۸ ملکي تلفات ( ۲۰۷ مړینې او ۱۶۱ ژوبلې) د فشار د تختې په ذریعه د فعالیدونکو توکو له امله ثبت کړي دي.

امنیتي ځواکونو د پرمختګ مخنیوی وکړي. په مشخص ډول یوناما ۸۶ ملکي تلفات ( ۵۱ مړینې او ۳۵ ټپي کېدنې ) مستند کړي دي — دا په ملکي تلفاتو کې د ۲۰۱۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله ۱۵۳ سلنه زیاتوالی دی- چې د فشاري ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو له امله د غزني په ولایت کې را منځته شوی دی چې دغه توکي د افغان امنیتي ځواکونو د پلان شوو عملیاتو څخه تر مخه ځاي پر ځاي شوي وو. د فشاري چاودېدونکو توکو دغه ډول کارول په افغانستان ۱۲۰ کې غیر قانوني دي او کېدلای شي چې د بشر پالنې د نړیوال قانون څخه په سرغړونو کې راشي او هغه دا چې د دغې وسیلې اغیزې تر هغه بریده محدودې پاتې نه شي چې د بشر پالنې نړیوال قانون یې غوښتنه کوي.

یوناما د زیاتو ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو چاودنې د ملکي وګړو په کرهنیزو ساحو ، د پلیو پر لارو ، عامو سړکونو او نورو هغو ملکي ساحو کې چېرته چې ملکیان تګ راتګ لري ثبتې کړي دي.۱۲۱ دغو ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو ملکي وګړي هغه مهال وژلي او معیوب کړي کله چې هغوي د ژوندانه د چارو د ترسره کولو په موخه د کوره وتلي ، د کلیو تر منځ یې سفر کړی او یا هم دا چې څاروي یې څر ته بولي وو.

فشاري ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي په عمومي صورت په افغانستان کې داسې عیار شوي دي چې هغه مهال چوي کله چې پرې یو شخص او یا وربانديې کومه نقلیه وسیله تیریږي او زیاتره یې نږدې د ۲۰-۲۵ کلو ګرامو پورې چاودېدونکي مواد لري ( په عمومي صورت په کورونو کې یې جوړ وي۱۲۲ ) ؛ چې د ټانک ضد عادي ماین څخه دوه برابره زیات مواد لري ، خو د ماشې حساسیت یې د پرسونل ضد ماین تر اندازې دی. دا په دې مانا ده چې د فشار د تختې په ذریعه فعالیدونکي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي په اغیزمن ډول د پرسونل ضد د یوه کتله ییز ځمکنی ماین په توګه فعالیت کوي( چې دا یوه ناقانونه وسله ده نه یواځې د دې له امله چې افغانستان د پرسونل ضد ماینونو د منع د کنوانسیون غړیتوب لري ) او دومره توان لري چې پرسونل او نقلیه وسیلو ته ډیر شدید ، د فاجعې ډک زیان اړوي.

ملکي وګړي کله چې په دغو ځاي پر ځاي کړای شویو چاودېدونکو توکو پښې کښیږدي او یا هم په دغو چاودیدونکو توکو باندې په عادي نقلیه وسیله کې( د زرهې پرته ) تیریږي نو د هغو په وړاندې دفاع نه لري او د نجات ډیر لږ چانس ورسره وي.۱۲۳

لاندې د ملکي تلفاتو هغه مثالونه دي چې فشاري ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو د بریدونو په پایله کې رامنځته شوي دي:

- د اپریل په لسمه نېټه ، یوه شخصي نقلیه وسیله چې ۱۲ تنه ملکیان یې د جنازې مراسمو ته لیږدول د غزني د ولایت د خوګیانیو په ولسوالۍ کې فشاري ځاي پرځاي شوي چاودېدونکې توکو باندې وختله. دغې چاودنه کې په نقلیه وسیله کې سپاره ټول کسان و وژل شول ( اته نارینه او څلور ښځې ).

---

۱۲۰ افغانستان د پرسونل ضد ماینونو د منع ، کارونې ، زیرمه کولو ، تولید او لیږدولو او دهغو د تخریبولو د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون ( د ماینونو د منع د اتاوا کنوانسیون ) لاسلیک کړی دی. دغه تړون په کارخانه کې د جوړ شوی دپرسونل ضد ماینونو اود قرباني په ذریعه د فعالیدونکو ځاي پرځای شوو چاودېدونکو توکو لکه د فشارد تختې په ذریعه د فعالیدونکو ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو کارول منع کوي. په کنوانسیون کې د (ماین) تعریف هغه ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي دي کوم چې داسې ډیزاین شوي دي چې د ځمکې د لاندې او یا هم پرځمکه ځاي پرځاي کیږي چې د شخص او یا نقلیه وسیلې په شتون ، نږدې کیدو او یا هم تماس سره چوي.

۱۲۱ د دولت ضد عناصر ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي په تیره بیا د فشاري چاودېدونکي توکي په ترانزیتي لارو چې د پلیو د کوچنیو لارو څخه واخله تر سترو لارو پورې دي ځاي پرځاي کړي چې په پایله کې یې هغه ملکیان چې پرې ختلي دي اویا هم پر بایسکلونو ، بسونو او یا موټرو کې تیر شوي دي وژل شوي او یا هم ژوبل شوي دي.

۱۲۲ ایچ ایم اي( په کور کې جوړ چاودېدونکي ) چې د کورنیو عامو کیمیاوي موادو څخه چې په آسانۍ سره تر لاسه کیدونکي مواد دي جوړیږي.

۱۲۳ د ایساف د ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو سره د مبارزې او اي او ډي د ټیم سره د یوناما مرکه ، د ایساف قرار ګاه کابل ، د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر میاشت.

- د اپریل په ۲۲مه نېټه ، یوه ملکي نقلیه وسیله چې اوه تنه ملکیان یې لیږدول د نیمروز د ولایت د خاشرود په ولسوالۍ کې فشاري ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکو باندې وختله چې شپږ تنه ملکیان (چې په کې درې هلکان ، یوه نجلۍ او یوه ښځه شامل وو) و وژل او یو ملکي وګړی یې ژوبل کړ.
- د مۍ په ۲۰مه نېټه ، د غور د ولایت د پسابند په ولسوالۍ کې د محلي ټرانسپورت یوه نقلیه وسیله د فشاري ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي باندې وختله چې آته تنه ملکیان یې و وژل او نور دوه تنه یې ټپیان کړل چې هغوی د ولایت مرکز ته پر لاره وو او له هغه ځایه یې غوښتل د حج د مراسمو د اداء کولو په موخه پاسپورتونه تر لاسه کړي.

### له لېرې څخه د کنترول شویو ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکو توکو د لارې په ملکي تلفاتو کې کمښت

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یوناما ۲۶۷ ملکي تلفات (۵۹ مړیني او ۲۰۸ ټپي کېدني) چې له لېرې څخه د کنترول شویو چاودیدونکو توکو د چاودنو په پایله کې ثبت کړي دي ، چې د ۲۰۱۴ کال[۱۲۴] د همدې مودې په پرتله ۵۰ سلنه کموالي په ډاګه کوي.

د دغه پام وړ کمښت سره سره ، له لېرې څخه د کنترول شویو ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو له لارې د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو د تلفاتو ۲۴ سلنه او د ټولو ملکي تلفاتو پنځه سلنه د ۲۰۱۵ کال[۱۲۵] په لومړیو شپږو میاشتو کې ده. که څه هم له لېرې څخه کنترول شوي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي د دستور د لارې فعالیدونکي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي دي چې دا ایښودونکي/چلونکي ته د دې فرصت برابروي څو هغه یې په دقیق او مطلوب وخت کې وچوي د ملکي وګړو د میشت په سیمو کې ، د چاودېدونکو توکو او په عمومي سړکونو د هغو کارول همیشه د ملکي تلفاتو لامل شوي دي.

یوناما همدارنګه دا مستند کړي دي چې د طالبانو په شمول د دولت ضد عناصر له لېرې څخه کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي کاروي او نا متناسبه بریدونه[۱۲۶] تر سره کوي چې په کې ملکیانو ته زیات او شدید زیان اوړي- او داچې هغه کسان چې دغه ځاي پرځاي شوي چاودیدونکي توکي کاروي ، کولای شي په سمه توګه د دغه برید څخه د مشخص او مستقیم نظامي بریا په اړوند د وړاندوینې له مخې کار واخلي.[۱۲۷]

له لېرې څخه د کنترول شویو ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو څخه د ملکي تلفاتو نمونې:

- د فبرورۍ په ۱۷ مه نېټه ، د دولت ضد عناصرو غوښتل چې د کابل د ولایت د قره باغ په ولسوالۍ کې د یوه کمین په ترڅ کې د افغان ملي پولیس نقلیه وسیله تر برید لاندې راولي او هلته یې له لېرې څخه کنترول شوی چاودېدونکی توکی وچول چې د هدف پرځاي یې پر لویه لاره بله ملکي نقلیه وسیله تر ګوزار لاندې راغله . دغې چاودنې څلور ملکیان و وژل چې په کې دوه ښځې شاملې وې ، اویو ماشوم یې ټپي کړ.

[۱۲۴] د ۲۰۱۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یوناما ۵۳۳ ملکي تلفات ( ۱۲۴ مړینې او ۴۰۹ ژوبلې) له لېرې د کنترول شویوځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو له امله مستند کړي دي.

[۱۲۵] له لېرې کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي د یو میتود په توګه کارول شي څو هدفي وژنې تر سره شي په دې کې داسې موارد شامل دي کله چې تر هدف لاندې کس یو ملکي وي او دا موارد د قتل جنګي جرم : په قصدي توګه د ملکیانووژل ... په برخه کې توضیح شوي.

[۱۲۶] د عرفي قانون د آي سي آر سي د ۱۴ قاعدې د مطالعې برخه وګورئ. د داسې برید ترسره کول چې د هغه څخه دا توقع وي چې د ملکیانو اتفاقي مړینې ، ژوبلې ، ملکي تاسیساتو ته تاوان ، او یا هم د دې ټولو ترکیب رامنځته کړي ، چې هغه د وړاند وینې وړ مستقیم ، مشخص نظامي بریا د ترلاسه کولو څخه زیات وي ، ممنوع دي.

[۱۲۷] د ملکي وګړو د میشت په سیمو کې د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو د لارې د نظامي تاسیساتو د هدف ګرځولو پورتنۍ برخه وګورئ ،

- د مارچ په ۱۰ مه نېټه ، د دولت ضد عناصرو هغه مهال چې د بغلان د ولایت د پلخمري په ښار کې د روغتون سره نږدې يې له لېرې څخه کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکی توکی د افغان ملي پولیس د نقلیه وسیلې په وړاندې وچول چې ۱۵ ملکي تلفات ( دوه مړيني او ۱۳ ټپي کېدني) يې رامنځته کړل ، چې په هغو کې ښځې او ماشومان شامل وو.

سره د دې چې اپریټر (چادونکی کس) د دې توان لري چې له لېرې څخه د کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي د چونې لپاره دقیق وخت مشخص کړي ، د ملکي وګړو د میشت په سیمو کې ، چیرته چې ملکیانو او ملکي هدفونو ته د زیان اوښتنې ډېر احتمالات شته په متداوم ډول د دغو چاودېدونکو توکو کارول باید متوقف شي. په ملکي ساحو کې د چاودېدونکو توکو لکه له لېرې څخه د کنترول شويو ځاي پرځاي شويو چاودېدونکو توکو کارول په ډیرى حالاتو کې د بشر پالنې د نړیوال قانون د توپیر او تناسب د اصولو سره په مغایرت کې دي. د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې د ښکرې د تولو دخیلو اړخونو څخه غوښتل کیږي چې د دې لپاره ټول لازم تدابیر[128] ونیسي چې د عملیاتو پر مهال د (اتفاقي زیان) مخنیوي وکړي او یا هم لږ تر لږه هغه حد اقل ته راټیټ کړي ، او له هغو بریدونو څخه چې کولای شي نا متناسبه زیان واړوي ډډه وکړي.

***د مقناطیسي ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو څخه د را ولاړو شوو ملکي تلفاتو را کمول***

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یوناما د مقناطیسي ځاي پرځاي شويو چاودیدونکو توکو د کارولو له امله ۶۴ ملکي تلفات ( شپږ مړيني او ۵۸ ټپي کېدني) ثبت کړي دي چې دا د ۲۰۱۴ کال[129] د همدې مودې په پرتله ۴۶ سلنه ټیټوالي په ډاګه کوي. په داسي حال کې چې په اکثریت پیښو کې د دولت ضد عناصر دخیل دي چې د افغان امنیتي ځواکونو د نقلیه وسیلو دلاندې مقناطیسي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي نښلوي ، یوناما د دغو بریدونو له امله را ولاړې شوې ملکي مړينې او ژوبلې مستندې کوي. د بېلګې په توګه د اپریل په ۲۰ مه نېټه یو مقناطیسي ځاي پرځاي شوى چاودېدونکى توکى چې موخه یې افغان ملي پولیس وو د کندز د ولایت د کندز ښار په نمک بازار کې وچاودېد چې ۲۱ تنه ملکیان یې د یوې ښځې ، یوې نجلۍ او یو هلک په شمول ټپیان کړل. طالبانو د برید پره پر غاړه واخیستله او د دې دعوه یې وکړه چې هغوي یو افغان ملي پولیس وژلی او دوه تنه نور افغان ملي پولیس یې ټپیان کړي دي.[130]

## ځانمرګي او دله ییز بریدونه[131]

*"زه پر لاره روان وم خو د افغان ملي پولیس د قومندان د جنازې په مراسمو کې چې د خپل زوي او وراره سره د ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي په برید کې د ورځې په لومړیو کې وژل شوی و ، ګډون وکړم. د جنازې د مراسمو په پای کې موږ هدیرې ته د مړي د خښولو لپاره ولاړو. هلته د وړاندې څخه ۲۵۰ کسان را ټول وو. زه چې د نورو کلیوالو سره ساحې ته ورسیدلم نو هلته په*

---

[128] د آي سي آر سي د عرفي قانون د مطالعې ۱۵ قاعده وګورئ. د نظامي عملیاتوپه سلوک کې باید همیشه دې ته پاملرنه وشي چې ملکي نفوس ، ملکیان او ملکي تاسیسات محافظت شي. ټول ممکنه احتیاط باید ترسره شي څو په هره پیښه کې د ملکیانو د ژوند ، ژوبلې او ملکي تاسیساتو ته د تاوان مخنیوی وشي او یا هم را ټیټ شي.

[129] د ۲۰۱۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یوناما ۱۱۸ ملکي تلفات ( ۱۴ مړينې او ۱۰۴ ژوبلې) چې د مقناطیسي ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو د لارې را منځته شوي دي مستند کړي دي.

[130] و ګورئ: http://alemara1.org/?p=8181&utm_source=alemara1.org&utm_medium=pashto+news&utm_campaign=taliban+news , last access 6 July 2015.

[131] د ( پیچلي برید ) په اړه د یوناما تعریف د هغه قصدي او همغږي شوي برید څخه دی چې په کې ځان مرګي وسیله ( د مثال په ډول په بدن پورې تړل شوي ځاي پرځاي شوی چاودیدونکي توکي په موټر کې ځاي پر ځای شوي چاودیدونکي توکي) د یوه څخه زیات بریدګر او د یوې وسیلې څخه زیاتې وسیلې ( لکه په بدن پورې تړل شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي او هاوانونه ) شامل وي. دغه ټول درې واړه عناصر باید په یوه برید کې شامل وي چې هغه پیچلي برید وګڼل شي.

*هدیره کې یوه ستره چاودنه وشوه. له هغه وروسته هلته ما جسدونه او د وګړو د بدن ټوټې ولیدلې چې خواوشا خپرې پرتې وې. د ځینو ټپیانو په بدنونو پورې د هغوي غوښې ځوړندې وې او د کومک لپاره یې چیغې وهلې. زیاتره خلک یا مړه شول او یا هم ټپیان وو ، چې اکثریت یې ملکي وګړي وو."*[۱۳۲]

- د لغمان د ولایت دمهترلام په ښار کې د جنورۍ په ۲۹ مه نېټه د جنازې په مراسمو کې د ځانمرګي برید یو تن عیني شاهد چې په دغه برید کې ۱۲ تنه ملکیان ووژل شول او ۳۴ تنه نور ټپیان شول چې په کې درې ماشومان شامل وو. یو تن ځانمرګي بریدګر چې په بدن پورې یې ځاي پر ځای شوی چاودېدونکی توکی تړلی و هغه یې مهال وچول کله چې افغان امنیتي ځواکونو هغه د هدیرې د دروازې په کنترولي نقطه کې ودرولو.

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یوناما ۴۴ جلا جلا ډله ییز او ځانمرګي بریدونه مستند کړي دي چې د هغو په پایله کې ۱۰۲۲ ملکي تلفات ( ۱۸۳ مړینې او ۸۳۹ ټپي کېدنې) رامنځته شول چې دا په ملکي مړینو او ژوبلو کې چې ددغه تاکتیک د کارولو له امله رامنځته شوي دي د ۲۰۱۴ کال[۱۳۳] دهمدې مودې په پرتله ۷۸ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. ځانمرګي او ډله ییز بریدونه د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ځمکنیو نښتو او د ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو وروسته د ملکي مرګ ژوبلو درېیم ستر لامل دی. د ۴۴ پېښو له جملې څخه چې یوناما مستندې کړي دي ۳۱ یې په سهیلي او مرکزي سیمو کې رامنځته شوي دي.

ځانمرګي او ډله ییزو بریدونه چې په ښاري سیمو کې شوي ، ډېر زیات زیان یې اړولی ، په تیره بیا د کابل په ښار ، د هلمند د ولایت د لشکرګاه په ښار او د ننګرهار ولایت د جلال آباد په ښار کې . د کابل په ښار کې د ۱۲ پیښو په ترځ کې ۳۰۲ ملکي تلفات( ۴۲ مړینې او ۲۶۰ ټپي کېدنې) ؛ اتو پیښو د لشکرګاه په ښار کې ۱۷۱ ملکي تلفات ( ۲۷ مړینې ، او ۱۴۴ ژوبلې) ، یوې پیښې د ننګرهار د ولایت د جلال آباد په ښارکې ۱۵۸ ملکي تلفات( ۳۲ مړینې او ۱۲۶ ژوبلې) را منځته کړل.

طالبانو پخپل عام بیان کې د ۲۷ ځانمرګو بریدونو پړه منلې ده چې د هغو له امله ۵۴۲ ملکي تلفات ( ۸۷ مړینې او ۴۵۵ ژوبلې) رامنځته شول چې دا د ۲۰۱۴ کال[۱۳۴] دهمدې مودې په پرتله ۱۶۷ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د بیلګې په توګه ، د مۍ په ۲۵ مه نېټه ، د طالبانو یوه تن ځانمرګي په موټر کې ځاي پرځای شوی چاودېدونکي توکي د زابل د ولایت د قلات په ښار کې د ولایتي شورا د دفتر په وړاندې وچول. دغه چاودنه کې ۷۹ تنه ملکیان چې په کې ۳۰ ښځې او دوه ماشومان شامل وو ، ژوبل شول. په قربانیانو کې هغه ښځې هم شاملې وې چې د خیاطۍ کورس ته چې د ولایتي شورا د ودانۍ ترڅنګ د ښځو د چارو د ریاست له خوا تنظیم شوی و ، ورغلې وې. طالبانو د برید مسوولیت واخیست او دا یې څرګنده کړه چې دوي ولایتي شورا تر برید لاندې ونیوله او ۱۹ تنه "مزدوران" یې و وژل او د ۱۰۰ څخه زیات یې ټپیان کړل.[۱۳۵]

[۱۳۲] د یوناما د ننګرهار د ولایت د جلال آباد په ښار کې د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ په ۲۹ نېټه د یو عیني شاهد سره ټیلیفوني مرکه .

[۱۳۳] د ۲۰۱۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یوناما ۵۷۴ ملکي تلفات ( ۱۵۶ مړینې او ۴۱۸ ژوبلې) د پیچلو او ځانمرګو بریدونو په پایله کې ثبت کړي دي.

[۱۳۴] د ۲۰۱۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې طالبانو د ۲۰ پیچلواو ځانمرګو بریدونو مسوولیت منلی دی چې د هغو په پایله کې ۲۰۳ ملکي تلفات ( ۷۶ مړینې او ۱۲۷ ژوبلې ) رامنځته کړي دي.

[۱۳۵] هغه اعلامیه چې د طالبانو په ټویټر پاڼه کې نشر شوې ده: .https:// twitter.com/balkh_a/status/602779597055270914, last accessed 4 June 2015

هغه بریدونه چې د ملکي وګړو پر ضد دي او همدارنګه په بې توپیره ډول د ځای پرځای شویو چاودېدونکو توکو د لارې ځان مرګي بریدونه د بشر پالنې د نړیوال قانون څخه چې په افغانستان کې په جګړه کې ټول ښکیل اړخونه د هغو په رعایتولو مکلف کوي ، جدي سرغړونې دي او کېدای شي چې په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي.

لاندې د ډله ییزو او ځانمرګو بریدونو ځینې بیلګې دي چې د ملکي تلفاتو لامل ګرځي:

- د اپریل په ۱۰ مه نېټه ، د طالبانو یو ځانمرګی بریدګر خپل په موټر کې ځای پرځای شوې چاودېدونکې توکې وچول چې د ننګرهار د ولایت د بهسودو په ولسوالۍ کې د نړیوالو نظامي ځواکونو یو کتار هدف ګرځولی و چې ځلور ملکیان یې و وژل چې په هغو کې یو هلک هم شامل و او ۱۶ نور یې ژوبل کړل چې دوه هلکان هم په کې شامل وو. طالبانو ددغه برید مسوولیت پخپله ویب پاڼه کې ومنلو.[۱۳۶]
- د مۍ په ۱۷ نېټه ، د طالبانو یوه ځانمرګي بریدګر په موټر کې ځای پرځای شوی چاودېدونکي توکي هغه مهال وچول چې په افغانستان کې د اروپایي ټولنې د پولیس د ماموریت یوه نقلیه وسیله د کابل نړیوال هوایي ډګر ته نږدې تر برید لاندې نیولې وه ، درې ملکیان یې و وژل چې په هغو کې دوه نجونې شاملې وې او نور ۳۰ تنه یې ټپیان کړل. طالبانو د برید مسوولیت ومنلو او ادعاء یې وکړه چې د اروپایي پولیسو/ یوپول اوه غړي یې و وژل او نور پنځه تنه یې ټپیان کړل. طالبانو اعلان کړه چې " خو کسه کیدلای شي چې په سطحي توګه ټپي شوي وي " ، خو په دغه برید کې یې د هیڅ یو ملکي کس د وژنې مسوولیت نه دی منلی.[۱۳۷]

**ځانمرګي برید په جلال آباد کې ۳۲ ملکیان و وژل او ۱۲۶ ملکیان یې ټپیان کړل**

د اپریل په ۱۸ نېټه ، یوه ځانمرګي بریدګر چې د افغان امنیتي ځواکونو یونیفورم یې اغوستی و د ننګر هار ولایت د جلال آباد په ښار کې چې غوښتل یې د کابل بانک ښاخګې ته ننوځي او په ځان پورې تړلې ځای پرځای شوی چاودیدونکي توکی وچوي خو په دې کې په پاتې راتلو سره یې هغه د باندې وچولو . دغه برید کې ۳۲ ملکیان و وژل شول او ۱۲۶ تنه ټپیان شول چې په کې پنځه ماشومان هم شامل وو. دغې چاودنې همدارنګه نقلیه وسیلو ، په ساحه کې دوکانونو او نورو کاروبارونو ته ډېر زیات تاوان واړولو.[۱۳۸]

په لومړي سر کې یو تن وویاند چې ځان یې د افانستان لپاره داسلامي دولت وویاند معرفي کړ د دغه برید مسوولیت واخیست. دغه ادعاء وروسته د اسلامي دولت د بل کس له خوا چې ځان یې د هغه استازي معرفي کولو رد شوه.[۱۳۹] طالبانو دغه برید

---

[۱۳۶] وګورئ: http://www.shahamat-english.com/index.php/news/53913-martyr-attack-on-us-military-convoy-leaves-16-invaders-killed , last accessed on 4 June ،.2015

[۱۳۷] دغه اعلامیه د طالبانو د ویاند عبدالقهار بلخي د ټویټر د پاڼې څخه له هغې وروسته ایسته شوه ، په دې پته د لاسرسي وړ ده: http://twitter.com/balkhi_a?lang=en

[۱۳۸] د ۲۰۱۱ کال د فبرورۍ په ۱۹ نېټه طالبانو د جلال آباد په ښار کې د همدغه بانک په ښاخګه کې یو پیچلی برید ترسره کړ چې په پایله کې یې ۱۹ مړینې او ۹۱ ژوبلې رامنځته شوې. طالبانو په رسنیو کې د برید مسوولیت ومنلو او اعلان یې کړه چې هغوي د افغان امنیتي ځواکونو غړي هدف ګرځولي دي.

[۱۳۹] وګورئ ن یوسف ؛ اسلامي دولت اوس وایي چې هغوي په افغانستان کې بمي برید نه دی کړی ، ډایلي بیسټ ( د ۲۰۱۵ کال د اپریل ۲۱ نېټه) په دې پته د لاس رسي وړه ده: http://www.thedailybeast.com/articles/2015/o4/21/isis-now-says-it-didn-t-bomb-afghanistan.html, last accessed on 10 june 2015. د دغې ادعاء د تفصیلي تحلیل ، مخالفو ادعاوو ، او ردونو لپاره وګورئ کلرک ک او ب عثمان ، د اسلامي دولت لومړي بریدونه ؟ د جلال آباد د بمي چاودنې په اړه ادعاوې او

وغندلو او خپل مسوولیت یې رد کړ ، او د دې لپاره یې حکومت او " بهرني اشغالګران" ملامت کړل چې د دغې پېښې څخه د خپلو سیاسي موخو لپاره کار واخلي.[۱۴۰]

د اپریل د ۱۸ نیټې برید ډېر زیات ملکي تلفات واړول چې دغه تلفات د بل هغه یو برید څخه چې د ۲۰۱۲ کال د اګست په ۱۴مه نېټه د نیمروز د ولایت د زرنج په ښار کې د خلکو د اوسیدو په ګڼ میشته سیمه کې یو همغږي شوی ځانمرګي برید د افغان ملي پولیسو د ګڼ شیمر هدفونو پرضد تر سره شو او په کې ۳۰ تنه ملکیان و وژل شول او ۱۳۰ تنه نور ژوبل شول زیات وو.




## د قتل جنګي جرم: د ملکي وګړو هدفي وژنې

" وروسته له هغې چې طالبانو زما پلار و وژلو ، ما ښوونځې پرېښود اود ورځې مزدورکاري مې پیل کړه څو خپله کورنۍ وساتم. په دغه برید کې زما ۱۳ کلن ورور هم و وژل شو ، هغه په روغتون کې د ټپونو له امله مړشو. داچې هغه مړ شوی دی مور لا اوس هم د هغه د درملنې له امله د روغتون څخه ۸۰۰۰۰ افغانۍ پور وړي یو. زه نه پوهیږم چې دغه پور به څنګه ورکوو. زما د پلار او ورور د مړینې وروسته زما مور اوس د روحي ستونزو له امله ځوریږي. زموږ ژوند اوس په غم لړلی دی. "[۱۴۱]

-- د کنړ د ولایت د غازي آباد په ولسوالۍ کې د ۲۰۱۵ کال د فبروري د اتمې نیټې د دولت ضد عناصرو د هدفي وژنې د قربانیانو زوي او ورور ، په دغه برید کې د یو تن ۱۳ کلن هلک په شمول درې ملکي وګړي و وژل شول. دغه قربانیان ملکیان وو چې

ردونې په دې پته وګورئ: http://www.afghanistan-analysis.org/first-wave-of-is-attacks-claim-denile-over-the-jalalabad-bombs/ , afghan analyst network, 22 April2015, last accessed on 10 June 2015.

[۱۴۰] وګورئ: http://shahamt-english.com/component/?view= featured&start=655, last accessed on 4 June 2015.

[۱۴۱] د ننګرهار د ولایت د جلال آباد په ښار کې د قربانیانو د کورنیو د غړو سره د ۲۰۱۵ کال د فبرورۍ په ۱۹ نېټه د یوناما ټیلیفوني مرکه.

افغان ملي اردو ته يې خوراکي مواد رسول. د دولت ضد عناصرو د اوړې څخه د ګوزاريدونکي راکټ څخه د هغه په موټر کله چې دوي افغان ملي اردو ته خوراکي مواد رسول برید وکړ.

هدفي وژنې[142] [143] د ۲۰۱۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۴ سلنه ده. یوناما ۶۹۹ ملکي تلفات( ۴۴۰ مړينې او ۲۵۹ ژوبلې) د هدفي وژنو[144] په پايله کې ثبت کړي دي چې دا د ۲۰۱۴ کال[145] د همدې مودې په پرتله ۵۷ سلنه زیاتوالی څرګندوي. که څه هم ځمکنۍ نښتو، ځاي پرځاي شويو چاودېدونکو توکو ، ډله ییزو او ځانمرګو بریدونو په عمومي صورت د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نيمايي کې د نورو تاکتيکونو په پرتله زيات تلفات را منځته کړي دي ، هدفي او قصدي وژنو د بل هر تاکتيک په پرتله زياتې ملکي مړينې او تلفات اړولي دي- د ۱۵۹۲ مستند شوو ملکي مړينو څخه ۴۴۰ چې دا د ټولو ملکي مړينو ۲۸ سلنه تشکيلوي.[146]

یوناما ۶۵۹ ملکي تلفات ( ۴۱۲ مړينې او ۲۴۷ ټپي کېدنې) چې د هدفي وژنو څخه رامنځته شوی دي — ۹۴ سلنه- د دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي دي. په دې کې د مرستندويه کارمندانو ، قومي مشرانو ، ملکي حکومتي کارکوونکو ، ملايانو او ملکي عدلي کارمندانو عمدي وژنې شاملې دي. د بيلګې په ډول ، د جون په دوهمه نېټه، سهار وختي د دولت ضد عناصر د يوې نړيوالې نا دولتي موسسې ( *محتاج خلک*) د ودانۍ محوطې ته ننوتل او هلته يې نهه ملکي کار کوونکي چې په کې يوه حامله ميرمن هم شامله وه د کوچنيو وسلو په ډزو و وژل.

د ۳۹۵ مستندو شوو هدفي وژنو پيښې د دولت ضد عناصرو ته منسوبې دي ، طالبانو د ۹۶ هغو پيښو لپاره مسووليت منلی دی ، چې په پايله کې يې ۱۷۷ ملکي تلفات ( ۸۷ مړينې او ۹۰ ټپي کېدنې) را منځته شول چې دغه شمير د هغو ملکي هدفي وژنو تر دوو برابرو زياتې دي چې طالبانو يې په ۲۰۱۴ کال[147] کې مسووليت منلی دی. د طالبانو له خوا په منل شويو وژنو کې قومي مشران او حکومتي ملکي کارمندان شامل وو. د بيلګې په توګه:

- د مارچ په ۲۷ مه نېټه ، طالبانو د ارزګان د ولايت د شاهد حساس په ولسوالۍ کې د کلي د يو مشر چې د قومي شخړو په هوارولو بوخت و د کور تر څنګ يو له لېرې څخه کنترولیدونکی ځاي پر ځاي شوی چاودېدونکی توکی خښ کړ او

[142] د دولتونو او دهغوي د استازو له خوا د قانون تر نامه لاندې ( يا په وسله واله جګړه کې د يوې سازمان شوې ډلې له خوا) د يو مشخص فرد څوک چې د مجرم په فزيکي حراست کې نه وي د وژونکې ځواک ، د وړاندې څخه په پلان شوي او په قصدي توګه کارول. که څه هم په ډيری حالاتو کې هدفي وژنې د ژوند د حق څخه سرغړونه ده ، د وسله والې جګړې په استثنايي حالاتو کې هغه کيدای شي قانوني وي په دې شرط چې د بشر پالنې او د بشري حقونو دنړيوالو قوانينو اړوند احکام رعايت شي. وګورئ د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د بشري حقونو د شورا ۱۴ غونډې د اجنډا دريېمه ماده ، د ماوراي عدالت ، چټکو او پخپل سر اعدامونو په اړه د ځانګړي راپورتر فيليپ آلسون ضميمه ، " د هدفي وژنو په اړه مطالعه". A/HRC/14/24/Add.6، د ۲۰۱۰ کال د مۍ ۱۰ نېټه.

[143] د هدفي وژنو په کټګوري کې همدارنګه د وژنې ځينې هغه قضيې چېرته چې قرباني د لنډ مهال لپاره د د وژنې پر وخت د مجرم په حراست کې وي ( د بيلګې په توګه په کنترولي پوستو کې) ، داد هغو هدفي وژنو پرخلاف ده چېرته چې قرباني د مجرم په فزيکي حراست کې نه وي.

[144] همدا ماخذ

[145] د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۰ نېټې پورې يوناما ۴۴۵ ملکي تلفات( ۲۸۰ مړينې او ۱۶۵ ژوبلې) د هدفي وژنو له امله ثبت کړي دي.

[146] د ۲۰۱۵ د جنورۍ د لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۰ نېټې پورې د ځای پرځاي شويو چاودېدونکو توکو په وسيله ۳۸۵ ملکيان ، د ځمکنيو نښتو له امله ۳۷۹ ملکيان او د ځانمرګو او پيچلو بريدونو له امله ۱۸۳ ملکيان په افغانستان کې و وژل شول.

[147] د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د لومړۍ نيټې څخه د جون تر ۳۰ نېټې پورې طالبانو د ۴۰ هدفي وژنو د پيښو مسووليت منلي دی چې د هغو په پايله کې ۸۳ ملکي تلفات( ۵۵ مړينې او ۲۸ ژوبلې ) رامنځته شوي دي.

هغه مهال یې وچولو کله چې هغه کور ته ننوت ، نوموړی یې په همغه ځاي و واژه. طالبانو د برید مسوولیت پخپله ویب پاڼه کې ومنلو.[۱۴۸]

- د فبرورۍ په نهمه نېټه ،طالبانو د هرات د ولایت د انجیل په ولسوالۍ کې د کار او ټولنیزو چارو د ریاست یو تن ملکي کارمند دخپل کور تر څنګ په ډزو و واژه. طالبانو پخپله ویب پاڼه کې د پېښې مسوولیت ومنلو.[۱۴۹]




یوناما د هدفي وژنو ۴۰ سلنه ملکي تلفات ( ۲۸ مړینې او ۱۲ ټپي کېدنې) دولتي امنیتي او دولت پلوه ملیشیایي ډلو[۱۵۰] ته منسوبوي. د بېلګې په توګه ، د مۍ په دریمه نېټه ، یو تن افغان محلي پولیس یو تن ۱۵ کلن هلک په ډزو وویشت چې هغه یې د کندهار د ولایت د ارغستان په ولسوالۍ کې د افغان محلي پولیس په اړه په جاسوسۍتورن کړی و. د مۍ په ۲۹ مه نېټه ، یوې دولت پلوه وسله والې ډلې د سرپل ولایت د سنچارک په ولسوالۍ کې یو بس په یوې ناقانونه پوسته کې ودرولو ، او په هغه کې یې یو مسافر ته امر وکړ چې له بس څخه را کښته شي او د راکښته کېدو سره یې په هغه ډزې وکړې او د نورو مسافرو په وړاندې یې و وژلو.

[۱۴۸] د مسوولیت د منلو ادعاء د طالبانو په ویب پاڼه کې نشر شوې ده:-http://shahamat-english.com/index.php/news/53692-nds-agent-killed-in-char chion, خو دغه مطلب بیا وروسته ایسته شوی دی.

[۱۴۹] د مسوولیت د منلو ادعاء د طالبانو په ویب پاڼه کې نشر شوې ده:-http://shahamat-english.com/index.php/news/52922-governmnet-employee killed-in-injeel, خو دغه مطلب بیا وروسته ایسته شوی دی.

[۱۵۰] هغه هدفي وژنې چې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د هوایي بریدونو پر مهال تر سره شوي دي ، معمولآ د بې پیلوټه الوتکو د لارې شوي دي او هغه د دولت پلوه ځواکونه او د ملکیانو ساتنه ، هوایي عملیات تر عنوان لاندې ځپرکي کې توضیح شوي دي.

## د ملکیانو او ملکي محلاتو په قصدي توګه تر هدف لاندې راوستل

### *د قاضیانو ، څارنوالانو ، او قضایي موسسو پر ضد بریدونه*

*" ما او پلار مې د عدلیې د وزارت په بیلا بیلو ریاستونو کې دندې ترسره کولې. د مې په ۱۹مه نېټه ، زما پلار راته زنګ و واهه او و مو وټیله چې لس دقیقې وروسته د وزارت مخې ته سره وګورو څو یوځای کور ته ولاړ شو. کله چې زه د وزارت د ودانۍ څخه دهغه دلیدو لپاره را و وتلم ما ولیدل چې هغه د دروازې څخه د تیرېدو په حال کې و. په همدې وخت کې امنیتي ځواکونو یوه نقلیه وسیله د دروازې په خوله کې لټوله. وروسته دغه وسیله وچاودېدله. ما مې خپل پلار نور ونه لیدلو. ځکه چې د نقلیه وسیلې لوګي روان و. ما وکتل او دخپل پلار پوښتنه مې پیل کړه. ما دیو بس دننه وکتل خو هغه مې هلته ونه موند. ما دهغه پر موبایل زنګ و واهه. دهغه د موبایل څخه هیڅ غبرګون نه و. ما دهغه جسد ونه میندلو. زه دوو بیلابیلو روغتونونو ته ولاړم خو هغه مې ونه میندلو. زه دخپل ورور سره دریېم روغتون ته ورغلم. هلته یو جسد و چې سوځیدلی و. دا زموږ پلار و. موږ هغه د هغه د کمربند څخه و پیژندلو. هره ورځ زما دغه برید را یادیږي. کله چې زه کار ته ځم نو زما حالت ډیر بد وي ، ځکه چې هر وخت مې پلار د ودانۍ په دروازه کې تر سترګو کیږي."* [۱۵۱]

-- یو تن 27 کلن عیني شاهد او په کابل ښار کې د مې په۱۹ نیټه دعدلیې پر وزارت په موټر کې د ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي په ذریعه د ځان مرګي برید د قرباني شخص زوي ، په دغه برید کې ۵ تنه و وژل شول او ۴۷ تنه نور ټپیان شول.

یوناما د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې په ملکي تلفاتو کې چې د دولت ضد عناصرو له خوا د قاضیانو ، څارنوالانو ، او قضایي موسسو په وړاندې د قصدي بریدونو په ترځ کې ترسره کیږي ډیر زیاتوالی راغی. د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه د جون تر ۳۰ مې نیټې پورې ، یوناما ۲۵ داسې پیښې ثبت کړي دي چې په کې د دولت ضد عناصرو له خوا په عمدي ډول قاضیان ، څانوالان ، او عدلي موسسې د پیچلو او ځانمرګو بریدونو ، د هدفي وژنو ، ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو او تښتونو د لارې په قصدي توګه تر برید لاندې راغلي دي. دغو بریدونو ۱۷۸ ملکي تلفات (۴۳ مړیني او ۱۳۵ ټپي کېدني) رامنځته کړي دي چې دا د ۲۰۱۴ کال[۱۵۲] دهمدغې مودې په پرتله ۲۴۹ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. یوناما د دغو وژنو او ژوبلو ډیری طالبانو ته منسوبوي. طالبانو د دغو بریدونو د ۱۸ هغو مسوولیت منلی دی چې د ټولو ۱۷۸ مستندو شوو ملکي تلفاتو څخه ۱۷۴ جوړوي.

[۱۵۱] د ۲۰۱۵ کال د جون په ۹ نېټه د یوناما مرکه

[۱۵۲] د ۲۰۱۴ کال په همدغه موده کې یوناما ۱۸ پیښې مستندې کړي دي چې په کې قاضیان ، څارنوالان ، او قضایي موسسې تر هدف لاندې راغلي دي ، چې ۵۱ ملکي تلفات یې رامنځته کړي دي ( ۱۵ مړینې او ۳۶ ژوبلې). دا همدارنګه د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ د ۱ نیټې څخه د جون تر ۳۰ پورې سره پرتله شوي دي چې په هغو کې یوناما ۱۹۶ ملکي تلفات( ۵۱ مړینې او ۱۴۵ ژوبلې) ثبت کړي دي ، چې دا په خالصو ملکي هدفونو باندې د پرلپسې بریدونو نمونه ده ، چې دا د بشر پالنې د نړیوال قانون په بنسټ نا قانونه عمل دی.

که څه هم د طالبانو د ۲۰۱۵ کال د اپریل د ۲۲ مې نیټې اعلامیه چې د "عزم" د پسرلنیو یرغلیزو بریدونو په اړه ده او په هغې کې یې ویلي دي چې "د ګوډاګي رژیم کارکوونکي... او نور مضر کسان " به د ۲۰۱۵ کال د جګړو په موسم[۱۵۳] کې تر هدف لاندې نیول کیږي . خو په کابل کې د عدلیې په وزارت د مۍ د ۱۹ مې نیټې د ځانمرګي برید مسوولیت په منلو سره طالبانو اعلان کړې ده چې هغوي به " د قاضیانو ، څارنوالانو ، د عدلیې د وزارت پرسونل او دغه شان نورو"[۱۵٤] هدف ګرځولو ته ادامه ورکړي. خو د غه اعلامیه د ۲۰۱۴ کال د طالبانو د پسرلنیو یرغلیزو بریدونو د اعلامیې په پرتله چې د قاضیانو ، څارنوالانو ، او قضایي کارمندانو[۱۵۵] د هدف ګرځولو په اړه وه ، ناځرګنده ده.

یوناما یوځل بیا په دې ټینګار کوي چې پر ملکیانو ، او ملکي تاسیساتو- چې په کې عدلي کارمندان او محکمې شاملې دي- مستقیم بریدونه د بشر پالنې د نړیوال قانون څخه جدي سرغړونه ده او کیدلای شي په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي.[۱۵٦]

پر قاضیانو ، څارنوالانو ، او قضایي موسسو باندې د بریدونو بیلګې:

- د جنورۍ په ۷ مه نېټه ، د ننګرهار ولایت د جلال آباد په ښار کې د لغمان د ولایت د محکمې د مدني دیوان د قاضي په شخصي موټر پورې د طالبانو له خوا نښلول شوی مقناطیسي ځاي پر ځاې شوی توکی وچول شو چې نوموړي یې و وژلو او د هغه دوه لوڼې یې ژوبلې کړې . طالبانو پخپله ویب پاڼه کې د پیښې مسوولیت منلی دی او ویلي یې دي چې هغوي قاضي وژلي او دوه "محافظین" یې ټپیان کړي دي.[۱۵۷]
- د اپریل په نهمه نېټه ، طالبانو د بلخ د ولایت د مزار شریف په ښار کې د څارنوالۍ د دفتر په وړاندې ډله ییز برید تر سره کړ چې په هغه کې ۱۴ ملکیان و وژل شول او نور ۴۷ تنه ملکیان یې ټپیان کړل. طالبانو پخپله ویب پاڼه کې د برید مسوولیت منلی دی.[۱۵۸]
- د مۍ په ۱۹ نېټه ، یوځانمرګي بریدګر په موټر کې ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي د کابل په ښار کې د عدلیې د وزارت د ننوتو په دروازه کې وچول چې پنځه ملکیان یې و وژل او نور ۴۷ تنه یې ټپیان کړل. طالبانو د خپل ټویټر د پتو د لارې چې په دغې ډلې پورې تړاو لري د دغه برید مسوولیت منلی دی.[۱۵۹]

[۱۵۳] " د اسلامي امارت د مشرتابه د شورا هغه اعلامیه چې د ( عزم) په نوم د کلنیو پسرلنیو یرغلیزو عملیاتو د پیل په اړه نشر شوې ده او په دې پته د لاس رسي وړ ده: http://shahamat-english.com/index.php/paighamoona/54149-statement-by-the-leading-council-of-the-islamic-emirate-regarding-the-inaugration-of-spring-operations-called-%E2%80%98azm%%E2%80%99-resolve

[۱۵٤] وګورئ: د ۲۰۱۵ کال د مۍ په ۱۹ نېټه د طالبانو د عملیاتو راپور : .http:://justpaste.it/17w6 په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د جون په ۱۵ کتل شوې ده.

[۱۵۵] و ګورئ : " د اسلامي امارت د مشرتابه د شورا هغه اعلامیه چې د ( خیبر) په نوم د کلنیو پسرلنیو یرغلیزو عملیاتو د پیل په اړه نشر شوې ده او په دې پته د لاس رسي وړ ده:- http://www.shahamat-english.com/index.php/paighamoona/44468-statemnet-of-leadership-council-of-islamic-emirate-regarding-the-commencement-of-the-annual-spring-operation-named-khaibar. "

[۱۵٦] وګورئ د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د کنوانسیون د الحاقیه پروتوکول ۴۸ او ۵۲ مادې. همدارنګه د روم د آساسنامې 8(e)(i) او 8(e) xii) مادې وګورئ. همدارنګه د ICRC د بشر پالنې د نړیوال عرفي قانون ۷ قاعده ، جلد ۱ ، مقررات ، اډیتور. جین ماري هینکاریتز او لوییس ډوسوالډ بیک ICRC} (CU P/ICRC Cambridge 2005 ) {Study وګورئ.

[۱۵۷] وګورئ:http://alemara1.org/index.php/news/61490

[۱۵۸] وګورئ: http://shahamat-english.com/index.php/news/53905-at-least-80-high-and-low-level-court-staff-killed-in-balkh-operation

[۱۵۹] وګورئ د ۲۰۱۵ کال د مۍ د ۱۹ نیټې د طالبانو د عملیاتو راپور په :http://judtpaste.it/17w6. Last accessed on 15 June 2015

***د ديني شخصيتونو او عبادت ځايونو په وړاندې تهديدونه او بريدونه***

په ۲۰۱۵ کال کې دولت ضد عناصرو د ديني مشرانو تهديدولو او وژلو او د عبادت ځايونو او ودانيو ويجاړولو ته ادامه ورکړې. په بريدونو کې چې په کې په قصدي توګه ملايان او د عبادت ځايونه هدف ګرځول شوي دي د ۲۰۱۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې يې زياتوالی موندلی ، يوناما ۲۴ ملکي تلفات ( ۱۹ وژنې او پنځه ټپي کېدنې) مستند کړي دي ، چې د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۱۰۰ سلنه زياتوالی په ډاګه کوي.[١٦٠]

يوناما د شپږو هغو ملايانو چې د دولت ملاتړ يې کړی و د قتل ، د درې زيارتونو پر ضد د بريدونو ، او د يوه جومات چې د يوې دولتي موسسې له خوا ترميم شوی و د سوځولو پېښې ثبتې کړي دي. که څه هم دغه ډول قضيې په زياته پيمانه کې نه راپور کيږي ، يوناما همدارنګه د دولت ضد عناصرو له خوا د هغه ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي پيښه چې د يو تن ملا د کور په وړاندې يې د دې لپاره وچولو څو هغه د دې له امله وډاروي چې د افغان محلي پوليس د يو غړي جنازه يې تر سره کړې وه ، مستنده کړې ده.

د ملکيانو او ملکي شتمنيو چې په کې عبادت ځايونه هم شامل دي په قصدي توګه هدف ګرځول په عمومي صورت د بشر پالنې د نړيوال قانون له مخې ممنوع دي. په دې کې هغه بريدونه شامل دي چې د خلکو او عبادت ځايونو په وړاندې ترسره کيږي چې هغه د ولس فرهنګي او معنوي ميراث ګڼل کيږي.[١٦١] د دې سربيره د بشر پالنې نړيوال قانون په ځانګړي ډول په جګړه کې پر ښکيلو اړخونو دا ځانګړی مسووليت ږدي څو ديني پرسونل ته د دې امکان برابر کړي څو هغوي خپله دنده ترسره کړي.[١٦٢] يوناما د دې يادونه کوي چې د افغانستان دولت همدارنګه د بشر پالنې د نړيوال قانون له مخې د دې ځانګړی مسووليت لري چې عبادت کوونکي او عبادت ځايونه د بريدونو څخه وژغوري.[١٦٣]

يوناما د هغو ملايانو چې د دولت په پلوۍ کې يې خپل نظر څرګند کړی دی او يا يې هغه ملکي تلفات غندلي دي چې د دولت ضد عناصرو له خوا تر سره شوي دي پرلپسې هدفي وژنو د نمونو له امله خپله انديښنه څرګندوي. د افغانستان دولت او د دولت ضد عناصر[١٦٤] د بشر پالنې د نړيوال قانون له مخې د دې مکلفيت لري چې د بيان ، فکر ، وجدان او مذهب د آزادي حقوق ولري.[١٦٥]

---

[١٦٠] د ۲۰۱۴ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې يوناما ۱۲ ملکي تلفات ( اوه مړينې او ۵ ژوبلې) د هغو بريدونو له امله چې په کې ملکي ملايان او عبادت ځايونه په نښه شوي دي مستند کړي دي.

[١٦١] " د طبي او مذهبی پرسونل بايد درناوی او ساتنه او ورسره ټوله لازمه مرسته وشي څو خپل فرايض تر سره کړي . " د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ نېټې د ژنيو د کنوانسيونونو د طبي او ديني پرسونل د ساتنې په اړه الحاقيه پروتوکول ۹ ماده ، او د ۱۹۷۷ د جون د ۸ نېټې په غير نړيوالو جګړو کې د قربانيانو د ساتنې ( دوهم پروتوکول). د مدني او سياسي حقونو د نړيوال ميثاق ۱۸ ماده وايي: ۱. " هر کس بايد د فکر ، وجدان او مذهب د آزادۍ حق ولري. " د ۴ ، ۲ مادې له مخې ، "د ۶ ، ۷ ، ۸ مادو( ۱ او ۲ پراګرافونو)، ۱۱ ، ۱۶ ،۱۵، ۱۶ او ۱۸ څخه بايد د دې احکامو له مخې عدول ونه شي. " همدارنګه وګورئ د آي سي آر سي د عرفي نړيوال قانون لومړي جلد ، مقررات ، اډيټور. جين ماري هينکايرتس او لوييس ډوسوالډ بيک {ICRC Study } (CU P/ICRC , Cambridge 2005 ) وګورئ د دوهم الحاقيه پروتوکول ۱۶ ماده.

[١٦٢] همدا ماخذ

[١٦٣] د دې مکلفيت چې د ديني پرسونل درناوی او ساتنه وشي په دوهم الحاقيه پروتوکول ۹ ماده کې راغلي دي. دا همدارنګه په جنګي جرمونو کې راځي کله چې په قصدي توګه دغه بريدونه پر هغو ودانيو وشي چې د ديني فرايضو لپاره وي( په دې شرط چې هغه نظامي موخې نه وي)، د روم د آساسنامې(iV) (e)8 ماده وګورئ . د مذهبي پرسونل درناوی او ساتنه همدارنګه د بشر پالنې د نړيوال عرفي قانون يو نورم شميرل کيږي. آي سي آرسي ، د بشر پالنې نړيوال عرفي قانون ، لومړی جلد ، مقررات ، اډيټور: جين ماري هينکايرتس او لوييس ډوسوالډ بيک Rule27 – Religious Personnel .{ICRC Study } (CU P/ICRC> Cambridge 2005 )

[١٦٤] د دولت ضد عناصر د بشري حقونو لپاره مکلفيتونه لري تر هغه بريده چې دوي په عمل کې د دې واکونه لري او يا هم د يوې ساحې عملي کنترول لري ، لکه د افغانستان په ځينو مشخصو سيمو کې.

[١٦٥] همدا ماخذ ، يادښت ۱۶۱.

د ملایانو او عبادت ځایونو پر خلاف د بریدونو مثالونه:

- د جنورۍ په ۱۶ مه نېټه ، د خوست ولایت د متون په ولسوالۍ کې یو ځاي پر ځاي شوی چاودېدونکی توکی چې په یوه جومات کې دننه د لاوډسپیکر د لاندې ایښول شوی و کله چې امام لاوډ سپیکر چالان کړ هغه وچاودېد او هغه یې و واژه. قرباني همیشه د دولت په پلوۍ غږیدلو او د ځانمرګو بمي بریدونو او ملکي تلفاتو پرخلاف یې ویناوې کولې. ګڼو سرچینو راپور ورکړی دی چې هغه ته د دولت ضد عناصرو له خوا په ګڼ شمیر کې تهدیدي اخطارونه رسیدل څو د دغه ډول مسلو په اړه وینااوې بندې کړي. هیڅ ډلې ددغه قتل پره پرغاړه نه ده اخیستې.
- د مارچ په ۷ مه نېټه ، د دولت ضد عناصر د کابل په ښار کې یو شخصي کور ته ننوتل او د صوفي طریقت پیروانو یوه ډله یې چې په عبادت بوخته وو په ډزو و ویشتل ، ۱۱ تنه نارینه یې و وژل او یو هلک یې ټپي کړ. هیڅ ډلې د دغه برید مسوولیت نه دی منلی.
- د اپریل په څلورمه نېټه ، طالبانو د فراه ولایت د پشت رود په ولسوالۍ کې د افغان امنیتي ځواکونو د بیلا بیلو پوستو په وړاندې همغږې شوي بریدونه تر سره کړل. د محلي سرچینو په وینا کله چې د کورونو تلاشي د دغه ډول عملیاتو برخه وه ، طالبانو یوه تن ملا په نښه کړ او هغه یې د دولت په پلوۍ تورن او په پاي کې اعدام کړ.[۱۶۶]

## موازي قضایي تشکیلات: اعدامونه ، د اندامونو پرې کول ، وهل او نور جرمي عملونه

*"طالبانو ټولو ته د لاوډسپیکر د لارې اعلان کړه چې د جمعې بازار سیمې ته راټول شي. کله چې زه هلته را ورسیدم نږدې ۶۰۰ تنه هلته چې خواوشا ۱۰۰ طالبانو یې امنیت ساتلو راټول شوي وو. یوه ملا د قران پاک تلاوت وکړ او د طالبانو د یو کمیسیون مشر د شریعت د تطبیق د ګټو په اړه خبرې وکړې. طالبانو درې نارینه چې په قتل متهم وو او هغوی ته یې امر وکړ چې پخپلو جرمونو اعتراف و کړي. کله چې هغوی اعتراف وکړ نو هغوی څو ځل اوبه و غوښتلې او ډار اخیستي وو. محلي مشرانو د طالبانو څخه وغوښتل چې دغه کسان وبخښي او د دې وړاندیز یې ورته وکړ چې د ( قربانیانو) کورنۍ ته دیت ورکړي خو طالبانو دغه وړاندیزونه رد کړل.*

*طالبانو درې واړو نارینه وو ته وړاندې تر دې چې د قبلې پر لوري په ګونډو شي هغوی ته اجازه ورکړه چې لمونځ اداء کړي. طالبانو راټولو شوو خلکو ته وویل چې د الله اکبر چیغې ووهي او د طالبانو قاضي د حکم د پلې کولو امر وکړ. په یولسو بجو طالبانو دغه درې واړه نارینه په ډزو د خلکو د الله اکبر د چیغو پر مهال و وژل.*[۱۶۷]"

-- د ۲۰۱۵ کال د اپریل په لسمه نېټه ، د فراه د ولایت د بکواه په ولسوالۍ کې د طالبانو له خوا د خپل سر اعدامونو د پېښې عیني شاهد. طالبانو د اعدامونو مسوولیت منلی دی.[۱۶۸]

[۱۶۶] وګورئ: http://shahamat-english.com/index.php/news/53817-44-killed-and-wounded-in-pusht-rod,-11-vehilcles-Destroyed طالبانو د دغو عملیاتو د ترسره کولو مسوولیت منلی دی ، خو په واضحه توګه یې د ملا د اعدامولو مسوولیت نه دي اخیستی.

[۱۶۷] د فراه د ولایت د فراه په ښار کې د ۲۰۱۵ کال د جون په ۱۰ نېټه د یوعیني شاهد سره د یوناما ټیلیفوني مرکه.

[۱۶۸] د طالبانو اعلامیهدوګورئ: ،په بکواه کې درې اختطاف چیان شوي مجازات شول ، په دې پته یې وګورئ: http://shahamat-english.com/index.php/news/53917-3 kidnappers-penalty-in-bakwa, last accessed 11 April 2015].

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د طالبانو په شمول ۱۹ پیښې مستندې کړي دي چې په هغو کې ملکي کسانو ته دشرعي قانون څخه د عدول ، انګیرل شوو جرمونو ، او د جاسوسي په تور جزاګانې ورکړل شوي دي. یوناما پخپل سري اعدامونه ، د سر پریکونې ، په دورو وهل او نا قانونه توقیفونه چې د دولت ضد عناصرو له خوا تر سره شوي دي مستند کړي دي.[۱۶۹] یوناما په دې ټینګار کوي چې موازي قضایي جوړښتونه غیر قانوني دي او د افغانستان د قوانینو له مخې هیڅ ډول مشروعیت نه لري. هغه سزاګانې چې د دغو جوړښتونو د لارې تر سره کیږي د بشري حقونو څخه په سرغړونو کې شمیرل کیږي او د افغانستان د قوانینو له مخې جرمي عملونه دي او په ځینو حالاتو کې د نړیوال قانون پر اساس جنګي جرمونه دي.[۱۷۰]

د دولت ضد عناصرو له خوا د اعدام سزاګانې[۱۷۱] او د دورو وهلو په پایله کې ۳۵ ملکي تلفات( ۲۹ مړینې او ۶ ژوبلې) رامنځته شوي دي.

په ډیري پیښو کې چې په ۲۰۱۵ کال کې مستندې شوي دي ، دولت ضد عناصرو هغه ملکیان اعدام کړي دي چې د دولت ضد عناصرو په ادعاء هغوي جرمونه کړي دي ، دولت ته دجاسوسۍ تور ورباندې شوی دی او یا دا چې د دولت سره کار کوي. د بیلګې په توګه ، د مې په څلورمه نېټه ، طالبانو د فراه د ولایت د خاک سفید په ولسوالۍ کې یو عام بس ودرولو او ۱۵ تنه یې د دولت سره د کار کولو په تور وتښتول. په همدغه ورځ د طالبانو کمیسیون پریکړه وکړه چې اته تنه بې ګناه دي او دوه یې د دولت سره په کار کولو ګناهکار وبلل. هغوي د دغو دوو ملکیانو څخه سرونه پرې کړل ، د یو څخه یې د مې په څلورمه نېټه او دبل څخه د مې په شپږمه نېټه.

په اصل کې د دغو میکانیزمونو د نا مشروعیت له مخې یوناما دغه تشکیلات او د هغو په پایله کې را ولاړې شوې سزاګانې د بشري حقونو څخه د سرغړونو برابر بولي. د همدې دلیل له مخې د یوناما تحلیلونه دغه طرزالعملونه چې د هغو د تعقیبولو تورونه لګول شوي دي هغه د منل شویو نړیوالو بشري حقونو د معیارونو سره په سمون کې نه بولي ، د بیلګې په توګه د عادلانه محاکمې معیارونه.

### د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکیانو تښتونې

یوناما په ډیرې اندیښنې سره د دولت ضد عناصرو له خوا د جګړې په اړوند د ملکیانو د تښتونو[۱۷۲] او د ملکي اسیرانو د اعدامونو په شمیر کې د زیاتوالی یادونه کوي . د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه د جون تر ۳۰ مې نیټې پورې ، یوناما د

---

[۱۶۹] د ملکي تلفاتو ټولې پیښې چې د موازي قضایي سیستم د مجازاتو له لارې د یوناما له خوا ریکارډ شوي دي د دولت ضد عناصرو له خوا تر سره شوي دي. یوناما د دغه ډول طرزالعملونو له لارې د مړینو او ژوبلو هغه موارد ریکارډ کړي دي چې که دغه مجازات په مستقیم ډول په جګړې پورې اړوند وو( د بیلګې په ډول د افغان ملي اردو د یو سرتیري د پلار اعدامول) او یا هم د د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي وګړو پر خلاف د جګړې څخه پرته تخلف له امله ترسره شوي دي د بیلګې په ډول د زنا په تور په عام محضر کې په دورو وهل. د ژنیو د کنوانسیونونو دریيمه مشترکه ماده په واضح ډول د قتل ، تاوتریخوالي ، د مجازاتو تصویبول ، او د منصفانه محاکمې د معیارونو د درناوي پرته د اعدامونو ترسره کول منع کوي ، په افغانستان کې د دریيمې مشترکې مادې د تطبیق لپاره د نور تفصیل په موخه د دې راپور د قانوني چوکاټ برخه وګورئ ،

[۱۷۰] د " جنګي جرمونو " د تعریف لپاره د دې راپور د قانوني چوکاټ برخې ته مراجعه وکړئ.

[۱۷۱] یوناما د موازي قضایي تشکیلاتو له لارې اعدامونه په عمدي ، د یو کس د وړاندې څخه پلان شوې او ارادي وژنه بولي چې هغه د مجرم په فزیکي حراست کې وي ( او لکه چې دا د هدفي وژنې سره توپیر لري چیرته چې قرباني د مجرم په فزیکي حراست کې نه وي) کله چې وژنه د مجازاتو لپاره تحمیل شوې ده ، دبیلګې په توګه د هغه مذهبي مشر وژنه چاچې د افغان امنیتي ځواکونو د یوه غړي د جنازې مراسم د اخطارونو باوجود تر سره کړي. یوناما دغه ډول پیښې په " قتل" کې شمیري او لکه چې د بشر پالنې نړیوال قانون په افغانستان کې په غیر نړیواله شخړه کې د پلي کول وړ دی.

اختطاف ۱۹۶ پیښې چې نږدې ټولې یې د دولت ضد عناصرو له خوا ترسره شوې دي مستندې کړې دي ، چې د دې له امله ۷۶ ملکي تلفات ( ۶۲ مړینې او ۱۴ ټپي کېدنې) رامنځته شوي دي ، چې دا د دغه ډول پیښو په لړ کې ۳۶ سلنه  او د ۲۰۱۴ کال د همدغې مودې په پرتله په ملکي تلفاتو کې ۱۱۷ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[۱۷۳] د اختطافونو او د هغو په پایله کې د ملکي تلفاتو شمیر له هغه مهاله چې په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک ډول د یوناما له خوا د دغه ډول پیښو مستند کول پیل شوي دي دا تر ټولو پورته شمیره ده.

د ملکیانو د اختطاف ۱۹۶ پیښو څخه چې د یوناما له خوا مستندې شوي دي د دولت ضد عناصرو ۱۸۹  اختطافونه چې په کې د ۷۶ څخه ۷۵ ملکي تلفات رامنځته شوي دي ترسره کړي دي . یوناما څلور پیښې دولت پلوه ځواکونو ته منسوبې کړې دي.

د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکیانو اکثره اختطافونه لکه چې جوتیږي د پیسو د تر لاسه کولو ، د ملکیانو د ډارولو او یا هم دا چې د شخړې د نورو اړخونو څخه  امتیازات تر لاسه کړي چې په کې د اسیرانو تبادله هم شامله ده لپاره ترسره کیږي. د دې سربیره ، یوناما د هغو اختطاف شوو کسانو زیاته شمیره مستند کړې ده چې د اختطاف کوونکو له خوا د دې له امله وژ ل شوي دي چې د هغوی د غوښتنو په پوره کولو کې پاتې راغلي دي ، په نورو اختطاف شوو کسانو باندې تسلط وساتل شي او یا هم دا چې دغه اختطاف د دې لپاره دی چې قرباني و وژل شي.

د اختطاف شوو کسانو په زیاتو قضیو کې د دولت ضد عناصرو  حکومتي ملکي کارمندان او قراردادیان ، د دولتي کارمندانو د کورنیو غړي  ، هغه کسان چې پرې د دې ګومان شوی چې د دولت او یا هم امنیتي ځواکونو څخه ملاتړ کوي او همدارنګه افغان ملي پولیس چې ملکي موقف لري او د افغان امنیتي ځواکونو پخواني غړي تر برید لاندې نیولي دي.  په ډیری پیښو کې د دولت ضد عناصرو اختطاف شوي کسان د محلي مشرانو ، د دولت له خوا د امتیازونو ورکولو ، د قربانیانو له خوا د دې ژمنتیا چې د دغه شان فعالیتونو څخه به لاس اخلي او یا هم دا چې هغوی به د پیسو او تاوان په ورکړې سره آزاد کړي. په ځینو حالاتو کې د دولت ضد عناصرو کسان تښتولي او هغوی یې پرته له دې چې دغه د تښتونې عمل ومني هغوی یې ساتلي دي او د ورک شوي کس د سرنوشت په اړه یې معلومات نه دي ورکړي.

زیاتره مړینې او ژوبلې د اختطافونو په پایله کې را منځ ته کیږي چې د دولت ضد عناصر په قصدي توګه تر اختطاف لاندې کسان وژني ( اکثره وخت دولت پلوه ځواکونو ته د جاسوسۍ په تور) او یا دا چې په نښه شوي قربانیان د اختطاف په وړاندې د مقاومت په پایله کې وژل شوي دي.  د بیلګې په ډول ، د مۍ په یوولسمه نېټه ، د دولت ضد عناصرو د فراه د ولایت دپشت رود د ولسوالۍ د احصایې رییس د خپل کور څخه اختطاف کړ هغه یې یوې  شاړې ودانۍ ته یووړ او سر یې ور څخه پرې کړ. ټپي کېدنې چې د وهلو په پایله کې قربانیانو ته رسیدلي دي او یا دا چې ورته د دې له امله زیان رسیدلی دی چې د تیښتې هڅه یې کړې ده. د بیلګې په ډول ، د مۍ په ۱۷ مې نېټه ، د لغمان ولایت د علینګار په ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو  یو د دندې څخه رخصت افغان ملي پولیس چې د تیښتې هڅه یې کړې وه په ډزو وویشت او یوه دولس کلنه نجلۍ یې ټپي کړه. د دولت ضد عناصرو هغه افغان ملي پولیس چې د دې راپور د لیکلو پر مهال لا هم په اسارت کې و ونیولو.

---

[۱۷۲] د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د کنوانسیونونو الحاقیه دوهم پروتوکول در بیمه مشترکه ماده (ب)  او د دوهم الحاقیه پروتوکول ۴ ماده په واضح ډول د "  ملکیانو اختطافونه" منع کوي. یوناما یواځې د هغو اختطافونو لټه کوي چې په جګړه کې د ښکیل یو اړخ له خوا ترسره شوي وي. د اختطاف او تښتونې پیښې چې د جنایت کارانو ، قومي او نورو ډلو له خوا چې د رواني وسله والې جګړې سره په تړاو کې نه دي په دې راپور کې نه دي ځاي شوي.

[۱۷۳] د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه تر جون د ۳۰ نیټې پورې یوناما ۱۴۳ د اختطاف پیښې مستندې کړې دي چې په پایله کې یې ۳۵ ملکي تلفات ( ۲۷ میرېنې او آته ژوبلې) مستند کړې دي.

یوناما همدارنګه د هغو ملکي اختطاف شوو کسانو د وهلو ، مجازات کولو ، د لوټلو او نورو جرمي اعمالو پېښې مستندې کړې دي چې د دولت ضد عناصرو په اسارت کې دي.[۱۷٤] د بیلګې په ډول ، د جون په ۲۸ مه نېټه ، د دولت ضد عناصرو د پکتیا ولایت د ګردیز په ولسوالۍ کې شپږ ملکي کسان اختطاف کړل ، چې په کې پنځه کلیوال او یو تن د بشر پالنې د موسسې رضا کار شامل وو. د دولت ضد عناصرو دغه پنځه کلیوال خوشې کړل خو هغه رضاکار یې له ځان سره وساتلو. د دغې موسسې کارمندانو بیا وروسته د نوموړي جسد د جون په ۳۰ مه نېټه وموند- ګڼو سرچینو د دې راپور ور کړ چې د هغه مټې او پښې یې وړاندې تر دې چې په ډزو یې و وژني ، ماتې کړې وې.

یوناما مشاهده کړې ده چې د هغه مستقیم زیان سربیره چې د وژنې او ټپي کېدنې په صورت کې را منځ ته کیږي د اختطاف عمل نور ډیر شدید فزیکي او ذهني صدمات رامنځ ته کوي. د دولت ضد عناصر اکثره وخت قرباني د اوږدې مودې لپاره ساتي او په ځینې وختونو کې هغوي د اعدامونو ، مړینو او تهدیدونو تر ډار لاندې راولي او یا یې د ارواپي ناوړه چلند د نورو ډولونو سره مخ کوي. د پخوانیو اختطاف شوو کسانو سره یوناما د دې یادابښت اخیستی دی چې دغه ناورین د آزادولو سره پای ته نه رسیږي — په ګڼ شمیر مستندو شوو قضیو کې د دولت ضد عناصرو د قربانیانو او د هغوي د کورنیو څخه پیسې ، شتمنۍ په زور اخیستي دي ، د هغوي نقل وحرکت یې تر څار لاندې نیولی او یا یې هم د دوي کورنۍ ډارولې دي چې دوي به د پیسو ورکولو ته دوام ورکوي.

د دې سربیره د قربانیانو د کورنۍ غړو دغه روحي فشار ګاللی دی چې نه پوهیدل دغه قربانیان ژوندي دي او که مړه ، د قرباني د حالت څخه یې آګاهي نه درلودله او دا چې د دوي د کورنې غړی به خوشې شي او کنه. په نورو حالاتو کې د کورنیو سره د تاوان لپاره تماس نیول شوی دی او یا هم دا چې د هغوي سره د خپلوانو د خوشې کولو په موخه د نورو شرایطو د پوره کولو لپاره اړیکه نیولې ده.

***د هزاره قوم د ملکیانو اختطاف***

یوناما د دې یادونه کوي چې د دولت ضد عناصرو د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې په لسو پیښو کې د هزاره قوم ۹۷ تنه اختطاف کړي دي. یواځې د یوې پرته ټولې په هغو ساحو کې را پیښې شوې دي چې هزاره او غیر هزاره ټولنې په ګډه اوسیدلې لکه په غزني ، بلخ ، سرپل ، فاریاب ، ارزګان او غور ولایتونو کې . یوناما د ۹۷ اختطاف شوو هزاره ګانو له جملې څخه د ۶۷ هزاره ګانو آزادي تایید کړې ده.[۱۷۵] د اختطاف لپاره انګیزې بیلابیلې وې او په هغو کې اختطاف شوي کسان د تاوان ، د توقیفیانو د تبادلې لپاره ، او یا هم په دې شک چې د افغان امنیتي ځواکونو غړي دي نیول شوي ، په داسې حال کې چې په ځینو قضیو کې انګیزه نامعلومه وه. په یوه پیښه کې چې ډیره زیاته توجه یې جلب کړه هغه د دولت ضد عناصرو له خوا د زابل د ولایت د شاجوي په ولسوالۍ کې وشوه چې د ملکي بسونو څخه ۳۰ تنه هغه هزاره مسافر اختطاف شول چې د فبرورۍ په ۲۳ مه نېټه د هرات څخه د کابل په لور په حرکت کې وو. د مۍ په یوولسمه نېټه د دولت ضد عناصرو ۱۹ تنه اختطاف شوي کسان د هغو توقیف شوو

---

[۱۷٤] د څلورو استثناتو سره چې دولت پلوه ځواکونو له خوا ترسره شوي دی ، د دولت ضد عناصر ټول په هغو پیښو کې شامل وو چې هغه د شخړې اړوند اختطافونه وو. یو ناما د اختطاف په یوې پیښه کې د ملکي وګړي مړینه مستنده کړې ده چې د غزني د ولایت د مقر په ولسوالۍ کې د ملي پاځون غړو ته منسوبه ده. د مارچ په لومړۍ نېټه د ملي پاځون دوو غړو یو ملکي ډریور وتښتولو څو د هغه موټر غلا کړي او وروسته یې هغه و واژه. د پیښې افغان ملي پولیس د مارچ په ۷ نېټه د ملي پاځون کوونکو دوه تنه ونیول او عدلي تعقیب یې روان دی.

[۱۷۵] یوناما د دې یادونه کوي چې د دولت ضد عناصرو کېدلای شي نور ډیر اختطاف شوي کسان خوشې کړي وي ، خو د خوشې کولو تصدیقول ننګونې راپاروي ځکه چې اکثره وخت د خوشې کولو لپاره شرط دا وي چې قرباني باید د خپل اختطاف په ا ړه هیڅ ډول معلومات خپاره نه کړي.

کسانو د دوی په مقابل کې خوشې شول چې د دولت په ولکه کې وو.[۱۷۶] د نورو یوولسو تنو اختطاف شوو هزاره کسانو سرنوشت نا معلومه دی.[۱۷۷]

### *د بشر پالنې د کار کوونکو اختطاف*

یوناما په ژوره اندیښنې سره د دې یادونه کوي چې د دولت ضد عناصر و د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د اختطاف په ۱۵ پیښو کې دبشر پالنې کار کوونکي هدف ګرځولي دي. د ۴۴ کسانو د اختطاف وروسته چې د بشر پالنې د مرستو کار کوونکي او د غیر دولتي موسسو کار مندان یې هدف ګرځولي وو شپږ یې وژل شوي ، یو یې په اسارت کې دی او ۳۷ قربانیان خوشې شوي. درې نور د اختطاف پیښې چې د بشر پالنې د ماین پاکولو موسسې یې هدف وګرځولې د هغو په پایله کې ۳۴ کسان اختطاف شول چې ټول یې بیا وروسته خوشې شول. په یوه پیښه کې چې د بشر پالنې د مرستې کار کوونکي یې هدف ګرځول طالبانو د یوې نړیوالې غیر دولتي موسسې " *ماشومان وژغورئ* " پنځه افغان کار کوونکي د مارچ په لومړۍ نېټه د ارزګان د ولایت په تیرینکوټ کې اختطاف کړل. د اپریل په لسمه نېټه ، چارواکو د هغوی جسدونه وروسته له هغې چې طالبانو د قربانیانو کورنیو ته د هغوی د موقعیت په اړه معلومات ور کړل ، وموندل.

### *د توقیف شوي/ یرغمل شوي د تبادلې په موخه اختطاف*

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا اته داسې پیښې ثبتې کړي دي چې په کې ملکیان د هغو کسانو د تبادلې په موخه اختطاف شوي دي چې د افغاني ځواکونو له خوا ساتل شوي دي. د بیلګې په توګه ، د مارچ په لسمه نېټه ، د دولت ضد عناصرو اوه ملکیان او یو تن محلي پولیس وروسته له هغې چې د دولت ضد عناصرو دوه تنه د افغان ملي پولیسو له خوا ونیول شول اختطاف کړل. د مارچ په یوولسمه نېټه ، محلي مشرانو د دوو نیول شوو جنګیالیو د یرغملو شوو کسانو سره د تبادلې په موخه منځګړتیا وکړه او دغه دوه جنګیالي خوشې شول.

## د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکیانو اختطاف

یوناما همدارنګه د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکیانو د اختطافولو څلور پیښې مستندې کړي دي چې په هغو کې د اختطاف یوه پیښه په دې موخه ترسره شوی وه چې د دولت ضد عناصرو له خوا د نیولو شوو یرغملو کسانو سره یې تبادله کړي. د مۍ په ۲۹ مه نېټه ، د دولت پلوه وسله والې ډلې له خوا ۱۸ تنه ملکیان اختطاف شول چې داسې ګومان پرې کېدلو د طالبانو سره تړاو لري. د همدغې ورځې په لومړیو کې طالبانو د غور د ولایت د چارسدې په ولسوالۍ کې د پوهنې د ریاست یو غړی اختطاف کړ ، د دې په مقابل کې د دولت پلوه ځواکونو له خوا هغه ملکیان اختطاف شول چې پرې ګومان کیدلو د طالبانو سره اړیکي لري او دا د دې لپاره چې د پوهنې د ریاست د غړي د ازادولو زمینه برابره کړي . د محلي مشرانو د منځګړتیا د لارې دواړو خواوو یرغمل شوي کسان د مۍ په ۳۱ مه نېټه ازاد کړل.[۱۷۸]

---

[۱۷۶] د ۲۰۱۵ کال د مۍ په ۱۱نېټه د پکتیا د ولایت د ګردیز په ښار کې د جاغوریو د ولسوالۍ د پولیسو د مشر سره د یوناما ټیلیفوني مرکه.

[۱۷۷] یوناما مؤثق خو نه تایید شوي معلومات ترلاسه کړي چې د دولت ضد عناصرو درې اختطاف شوي کسان اعدام کړي دي او دوه نور د طبیعي لاملونو په وجه د اختطاف پر مهال مړه دي. د اختطاف شوو کسانو هویت او همدارنګه هغه اتهامونه چې له امله یې هغوی توقیف کړي دي هم نه دي تایید شوي ، که څه هم یوناما داسې معلومات تر لاسه کړي چې د توقیف شوو کسانو په ډله کې چې د حکومت له خوا نیول شوي ښځې او ماشومان شامل وو.

[۱۷۸] د ۲۰۱۵ کال د جون په ۱۱-۱۵ نیټو د غور په ولایت کې د ټولنې د مشرانو او دولتي چارواکو سره د یوناما ټیلیفوني مرکې.

د بشر پالنې او د بشري حقونو نړیوال قوانین د یرغمل کولو عمل ، پخپل سر د ازادۍ سلبول ، او په جبر سره بې درکه کول منع کوي.[۱۷۹] یوناما په جګړه کې پر ښکیلو ټولو خواوو باندې غږ کوي چې که د اختطاف  موخې چې هر څه وي د ملکیانو یرغمل کول پای ته ورسوي. یوناما د افغانستان حکومت ته د نړیوالو بشري حقونو د لاندې د هغه د مکلفیتونو یادونه کوي چې پخپل خاوره کې د ټولو اشخاصو لپاره دهغوی د ازادۍ ، ژوند ، د جسماني سلامتیا او د نقل او حرکت حقونه خوندي وساتي.

د اختطاف د پېښو بېلګې:

- د فبرورۍ په ۱۶مه نېټه ، دولت ضد عناصرو د فراه د ولایت د شیب کوه په ولسوالۍ کې یو ډرېور اختطاف کړ ، او د هغه د آزادۍ لپاره یې د پیسو غوښتنه وکړه. د مارچ په ۱۶مه نېټه ، محلي کلیوالو د ډرېور د بدن پاتې شوني وروسته له هغه چې پیسې یې د هغه د آزادۍ لپاره ور نه کړې  د قلعه کاه په ولسوالۍ کې ومونډل.
- د اپریل په ۱۴مه نېټه ، د دولت ضد عناصرو د غزني ولایت د ارجستان د ولسوالۍ ۱۴ نارینه هزاره ګان اختطاف کړل ، چې د راپورونو له مخې د هغو لوړپوړو قوماندانانو د تبادلې په موخه وو چې په همدغه ورځ د دولت پلوه ځواکونو له خوا نیول شوي وو. د حکومتي سرچینو په حواله ، د اپریل په ۱۷مه نېټه ، د دولت ضد عناصرو د تېښتول شوو کسانو د ځلورو څخه وروسته له هغه چې حکومت یې غوښتنې و نه منلې  سرونه پرې کړل ، او وروسته یې پاتې ۱۰ یرغمل شوي خوشې کړل.
- د جون په ۲۸مه نېټه ، د دولت ضد عناصرو یو ۱۷ کلن هلک چې د فراه د ولایت دفراه په ښار کې د افغان محلي پولیس د افسر زوی و اختطاف کړ. د هغه نیونکو دغه هلک په ډزو وواژه. د هغه کورنۍ د هلک جسد د جولای په شپږمه نېټه وموند.

## طالبانو د هغو بریدونو مسوولیت پرغاړه اخیستی چې ملکیانو ته یې تاوان رسولی

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ، طالبانو په ډاګه د ۲۳۹ بریدونو مسوولیت منلی دی چې په کې ۱۰۰۲ ملکی تلفات(۲۵۹ مړیني او ۷۴۳ ټپي کېدني) رامنځته شوي دي. دغو تلفاتو کې یواځې هغه ملکي مړیني او ژوبلې شاملې دي چې د هغو بریدونو په پایله کې را منځ ته شوي دي چې طالبانو یې په ډاګه د دوي په ویب پاڼه او ټویټر کې مسوولیت منلی دی.[۱۸۰] د دغو ۲۳۹ بریدونو څخه ۱۳۲ یې د افغان امنیتي ځواکونو ، نړیوالو نظامي ځواکونو او دولت پلوه وسله والوډلو پر خلاف تر سره شوي دي ، په داسې حال کې چې په ۱۰۷ بریدونو کې په قصدي توګه ملکي هدفونه موخه ګرځیدلي چې په هغو کې قومي مشران ، ملکي دولتي مامورین او عدلي سکتور کار کوونکي او هغه ملکي هدفونه چې په بهرنیو پرمختیایي کار کوونکو پورې اړه لري شامل دي.  د هغو بریدونو چې طالبانو یې مسوولیت منلی دی د تفصیلي ویش او د هدف د نوعیت لپاره د دې راپور لومړی ضمیمه وګورئ.

[۱۷۹] د ژنیو د کنوانسیونونو دریېمه مشترکه ماده په واضح ډول یرغمل کول منع کوي او داد بشر پالنې د نړیوال عرفي قانون څخه سرغړونه بلل کیږي. وګورئ د بشر پالنې نړیوال عرفي قانون ، قاعده ۹۶ ، په دې پته د لاس رسي وړ دی: http://www.icrc.org/customry-ihl/eng/docs/V1-Rul_rule96 , په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د جون په ۲۲ نېټه کتل شوې. وګورئ ، د بشر پالنې نړیوال عرفي قانون ، ۹۸ قاعده ، د اجباري لادرکه کولو د منع په اړه په دې پته د لاس رسي وړ دی: http://www.icrc.org/customry-ihl/eng/docs/v1_chaCchapter32_rule98 , په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د اګست په ۲ نېټه کتل شوې او د بشر پالنې نړیوال قانون ، ۹۹ قاعده ، پخپل سر د ازادۍ سلبولو منع ، په دې پته د لاس رسي وړ دی: https://www.icrc.org/customry-ihl/engl/docs/v1 cha chapter32 rule 99. last accessed on 2 August 2015 ,

[۱۸۰] هغه ملکي تلفات چې د یوناما له خوا طالبانو ته منسوب دي ، چې د هغو لپاره طالبانو د مسوولیت ادعاء نه ده کړې ، د دولت ضد عناصرو تر جتر لاندې راغلي دي.

د ملکیانو پرخلاف د قصدي بریدونو چې طالبانو یې مسوولیت منلی دی بیلګې په لاندې توګه دي:

- د هلمند په ولایت کې د دیني مشر هدفي وژنه – د جنورۍ په ۱۲مه نېټه ، طالبانو د هلمند ولایت د لشکرګاه په ښار کې یو دیني عالم او دعلماوو د ولایتي شورا غړی د هغه د کور تر څنګ په ډزو و واژه. طالبانو د برید مسوولیت ومنلو.[۱۸۱]
- د کابل په ښار کې د لویې څارنوالۍ د دفتر د کار کوونکو په بس ځانمرګی برید- د مۍ په لسمه نېټه ، یو تن ځانمرګي بریدګر په ځان پورې تړلی چاودیدونکی توکی د کابل په ښار کې د لویې څارنوالۍ د دفتر د کار مندانو د بس په وړاندې وچولو. د دغې چاودنې له امله پنځه څارنوالان ( چې په کې درې ښځې شاملې وې) و وژل او نور ۱۹ تنه ( د څلورو ښځو په ګډون) ژوبل شول. په ټپیانو کې د لویې څارنوالۍ د دفتر کار مندان ، یو ډرېور او خوا وشا ولاړ ۱۲ ملکي کسان شامل وو. طالبانو د دغه برید مسوولیت منلی او پخپل بیان کې یې ویلي دي چې د لویې څارنوالۍ ۱۸ کارمندان یې وژلي دي.[۱۸۲]
- د کابل په ښار کې د پارک پیلس په هوټل باندې برید- د مۍ په ۱۳مه نېټه ، د طالبانو یو بریدګر په هغو ملکیانو باندې برید وکړ چې هلته یې ماښامنۍ خوړله ، په دغه برید کې ۱۴ ملکیان و وژل شول چې په کې درې ښځې شاملې وې او اوه تنه ملکیان یې ټپیان کړل. طالبانو د دغه برید مسوولیت منلی دی او ادعاء یې کړې چې د ناټو د غړو هېوادونو څخه ټول ملکیان مشروع هدفونه دي.[۱۸۳]
- د کابل په ښار کې د افغانستان په ملي شورا باندې ډله ییز برید – د جون په ۲۲مه نېټه ، طالبانو د کابل په ښار کې د افغانستان د ملي شورا پرخلاف یو ډله ییز برید تر سره کړ. دغه برید کې په موټر کې د ځای پرځای شوي چاودېدونکي توکي ځانمرګی برید ، د سپکو وسلو ډزې او آر پي جي شامل وو چې په کې یوه میرمن ، یوه نجلۍ و وژلې شوې او نور ۳۹ تنه ملکیان چې په کې نهه ښځې او پنځه ماشومان شامل وو ژوبل شول. د پارلمان غړي په مصوونه توګه و ایستل شول ، په داسې حال کې چې اکثره قربانیان د پارلمان ودانۍ ته څېرمه موجود وګړي وو. طالبانو د دغه برید مسوولیت منلی دی.[۱۸۴]

یوناما په دې ټینګار کوي چې د بشر پالنې نړیوال قانون ټول هغه بریدونه چې د ملکیانو پر خلاف کیږي ( مګر په داسې وخت کې چې هغوی په مستقیم ډول په نښتو کې برخه ولری) او ملکي تاسیساتو په وړاندې( مګر په هغه صورت کې چې هغه نظامي هدفونه وي) منع کوي. دغه ډول بریدونه کیدلای شي چې په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي. یوناما بیا یادونه کوي چې د بشر پالنې نړیوال قانون په جګړه کې د ښکیلو ټولو اړخونو لپاره د طالبانو په شمول الزامي دی.

---

[۱۸۱] طالبانو پخپله ویب پاڼه کې د دغه برید مسوولیت پر غاړه اخیستی دی ، پته: http://shahamat-english.com/index.php/news/52213-police-officer-kills-nawzad-governor,-police-chief-and-intilgence-director په دې پسې سملاسي هغوي د خپلې ویب پاڼې څخه دغه مطلبا ایسته کړ.

[۱۸۲] وګورئ د طالبانو د ۲۰۱۵ کال د مۍ د ۱۰ نیټې عملیاتي راپور ، په دې پته د لاس رسي وړ دي: http://justpaste.it/11tg. Last accessed 1 July 2015 .

[۱۸۳] وګورئ د طالبانو اعلامیه په http://alemara1.org/?p=12202

[۱۸۴] وګورئ د طالبانو اعلامیه په : http://shahamat-english.com/martyrdom-attack-underway-on-parliament-in-haert-of-kabul-city/.

## بې توپیره[۱۸۵] او یا نامتناسبه[۱۸۶] بریدونه چې امنیتي ځواکونه هدف ګرځوي

د ۲۰۱۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې طالبانو د ۱۳۲ بریدونو مسوولیت منلی دی چې په کې امنیتي ځواکونه هدف ګرځیدلي دي او د ملکي تلفاتو لامل شوي دی. دغه بریدونه په عامه ځایونو کې واقع شوي دي چې په کې بې توپیره وسلې لکه ځانمرګي بریدونه او د نورو ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو څخه کار اخیستل کیږي چې پر نظامي هدفونو او ملکیانو او یا هم په ملکي تاسیساتو باندې پرته له توپیره[۱۸۷] ګوزارونه کوي او یا هم په دې توقع سره چې برید کېدلای شي د وړاندوینې له مخې د مشخصې او مستقیمې نظامي بریا په پرتله د زیاتو ملکیانو د تلف کیدو لامل کیږي.

د وسله والو ځواکونو په وړاندې د بریدونو په پایله کې د نا متناسبه زیان په اړه نمونه یې قضیې په لاندې توګه دي:

- د جون په لومړۍ نېټه ، له لېرې څخه کنترولیدونکی ځاي پرځاي شوی چاودېدونکی توکی چې د افغان ملي پولیسو یوه نقلیه وسیله یې هدف ګرځولې وه وروسته وچاودېد او څلور ملکیان یې و وژل چې په یوې نقلیه وسیله کې یې د زابل د ولایت د قلات په ولسوالۍ کې سفر درلود. طالبانو د برید مسوولیت منلی دی.[۱۸۸]
- د جون په ۱۰ نېټه ، طالبانو د ننګرهار ولایت د حصارک په ولسوالۍ کې د افغان امنیتي ځواکونو او د ولسوالۍ اداري مرکز تر برید ونیول ، چې د دې لپاره یې د هاوان ګولۍ او د سپکو وسلو څخه کار واخیست. د سرچینو د راپور له مخې د برید پر مهال طالبانو د ۸۰ او ۱۰۰ ترمنځ د هاوان ډزې وکړې. په برید کې دوه ملکیان و وژل شول (میره او میرمنه) او ۱۸ نور ملکیان د پنځو ښځو ، دریو هلکانو او یوې نجلۍ په ګډون ژوبل شول. د هاوان ګولیو د اوسیدنې سیمې زیانمنې کړې او د ملکي وګړو کورونه ، یو ښوونځی او دولتي ودانۍ یې تاواني کړې دي. طالبانو د برید مسوولیت منلی او ویلي یې دي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو غړي یې وژلي او ژوبل کړي دي.[۱۸۹]

که څه هم دغه بریدونه د امنیتي ځواکونو پرخلاف دي ، د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو کارول او غیر مستقیمې وسلې لکه هاوانونه ، لاسي بمونه او راکټونه چې د ملکي وګړو د میشت سیمو سره نږدې پراخه ساحه تر ګوزار لاندې را ولي کیدلای شي چې د بې توپیره او نامتناسبه بریدونو په لړ کې راشي او په دې توګه د بشر پالنې د نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې بلل کیږي او همدارنګه کېدای شي چې په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي.[۱۹۰]

---

[۱۸۵] وګورئ د آي سي آر سي د بشر پالنې نړیوال عرفي قانون ، قاعده ۱۲. بې توپیره برید هغه برید دی چې : (الف) د یو ځانګړي نظامي هدف پر لور نه وي متوجه ؛ (ب) چې هغه کې د داسې میتود څخه کار اخیستل کیږي یا دهغې جګړې په مانا وي چې هغه د یو ځانګړي نظامي هدف پر لور نه وي هدایت شوی ، (ج) چې هغه یو داسې میتود او د جګړې په مانا وي چې دهغه اغیزه نه شي کیدلای محدوده شي لکه چې د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې یې غوښتنه کیږي ؛ او په نتیجه کې په هر ډول دغه قضیه کې چې داسې خصوصیت ولري چې نظامي هدفونه او ملکیان یا ملکي هدفونه پرته له توپیره تر هدف لاندې ونیسي.

[۱۸۶] وګورئ د آي سي آر سي د بشر پالنې د نړیوال عرفي قانون ۱۴ قاعده ، په برید کې تناسب. د داسې برید ترسره کول چې هغه کیدای شي د ملکیانو ژوند په تصادفي ډول له منځه یوسي ، ملکیانوته ژوبلې او ملکي تاسیساتو ته تاوان او یاهم دواړه رامنځته کړي ، چې هغه د وړاند وینې وړ د نظامي امتیاز د تر لاسه کولو په تناسب زیات وي ، ممنوع دي.

[۱۸۷] د لا نور تفصیل په موخه په دې راپور کې د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو ،ځانمرګو او پیچلو بریدونو برخې وګورئ.

[۱۸۸] د طالبانو اعلامیه په دې پته وګورئ: http://alemara1.org/?p=15081

[۱۸۹] د طالبانو اعلامیه په دې پته وګورئ : http://shahamat-engglish.com/12-minions-killed-in-country-east.

[۱۹۰] بې توپیره بریدونه هغه بریدونه دي چې هغه د یو مشخص نظامي هدف پر لورنه وي ؛ چې هغه د داسې جګړې په مانا وي چې هغه نه شي کیدلای د یوه مشخص نظامي هدف پر لورهدایت شي ، یا کوم چې یو داسې میتود او وسیله د جنګ وي چې د هغه اغیزې محدودې نه وي ، لکه چې د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې یې غوښتنه کیږي او په پایله کې کله چې په هر دغه شان قضیه کې د داسې خصوصیت لرونکي وي چې نظامي هدفونه ، ملکیان او ملکي تاسیسات پرته له توپیره تر ګوزار لاندې راولي. وګورئ ۱۲ قاعده ، آي سي آر سي ، د بشر پالنې نړیوال عرفي قانون.

يوناما پخپل هغه غبر چې پر طالبانو يې کړی دی بيا ټينګار کوي څو د ملکي وګړو د ميشت په سيمو کې د بې توپيره تاکتيکونو کارول و دروي.

## په وسله واله جګړه کې د ملکيانو د ساتنې په اړوند د طالبانو بيانونه

د ۲۰۱۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې په وسله واله جګړه کې[191] طالبانو د ملکيان دساتنې په اړه ۴۰ عام بيانونه نشر کړي ،چې په دې کې د اسلامي اصولو[192] له مخې د ښځو د حقونو د ساتنې يوه اعلاميه هم شامله ده. دغه اعلاميې په دغو مشخصو مواردو کې د يو مثبت انکشاف څرګندويه دي خو دوام داره د " ملکي" څخه داسې تعريف لري کوم چې د نړيوال قانون سره مطابقت نه لري.[193]

د اپريل په ۲۲ نېټه ، طالبانو يوه اعلاميه خپره کړه او په هغې کې يې ويلي دي چې د هغوی له خوا د " عزم" په نوم په پرغليزو عملياتو کې به دغه ډله د " د ګوډاګي رژيم چارواکي... او نور مضره افراد"هدف ګرځوي ، په داسې حال کې چې همدارنګه ادعاء کوي چې " د ملکيانو ژوند او مال به محافظت او و ژغوري".[194] دغه بيان کې همدارنګه " د ګوډاګي رژيم په ملکي کارمندانو او کار ګرانو " غبر شوی چې د دولتي څوکيو او موقفونو څخه استعفاوې ورکړي او داچې" د ټولو هغه کارمندانو او افرادو لپاره د مصوونه او سوله ييز ژوند شرايط برابروي چاچې د دښمن ليکې پرې ايښې دي."[195]

د دې سره سره چې د حکومتي کارمندانو ملکي حيثيت د منلو با وجود يوناما د هغو ملکي تلفاتو مستند کولو ته ادامه ورکړې چې د هغو پيښو په پايله کې رامنځته شوي دي چې ملکي پرسونل او تاسيسات يې هدف ګرځولي دي کوم چې د بشر پالنې د نړيوال قانون له مخې ممنوع دي. دبيلګې په توګه د طالبانو په اعلاميه کې په کابل کې د مې په ۱۹ نېټه د عدليې پر وزارت د ځانمرګي بريد مسووليت په منلو سره " طالبانو د دې ژمنه وکړه چې د غلام رژيم قاضيان ، څارنوالان ، د عدليې د وزارت پرسونل او نور دغه ډول کسان به هدف ګرځوي."[196]

د طالبانو دغه ريکارډ د عامو اعلاميو او په مستند شوو اقداماتو کې د طالبانو د پاليسۍ ښکارندويه دی چې په مستقيم ډول ملکيان د بشر پالنې د نړيوال قانون سره په مغايرت کې تر هدف لاندې را ولي.

---

[191] د مثال په توګه د طالبانو اعلاميه وګورئ ،" د احتياطي تدابيرو په اړه د اسلامي امارت د مشرتابه ځانګړې لارښوونې چې په روان جهاد کې د ملکي تلفاتو مخنيوی وشي. " د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ ۴ نېټه ، په دې پته د لاس رسي وړ ده: http:// www.shahamat-english.com/index.php/paighamoona/51926-specail- instructions- to- prevent -civilian-casualties-in-the-ongoing-jihad, last accessed 15 January2015, او د ملکي تلفاتو په اړه د يوناما د راپور په اړه د اسلامي امارت د وياند يادونې ، ۱۹ فبروري ۲۰۱۵ ، پهه دې پته د لاس رسي وړ دی ؛ http://alemarar1.org/?p=2204, last accessed 6 July 2015

[192] د طالبانو اعلاميه ، " د دغې اعلاميې پوره متن د طالبانو د اسلامي امارت د سياسي دفتر د هيآت له خوا د پګواش په نړيوال څېړنيز کنفزانس کې وړاندې شوی دی." د ۲۰۱۵ کال د مۍ ۵ نيټه ، په دې پته د لاس رسي وړ دی: http://shahamat-english.com/full-text-of-the-statement-delivered-by-the-delegation-of-political-office-of-the-islamic-emirate-in-the-international-pugwash-research-conference/, last accessed, 27 June 2015.

[193] په وسله واله جګړه کې د ملکيانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۴ کال د کلني راپور ۷۰-۷۷ مخونه وګورئ.

[194] د " پسرلنيو عملياتو" چې د عزم په نوم يادېږي دپيل په اړه د اسلامي امارت د مشرتابه د شورا د ۲۰۱۵ کال د اپريل د ۲۲ نيټې اعلاميه وګورئ ، هغه په دې پته د لاس رسي وړه ده. http://shahamat-english.com/index.php/paighamoona/54149-statement-by-the-leading-council-of-the-islamic-emirate-reagrding-the-inauguration-of-spring -operations-called-%E2%80%98azm%E2%80%99-resolve, lsataccessed 24 April2015, available in Pashto at http://alemara1.org/?p=8338, last accessed 6 July 2015.

[195] همدا ماخذ

[196] د ۲۰۱۵ کا د مۍد ۱۹ لپاره د طالبانو د عملياتو راپور ، په دې پته د لاس رسي وړ دی: hhttp://justpaste.it/18ct, last accessed 27 June 2015.

یوناما همدارنګه د دې یادونه کوي چې د اپریل د ۲۲ نېټې د " عزم" اعلامیه د طالبانو د پخوانیو ژمنو[۱۹۷] پخلی کوي چې " هغه مجاهدین څوک چې د ملکي خلکو ژوند او شتمنیو په لړ کې بې پروا او بې احتیاطه دي او د هغوی د عملیاتو په پایله کې ملکي تلفات اوړي د جهاد او شریعت د مقرراتو او طرزالعملونو سره سم به مجازات شي." [۱۹۸] تر اوسه پورې طالبانو د دې کمیسیون له خوا د سرته رسیدلو پلټنو په اړه هیڅ عام معلومات نه دي چمتو کړي.

### *د طالبانو هغه اعلامیې چې په کې د دې ژمنه شوې چې د ښځو د حقونو ساتنه به کوي*

د مۍ په ۵ نېټه ، طالبانو د خپلې اعلامیې یو نقل د هغوی د استازي له خوا په قطر کې په نړیوال کنفرانس کې خپور کړ ، چې په کې بشری حقونو ته د ښځو د حقونو په شمول بیلابیلې اشارې شوې وې . په ځانګړې توګه هغوی ژمنه کړې وه چې " د ښځو د ژوندانه د ټولو هغو حقونو چې د اسلام په مبارک دین کې دوی ته ورکړل شوي دي " ملاتړ به کوي ، چې په کې د ژوندانه ، پخپله خوښه د واده ، د کار ، د شتمنې درلودلو ، میراث او زده کړې حقونه شامل دي چې د شریعت او افغان کلتور سره په سمون کې وي.[۱۹۹]

یوناما په طالبانو غږ کوي چې د ښځو د حقونو په لړ کې د هغو مشخصو اقداماتو د لارې چې د ښځو لپاره د دې زمینه مساعدوي څو هغوی د خپلو لاینفکو حقوقو څخه ګټه پورته کړای شي خپلو ورکړل شوو ژمنو متعهد و اوسي . یوناما همدارنګه طالبان دې ته رابولي چې د ښځو د حقونو لا هم وضاحت وکړي او په دې برخه کې خپله هره ژمنه سرته ورسوي.

### *اسلامي دولت (داعش)*[۲۰۰]

په نوو پرمختیاوو کې هغو ډلو چې د پخپل سر اعلان شوي اسلامي دولت د ترهګرې ډلې سره یې بیعت اعلان کړی دی او په افغانستان کې د عربي ژبې مخفف ( داعش) په مانا دی د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یې د ملکي تلفاتو د مسوولیت منل پیل کړي دي. یوناما ۱۰ داسې ملکي تلفات چې په لسو پیښو کې را منځ ته شوي( اوه مړیني او درې ژوبلې) مستند کړي دي چې دغو ډلو ته منسوب دي ، او دا په لومړي سر کې د هېواد په ختیځ سیمه کې دي. دغه ډلې د اسلامي دولت د رسنیو د هغو تاکتیکونو څخه کار اخلي چې په نورو هېوادونو کې یې دغې ډلې کاروي لکه په ټولنیزو رسنیو د لارې د سرونو د پرې کولو ښوول. د اسلامي دولت سره تړلې ډلې همدارنګه د ځکمنیو نښتو پر مهال چې د دولت ضد سیالو عناصرو سره یې کوي ملکي تلفات را منځ ته کوي.

---

[۱۹۷] و ګورئ په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۳ کال کلنی راپور ۳۶-۳۷ مخونه ، په وسله واله جګړه کې د ملکیانو دساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۴ کال نیم کلن راپور ۳۰ مخ. او په وسله واله جګړه کې د ملکیانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۴ کال د کلني راپور ۷۳-۷۴ مخونه.

[۱۹۸] همدا ماخذ ۴ لمن لیک

[۱۹۹] دښځو د واده کولو ، تعلیم ، کار او شتمنۍ د حقونو درلودلو په اړوند په دغه اعلامیه کې دا منل شوي دي چې :" ښځې د دې حق لري چې د خپلې خوښې سره سم واده وکړي. هغه د ملکیت او میراث حق لري. هغه د شتمنۍ درلودلو او میراث حق لري. هغه دکار حق لري." د شخص د امنیت په اړه دغه اعلامیه د دې یادونه کوي " تر هرڅه سره د ښځو ژوند چې دهغوی بنسټیز حق دی د ګواښ سره مخ دی."

[۲۰۰] په افغانستان کې هغه ډلې چې د اسلامي دولت چې د عربي " داعش" کلمې ته راجع کیږي ، که څه هم د هېواد په ځینو برخو کې دغه اصطلاح د هر جنګیالي لپاره پرته د هغه د تابعیت څخه کارول کیږي. د "داعش" کلمه د " د عراق او شام داسلامي دولت" (الدولة الاسلامیة العراقیة و الشام) مخفف دی.

د هغو ملکي تلفاتو بیلګې چې د اسلامي دولت سره د تړلو ډلو له خوا را منځ ته شوي دي:

- د جون په ۱۹ نېټه ، د اسلامي دولت سره دتړلې ډلې له خوا د ننګرهار د ولایت د بټي کوټ په ولسوالۍ کې د هغه قومي مشر سر پرې شو چې د طالبانو سره د مرستې کولو تور وربانديې شوی و. د ټویټر هغه اکاونټ چې په اسلامي دولت پورې اړوند دی دغه انځورونه په همدې ورځ خپاره کړل چې په کې د نوموړي شخص څخه د سر پرې کول ښودل شوي و.
- د مۍ په ۱۰ نېټه ، د هاوان یوه ګولۍ چې د اسلامي دولت سره د تړلې ډلې او طالبانو تر منځ د ځمکنیو نښتو پر مهال توغول شوې وه د یوه ملکي وګړي پر کور را پرېوتلې او درې ملکیان یې ټپیان کړي چې دوه په کې ماشومان وو.

## ۴. د ولت پلوه ځواکونه او د ملکیانو ساتنه

دولت پلوه ځواکونه- په تیره بیا افغان امنیتي ځواکونو — د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یو شمیر ملکي تلفات را منځ ته کړي دي. یوناما ۷۹۶ ملکي تلفات( ۲۳۴ مړیني او ۵۶۲ ژوبلې) ثبت کړي دي چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا را منځ ته شوي دي چې دا د ۲۰۱۴ کال[۲۰۱] د همدې مودې په پرتله ۶۰ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د ملکي تلفاتو ډیری د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ځکمنیو نښتو په پایله کې ، په لومړي سر کې د چاودېدونکو وسلو لکه هاوانونو ، راکټونو او لاسي بمونو په وسیله وي.

یوناما ۶۵۴ ملکي تلفات ( ۱۷۴ مړیني او ۴۸۰ ټپي کېدني ) افغان امنیتي ځواکونو ته ، ۸۷ ملکي تلفات ( ۳۱ مړیني او ۵۶ ژوبلې) دولت پلوه ملیشاوو او ۵۵ ملکي تلفات ( ۲۹ مړیني او ۲۶ ژوبلې) یواځې نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب کړي دي.




## د ملکي تلفاتو د کموالي په اړه د یوې ملي پالیسې د جوړیدو په موخه سپارښتنې

د افغان امنیتي ځواکونو د ځمکنیو عملیاتو څخه د را ولاړو شویو ملکي تلفاتو د زیاتوالي ، په خاص ډول د غیر مستقیمو وسلو د کارولو په رڼا کې ، یوناما سپارښتنه کوي چې دولت دې د ملکي کسانو د تلفاتو د کموالي په موخه یوه ملي پالسې طرحه کړي کومه چې په ټولو وزارتونو ، ریاستونو او د پوځي ځواکونو په عنصرونو الزامي وي. کیدای شي دا ملي پالیسې د وزارتونو تر منځ د کاري ډلو له لخوا طرحه او په افغان قانون کې ځای پر ځای شي او د اندازې وړ ربښتنیو موخو په درلودلو سره یې د پلې کولو په موخه د یوه ملي کاري پلان لخوا ملاتړ وشي.

[۲۰۱] د ۲۰۱۴ د جنوری د لومړی نیټې څخه د جون تر ۳۰ هغې پورې یوناما ۴۹۷ ملکي تلفات( ۲۰۶ مړیني او ۲۹۱ ژوبلې) چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا رامنځته شوي دي مستند کړي دي.

د پالیسۍ په مهمو عنصرونو کې باید لاندې موارد شامل وي:

- د ملکي تلفاتو د پېښو په اړه د ازادو ، بې پرې او کټورو اطلاعاتو راغونډول او د کافي سرچینو ، ظرفیت او ملاتړ په درلودلو سره د یوه نهاد لخوا ادعاګانې.
- د اطلاعاتو د راغونډولو او غبرګون په هکله د وزارتونو تر منځ همغږي
- د میکانیزمونو جوړول څو وکولای شي داډ حاصل کړي چې تر لاسه شوې تجربې ، بیا وکتل شي او تحلیل شي.
- د مخه نیونکو تدبیرونو را منځ ته کول او د ښکیلتیا په قواعدو او د عملیاتو په معیاري طرزالعملونو کې د هغوي یو ځای کول.
- د احتساب د میکانیزمونو پیاوړي کول
- د قربانیانو او د هغوي د کورنیو لپاره د خسارې د جبران ، طبي او رواني پاملرنې روښانه او شفاف تدارک ، او ،
- د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون ، نا دولتي او نړیوالو سازمانونو سره همغږي

یوناما همدارنګه سپارښتنه کوي چې نړیواله ټولنه ، په خاص ډول د غوڅ ملاتړ ماموریت دې د افغانستان د دولت سره د دې پالیسۍ په طرحه او پلي کولو کې مرسته وکړي. یوناما همدا رنګه د دفاع وزارت لخوا د هغه نوښت ستاینه کوي چې موخه یې د ملکي کسانو د تلفاتو د مخنیوي د پالیسۍ طرحه دي د کومې لپاره چې د غوڅ ملاتړ ماموریت او یوناما تخنیکي مرسته برابروي.

## افغان سیمه ییز پولیس

*د افغان سیمه ییزو پولیسو قومندان زما خوا ته راغی او ما ته یې وویل: ته سپی! ته باید حتما کور پریږدئ. سیمه پریږده یا به زه ستا ټوله کورنۍ ووژنم. نوموړي زه د خپل ټوپک په کونداغ او بیا یې په یوه بیلچه ووهلم. هغه زه په ملا ، سر او اوږه و وهلم. ما بیهوده ژړل او ناري مې وهلې. ما وهل و زغمل او د دوو ساعتونو وروسته په هوش راغلم.*[۲۰۲]

-- د ۲۰۱۵ کال د فبرورۍ په میاشت کې د کندز په ولایت کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د یوه تن قومندان لخوا په یوه ښځه یرغل.

افغان سیمه ییزو پولیسو د هیواد په لرې پرتو سیمو کې د یوه ابتدایي مخ کښه دفاع کونکي ځواک په حیث کار ته دوام ورکړی. د ۲۰۱۵ کال د جون تر ۱۵ نیټې پورې ، د افغان سیمه ییزو پولیسو ټولټال شمیر ۲۸۴۰۰ تنه وو او په ۲۹ ولایتونو کې ۱۵۴ ولسوالي تر پوښښ لاندې لري.[۲۰۳]

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ، یوناما په ۲۷ پیښو کې چې په هغو کې افغان سیمه ییز پولیس ښکیل وو ۴۱ ملکي تلفات(۱۱ وژنې او ۳۰ ژوبلې) مستند کړي دي. که څه هم چې د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په پرتله افغان سیمه ییزو پولیسو ته د

[۲۰۲] د قرباني سره د یوناما مرکه ، کندز ښار ، کندز ولایت ، د فبرورۍ ۴ ، ۲۰۱۵ کال
[۲۰۳] په کابل کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست سره د یوناما ناسته ، د جون ۱۵ ، ۲۰۱۵ کال. د افغان سیمه یزو پولیسو پروګرام په بامیانو ،خوست ،نیمروز ،پنجشیر او سمنګان ولایتونو کې شتون نه لري.

منسوب شویو ملکي تلفاتو کچه ټیټه شوې ، یوناما د دې څواکونو لخوا د ترسره شویو جدي سرغړونو مستند کولو ته دوام ورکړی چې تر ټولو بدې پیښې یې په کندز ، بدخشان ، سرپل او کندهار ولایتونو کې واقع شوي.

د بشری حقونو تر ټولو عادی سرغړونې کومې چې افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب شوي په هغو کې سخت وهل ټکول ، د جایدادونو ویجاړول ، غلاوې ، ګواښونه او ځورونې شاملې دي. یوناما همدارنګه هغه هدفي وژنې او د ملکي کسانو نا قانونه توقیف کوم چې د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو لخوا ترسره شوي مستندې کړي دي. یوناما د ځمکنیو ښکیلتیاوو پر مهال د هغو ملکي تلفاتو مستند کولو ته دوام ورکړی کوم چې افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب شوی.

یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د ګواښ ، تهدید ، غچ اخیستنې او رټنې په هدف د ملکي کسانو د ځورونې په اړه اندیښنه لري. د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ،افغان سیمه ییزو پولیسو د ګواښلو ،ځورولو او تهدیدولو[۲۰۴] له لارې په عمدي ډول ۱۸ ملکیان ټپي کړی دي ،دا د ملکي تلفاتو په برخه کې چې د دې تاکتیکونو په واسطه را منځ ته شوی ۳۶ سلنه زیاتوالې ښې.[۲۰۵] د ځورونې او ګواښ په نتیجه کې ، یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د ملکي کسانو د جدي وهلو ټکولو پیښې مستندې کړي ، افغان سیمه ییز پولیس ملکي کسان د دولت ضد عناصرو په ملاتړ او یا د افغان سیمه ییزو پولیسو د غلا او سرغړونو په وړاندې د هغوی له خوا له ځانه د مقاومت ښولو په خاطر تورنوی. د بیلګې په توګه ، د جون په ۱۵ ، د افغان سیمه ییزو پولیسو غړو د یوه بزګر د کروندې څخه د هیندوانو د غلا هڅه وکړه. کله چې د بزګر دریو څوانو زامنو هڅه وکړه څو د هغوی مخه ونیسي او هندوانې یې یو نیسی نو د افغان سیمه ییزو پولیسو غړو د هغوي په وهلو پیل وکړ. کله یې چې مور د مداخلت هڅه وکړه ، افغان سیمه ییزو پولیسو هغه په لاس په ډزو وویشته ز. بزګر د دې پیښې په اړه ولسوال ، د ولسوالي افغان ملي پولیسو او د ولسوالی د ملي امنیت ریاست ته شکایت وکړ ، خو د دې راپور تر خپریدو پورې اړوندو چارواکو هیڅ ډول اقدام نه دې ترسره کړی.

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د هدفي او عمدي وژنو کچه لوړه شوې ، افغان سیمه ییزو پولیسو په اتو تصدیق شویو پیښو کې په عمدي توګه ملکي کسان هدف ګرځولي چې په پایله کې یې ۱۴ ملکي تلفات اوښتي(اته وژنې او شپږ ژوبلی).[۲۰۶]

د هیواد د شمال ختیځو او شمالي سیمو حالات د زیاتې اندېښنې وړ دي.[۲۰۷] یوناما د هیواد په شمال ختیځه سیمه کې ۱۴ ملکي تلفات(دوه وژنې او ۱۲ ژوبلي) او په ۲۰۱۵ کال کې په شمالي سیمه کې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا ۱۳ ملکي تلفات(دوه وژنې او ۱۱ ژوبلي) مستند کړي دي.

---

[۲۰۴] ګواښونه ،تهدید او ځورونه د تاکتیکونو هغه کتګوري ده چې د یوناما لخوا د وژنې یا زیان ،ګواښ او ځورونې کومه چې د بشری حقونو سرغړونې را منځ ته کوي د پیښو د مستند کولو لپاره کارول کیږي ، د بیلګې په توګه ، د خوځښت نا قانونه محدودیتونه یا د بیان د ازادی محدودیت ، دا عملونه ضرور نه ده چې ژوبلې یا وژنې لامل شي. پدی کتګوري کې فزیکي پیښې هم چې موخه یې د ملکیانو ګواښل ،تهدیدول یا ځورول دی شاملې دي ، د بیلګې په توګه ، رټنه ، غچ او د عمدي وژنو نور ډولونه ، یرغل یا هغه رټنې چې د یوه ملکي شخص په وړاندې د شخړې د یوه طرف لخوا ترسره شوی.

[۲۰۵] د ۲۰۱۴ کال د جنوری له ۱ د جون تر ۳۰ نیټې تر منځ ، یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د ګواښونو ، تهدیدونو او ځورونې د پیښو په پایله کې د ملکي تلفاتو ۱۴ پیښې (۱ وژنه ا و۱۳ ژوبلي) مستندی کړي دي.

[۲۰۶] د ۲۰۱۴ کال د جنوری له ۱ د جون تر ۳۰ نیټې تر منځ ، یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د هدفي وژنو په پایله کې ۱۰ ملکي تلفات مستند کړي (نهه وژنې او یوه ژوبله).

[۲۰۷] د مخینې لپاره په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د دولت پلوه وسله والو ډلو برخو ته د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو نیم کلن او یوه کلن راپورونو ته مراجعه وکړئ.

په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۴ کال کلنی راپور یادونه کوي چې یو شمېر زیاتو ټولنو د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د را منځ ته شوي ټیکاو ،تقویه شوي امنیت او ځایي استخدام- په خاص ډول په هغو سیمو کې چیرې چې افغان سیمه ییز پولیس په محلي کچه استخدام او ځای پر ځای شوی هرکلی کړی. په نورو ټولنو کې ، په محلي کچه استخدام شویو افغان سیمه ییزو پولیسو د خپلو سیالو سره د محلي شخړو د هوارولو په موخه خپل موقف او صلاحیت کارولی. د بیلګې په توګه ، د اپریل په ۱۴ ، د سرپل ولایت د صیاد په ولسوالي کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو یوې لس کسیزې ډلې د دوو هلکانو په شمول اته تنه ملکي کسان د ځمکې پر سر د شخړې او د ځمکې د کارونې په تعقیب د خپلو ټوپکو د کنداغونو پواسطه کلک وهلي. د برید څخه وروسته ، د ادعا سره سم افغان سیمه ییزو پولیسو د څو ساعتونو لپاره د قربانیانو مخه ډب کړې څو هغوی طبي امکاناتو ته لاسرسی و نه مومي. قربانیانو یوناما ته اطلاع ورکړې چې افغان سیمه ییزو پولیسو دا برید د سزا ورکولو په موخه ترسره کړی چې د قربانیانو د کلي ځارویو د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو د کلي حاصلاتو ته زیان اړولی دی.[۲۰۸]

د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د ملکي تلفاتو په نورو بیلګو کې لاندې موارد شامل دي:

- د جنوری په ۹ ، د افغان سیمه ییزو پولیسو یوه غړي د هلمند په سنګین ولسوالي کې د یوې لارې موټر په چلونکي له هغه وروسته ډزې وکړې چه هغه ته یې موټر و نه دراوه ، د موټر چلونکی یې ټپي او د هغه درې کلن زوی یې وواژه.
- د اپریل په ۲۱ ، د افغان سیمه ییزو پولیسو غړو د ننګرهار ولایت د چپرهار په ولسوالي کې د دولت ضد عناصرو سره د یوې ځمکنۍ نښتې پر مهال د اوریې د پاسه راکټ وتوغاوه. د د راکټ دوه ګولی په یوه ملکي کور ولګیدې چې په نتیجه کې یې یو هلک او یوه نجلۍ ووژل شوه او یو هلک او یوه نجلۍ ې ټپي شوه.

## د افغان سیمه ییزو پولیسو نظارت او حساب ورکونه

*"د حساب ورکونې پرته به افغان سیمه ییز پولیس د هیواد او ملکي کسانو د ساتنې لپاره خطرناک وي".*[۲۰۹]

-- د کورنیو چارو د وزارت استازې چې د هیواد په کچه د افغان سیمه ییزو پولیسو د نظارت په پروسه کې ښکیل دی.

د افغان سیمه ییزو پولیسو د احتساب د پروسې د هڅونې په موخه ، یوناما د کورنیو چارو په وزارت کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست سره خپلې مشورې او مدافعې ته دوام ورکړی. یاد ریاست د افغان سیمه ییزو پولیسو د پروګرام لپاره د نظارت مهم میکانیزم دی. یوناما په منظم ډول د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو په وړاندې د کتبي ادعاوو راپورونه د یاد ریاست سره شریک کړي دي او همدارنګه یې په ولایتي کچه د نوموړي ریاست او د کورنیو چارو د وزارت د چارواکو سره د تعقیبي اقداماتو نظارت ترسره کړی دی.

یوناما یادونه کوي چې د افغان سیمه ییزو پولیسو ریاست په ۲۰۱۵ کال کې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د ترسره شویو سرغړونو لپاره د احتساب د ترویج په موخه د اقداماتو ترسره کولو ته دوام ورکړی. د یوناما په غوښتنه ، د افغانستان دولت د هغو

[۲۰۸] د قربانیانو ، قومي مشرانو او حکومتي چارواکو سره د ۲۰۱۵ کال د اپریل د میاشتې د ۱۴ او ۱۵ نیټو تر منځ د یوناما مرکې.
[۲۰۹] د کورنیو چارو د وزارت سره د یوناما مرکه ، کابل ، جون ، ۲۰۱۵ کال

څېړونو او عدلي تعقیب په اړه چې د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ترسره شوی معلومات برابر کړي چې موخه یې د افغان سیمه ییزو پولیسو د بشری حقونو سرغړونو ته ځواب ویل وو. دولت د افغان سیمه ییزو پولیسو غړو د نیولو د پنځو جلا قضیو او د ابتدایه محکمې لخوا د دوو محکومیتونو د قضیو راپور ورکړیدی.[۲۱۰]

یوناما د هیواد په شمال ختیځو، شمال او ختیځو سیمو کې د ملکي کسانو د وژل کیدو او ټپي کیدو پخاطر نیونې او محکومیتونه مستند کړي دي.[۲۱۱] پداسي حال کې چې یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو څوک چې د بشری حقونو د سرغړونو مسول دي د تحقیقاتو ،نیونو او محکومیتونو ستاینه کوي ، خو د دې ډول پېښو د مخنیوي په برخه کې لا هم جدي تشې موجودی دي. یوناما همدارنګه مشاهده کړي چې چارواکي د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو په زیاترو قضیو کې څوک چې په ګواښونو ،تهدیدونو ، ځورونو یا د ملکي کسانو په وړاندې په نورو سرغړونو کې ښکیل وو د اقداماتو په ترسره کولو کې پاته راغلي. د بیلګې په توګه ، د فبروری په دریمه نیټه ، د افغان سیمه ییزو پولیسو یو تن قومندان او د هغه کسان د کندز ولایت د دشت ارچي په ولسوالي کې یوه ملکي کور ته دننه شوو او هلته یې دوه نارینه ،یوه ښځه او یو ماشوم ووهل. سرچینو راپور ورکړی چې د افغان سیمه ییزو پولیسو قومندان د کورنۍ لخوا د ځمکې د بیا ترلاسه کولو په موخه محکمې ته د نوموړي په وړاندې د شکایت د درج کولو وروسته د کورنۍ غړي د غچ اخیستلو په هدف ووهلي. افغان ملي پولیسو ویلي چې قربانیانو د پیښې څخه څو ورځې وروسته د افغان سیمه ییزو پولیسو په وړاندی له خپل شکایت څخه تیر شوي او له دې سره سم افغان ملي پولیسو خپل تحقیقاتو لړۍ ترلې.[۲۱۲]

په داسي حال کې چې په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله یوناما د ۲۰۱۴ کال په خپل کلني راپور کې د افغان سیمه ییزو پولیسو سره د بشری حقونو د ټولو سرغړونو د څېړنو په برخه کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست لخوا پرمختګ مشاهده کړی ، خو د یاد ریاست د تحقیقاتي صلاحیت د ممکنه کمیدو په اړه یې اندیښنه څرګنده کړې. د ۲۰۱۵ کال د جون په ۵ ، د کورنیو چارو وزارت د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست رییس ته د یاد ریاست د تحقیقاتي صلاحیت د بیرته اخیستلو په اړه یو یاددښت لیږلې دی.[۲۱۳] د کورنیو چارو وزارت د ټولو ولایتونو پولیسو قومندانانو ته دا یاددښت لیږلي دی. د دې راپور د لیکلو پر مهال دغو خبرو اترو لا هم دوام درلود چې کوم دولتي ارګان به د افغان سیمه ییزو پولیسو د پروګرام څخه د نظارت صلاحیت لري او هم د عدلی تعقیب په موخه شکایتونه راجع کړی. په داسي حال کې چې یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو د قوماندي او کنترول د تقویت او د کورنیو چارو د وزارت تر صلاحیت لاندې په منظم پولیس ځواک کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د تنظیم ملاتړ کوي خو د حساب ورکونې او نظارت په برخو کې جدي اندیښنې مطرح کوي.

د ۲۰۱۵ کال په جون کې ، افغان ولسمشر یوه کمیسیون ته چې په ترکیب کې یې د کورنیو چارو او دفاع وزارتونه ،محلي حکومتداری او د ملی امنیت ریاست وو دنده وسپارله څو د افغان سیمه ییزو پولیسو د ټولو واحدونو یوه ګډه ارزونه ترسره کړي او معلومه کړي چې د افغان سیمه ییزو پولیسو واحدونه ته چیرې ډېره اړتیا لیدله کیږي او په کومو ځایونو کې دا واحدونو ډېر

[۲۱۰] د بیلګې په توګه ، د جون په ۱۶ ، افغان سیمه ییزو پولیسو یو ۱۹ کلن شخص د کندهار ولایت په ژیړی ولسوالي کې د دې لپاره په ډزو وواژه ځکه چې نوموړي د افغان سیمه ییزو پولیسو په لیکو کې د شامیلیدو څخه انکار کړی و. افغان ملي پولیسو د افغان سیمه ییزو پولیسو څلور تنه غړې د پوستې د یوه قومندان په شمول نیولي او څېړنې د ادعا سره سم دوام لري.

[۲۱۱] د ۲۰۱۵ د جون د میاشتې په اوړدو کې د فاریاب ولایت په میمنه ښار ، د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښار او د کندر ولایت په کندز ښار کې د افغان ملي پولیسو ، دولتي چارواکو او ټولنې د مشرانو سره د یوناما مرکې.

[۲۱۲] د صیاد د ولسوالی د پولیسو د مشر سره د یوناما مرکه ، د جون ۲۵ ، ۲۰۱۵ کال.

[۲۱۳] د کورنیو چارو د وزارت له چارواکو سره د یوناما مرکه ، کابل ، جون ، ۲۰۱۵ کال

ستونزمن دي.[۲۱۴] یوناما یادونه کوي چې د دې پروسې د کتنې پر مهال ، دولت باید د هر ډول سرغړونو لپاره د حساب ورکونې څخه ډاډ حاصل کړي او همدارنګه یقیني کړی چې مرتکبین یواځې له دندو څخه نه لیرې کیږي یا تبدیلیږی بلکه هغوي په جنایي لحاظ تر عدلیي تعقیب لاندې نیول کیږي ، که چیرې په سرغړونو کې جنایي جرمونه شامل وی. د افغان سیمه ییزو پولیسو د پروګرام د تحلیل او بیا کتنې پر مهال ، یوناما د دولت څخه غوښتنه کوي څو د افغان سیمه ییزو پولیسو د چاڼ او روزلو په اړوند د موجوده قوانینو ملحوظاتو درناوي څخه پوره ډاډ حاصل کړي ، په خاص ډول په هغه صورت کې که چیرې ارزونه د افغان سیمه ییزو پولیسو د نویو واحدونو رامنځ ته کولو ته لار هواره وي.

[۲۱۴] همدا ماخذ

## دولت پلوه وسله والې ډلې[۲۱۵]: ملکي تلفات ، د بشري حقونو سرغړونې او معافیت

*"نږدې تول ،د ولسوالي افغان ملي پولیس او د محلي حکومت په ګډون د دغو پوځې ملیشاوو په وړاندې بې وسه دي. مغوی هر هغه څه چې غواړي هغه ترسره کوي او هیڅوک یې مخه نه شي نیولای. هغوی د ملکي وګړو په منځ کې ویره خپره کړې. زموږ خپلوان یې اړ ایستې څو وسله والو ملیشو ته ناقانونه مالیات ورکړي او ما هم و نه شوای کولای د دې کار مخه ونیسم. حتی د افغان ملي پولیسو د یوه لوړ پوړي کارکوونکي په حیث ، ما و نه شوای کولای د دغو وسله والو ملیشاو لخوا د خپلو خپلوانو څخه د ناقانونه مالیاتو د اخیستو مخه ونیسم. دا ملیشاوې په ولایتي او مرکزي دواړو کچو کې شې اړیکې لري .که تاسو هڅه وکړې مغوی ونیسی نو د څو دقیقو په دننه کې به قدرت لرونکي خلک تاسو ته تلیفون وکړي او تاسو ته به دا ووایې هغه کس چې تاسو نیولی د نوموړي کس دی او باید ژر تر ژره خوشې شي."*

-- د کندز په ولایت کې د افغان ملي پولیسو یو پخوانی لوړ رتبه چارواکی(د ولسوالي د نوم د اخیستو څخه ډډه شوی).[۲۱۶]

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ، یوناما د بشري حقونو سرغړونو ته کوم چې د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا په معافیت سره ترسره شوی د ثبت کولو چارو ته دوام ورکړی ، په دې سرغړونو کې هدفي وژنې ، یرغل ،اخازې ، تهدید او د شتمنیو غلا شامله ده. یوناما د دولت ضد عناصرو سره د مبارزې په موخه د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا په عملیاتو کې د دولت پلوه وسله والو ډلو د مخ پر زیاتیدونکی کارولو په خاطر ، په خاص ډول د هیواد په شمال او شمال ختیځو سیمو کې او د ملکي کسانو د تلفاتو په برخه کې د زیاتوالي له امله چې د داسې عملیاتو په نتیجه کی را منځ ته کیږي ، اندښمنه ده. یوناما د بشری حقونو د سرغړونو څخه د ملکي ټولنو د خوندیتوب او د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د ترسره شوی زیان او د دې ډول عملونو لپاره د حساب ورکونې د نه شتون په وړاندې د افغان چارواکو ناکامې مشاهده کړې.

د جنوری د ۱ او د جون د ۳۰ نیټې تر منځ ،یوناما په ۶۹ جلا پیښو کې چې دولت پلوه وسله والې ډلې پکې ښکیلې وې ۸۷ ملکي تلفات مستند کړي(۳۱ وژنې او ۵۶ ژوبلې)[۲۱۷]. په دې ارقامو کې ۱۶ ښځې (دری وژنې او ۱۳ ټپې کیدنې) او ۲۹ ماشومان(۸ وژنې او ۲۱ ټپي کیدنې) شاملې وې . دولت پلوه وسله والې ډلې د ۱۱ فیصدو ملکي تلفاتو چې حکومت پلوه ځواکونه ته منسوب شوی مسولې وې . د ۲۰۱۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو د ثبت شویو ارقامو په پرتله ، د ملکي تلفاتو هغه ارقام چې د ۲۰۱۵ کال د جنوری د ۱ نیټې نه د جون د میاشتې تر ۳۰ نیټې پورې ثبت شوې او د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا ترسره شوي له دوو

---

[۲۱۵] د دولت پلوه وسله والو ډلو" اصطلاح یوه نا دولتي تنظیم شوی فعال ته چې په شخړه کې ښکیل وي او د دولتي ځواکونو ،یاغیانو او جنایې ډلو څخه توپیر ولري راجع کیږي. دولت پلوه وسله والې ډلې افغان سیمه ییز پولیس کوم چې د کورنیو چارو د وزارت تر کنترول او قوماندې لاندې راځي نه احتوا کوي. دغه وسله والې ډلې دافغانستان د قانون لاندې کوم حقوقي بنسټ نه لري. وسله والې ډلې دا پوټانسیل لري چې د ځواک په کارولو سره وسلې وکاروي تر څو سیاسي ، ایدلوژیکي او اقتصادي موخې تر لاسه کړی ، دا ډلې د هیوادونو ، دولتی ایتلافونه او بین الحکومتي ادارو د رسمي پوځې جوړښتونو په دننه کې ځای نه لري او د هیواد(هیوادونو) تر کنترول لاندې نه دي په کومو کې چې دوي فعالیت کوي. په ځینو مواردو کې ، وسله والې ډلې د کوربه هیواد یا نورو هیوادونو څخه مستقیمې او غیر مستقیمې مرستې تر لاسه کوي. په دې تعریف کې دا شامل دی ، خو تر لاندې ډلو پورې محدود نه دي: د ملي پاځون حرکتونه ، محلي ملیشا(نژادي ، قومي او په پل عبارت) ملکي دفاعي ځواکونه او نیمه پوځې ډلې(داسې ډلې چې په ښکاره د دولت تر کنترول لاندې نه دي).

[۲۱۶] د یوناما ناسته ، کندز ښار ،کندز ولایت ، د می ۱۸ ، ۲۰۱۵ کال

[۲۱۷] د ملکي تلفاتو ټولټال شمیر چې د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا را منځ ته شوی دوه پیښې احتوا کوی چې د ۲۰۱۵کال د جنوری په میاشت کې د غزني ولایت په اندړو ولسوالي کې را منځ ته شوی ، دا پیښې په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د یوناما د ۲۰۱۴ کال د کلني راپور په ۸۸-۹۰ پاڼو کې مستند شوي.

برابرو څخه اوښتي ، دا د هغو ملکي تلفاتو د ټولټال شمیر څخه چې په ۲۰۱۴ کال کې د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا ترسره شوی اوړي.[۲۱۸]

په کنړ ،غور ، غزني او کاپیسا ولایتونو کې د پنځو واقع شویو پیښو په استثنا ، د ملکي تلفاتو او سرغړونو ټولې ۶۴ پیښې د هیواد په شمال او شمال  ختیځو سیمو کې په خاص ډول په کندز او فاریاب ولایتونو کې خو یو څو یې هم په بغلان ، سر پل او بلخ ولایتونو کې ترسره شویدي.

## د دولت پلوه وسله والو ډلو د عملیاتو په نتیجه کې چې ملکي تلفات را منځ ته شوی

د ۲۰۱۵ کال په اوړدو کې ،یوناما مشاهده کړې چې یوځې ډلې په هغو عملیاتو کې چې رهبري یې د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا ترسره کیږي ډیر مخکښ رول لوبوي. اکثره ملکي تلفات د دولت ضد وسله والو ډلو لخوا د دولت ضد عناصرو او نورو وسله والو ډلو سره د څمکنیو ښکیلتیاوو په نتیجه کې را منځ ته کیږي. د ۲۰۱۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله یوناما د داسې پیښو څخه د راولاړو شویو ملکي تلفاتو له دوو برابرو څخه زیات ارقام مستند کړي دي.[۲۱۹] د جنوری د ۱ او د جون د ۳۰ نیټې تر منځ ، یوناما د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ملاتړ په موخه د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د ترسره شویو عملیاتو په نتیجه کې ۴۸ ملکي تلفات (۷ وژنې او ۴۱ ژوبلې)مستند کړي.

د سیالو دولت پلوه وسله والو ډلو تر منځ د څمکنیو ښکیلتیاوو په نتیجه کې په ۲۰۱۵ کال کې د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو زیاتوالي دوام موندلی چې په نتیجه کې یې ۲۶ ملکي تلفات اوښتي چې دا د ۲۰۱۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله ۱۶۰ سلنه زیاتوالي ښيي. دا ټولې نښتې په شمالي او شمال  ختیځو سیمو کې ترسره شوي.

په ۱۳ پیښو کې ، دولت پلوه وسله والو ډلو په عمدي توګه ملکیان وژلي چې په نتیجه کې یې ۱۹ ملکي تلفات(۱۶ وژنې او درې ژوبلې) را منځ ته شوي. یوناما همدارنګه د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د تلاشی څلور ناقانونه عملیات مستند کړي چې په نتیجه کې یې ۱۰ ملکي تلفات(درې وژنې او ۷ ژوبلې) را منځ ته شوي.

د اپریل او مئ په میاشتو کې د کندز په ولایت کې د طالبانو د برید د په شا کولو په موخه او په سیمه کې د دولت پلوه ځواکونو د ځاي پر ځای کولو له امله د څمکنیو ښکیلتیاوو پر مهال د ملکي تلفاتو په برخه کې زیاتوالي دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب شوی. (په دوهم څپرکي کې د کندز د برید برخې ، څمکنیو ښکیلتاوو ته مراجعه وکړئ). په روانه جګړه کې د دولت پلوه وسله والو ډلو روښانه مستقیم نقش د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا په عملیاتو کې د یوې مخکښې نمونې په حیث څرګند شوی. د بیلګې په توګه ، یوناما د ۲۰۱۵ کال په لومړیو ۶ میاشتو کې ، د طالبانو سره د څمکنیو ښکیلتیاوو پر مهال د کندز په ولایت کې د د ولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د ۲۲ ملکیانو ټپي کیدل مستند کړي دي.[۲۲۰] د پرتلې په ډول ، د ۲۰۱۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په کندز کې ټول ملکي تلفات د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د سیالو ډلو تر منځ د نښتو په پایله کې را منځ ته شوي. هغه ټول ۲۲ ملکي تلفات چې په کندز کې د دولت ضد عناصرو سره په جګړه کې د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا را منځ

[۲۱۸] دولت پلوه وسله والې ډلې د هیواد په شمالي او شمال ختیځ سیمو کې د اکثریت پیښو مسوول پاتی شوی( ۵۴ او ۳۴  فیصده په ترتیب سره )، او د ۲۰۱۴ کال د لومړیو ۶ میاشتو په جریان کې ، د ملکي تلفاتو او پیښو په برخه کې زیاتوالې مستند کړی.

[۲۱۹] د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ، یوناما ۴۸ ملکي تلفات(۷ وژنې او ۴۱ ژوبلې ) هغو څمکنیو نښتو ته کومې چې د دولت پلوه وسله والو ډلو ترسره شوی منسوب کړی . د ۲۰۱۴ کال په ورته موده کې ، یوناما ۱۸ ملکي تلفات( ۷ وژنې او ۱۱ ټپي کیدنې) د څمکنیو نښتو پر مهال دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب کړی.

[۲۲۰] یوناما ، د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د دولت پلوه ځواکونو په خپلمنځې نښتو کې د کندز په ولایت کې ۱۰ اضافي ملکې تلفات را منځ ته شوي.

ته شوی لامل یې د چاودیدونکو توکو (هاوانونو ، راکټونو ، لاسي بمونو)کارول وو ، چې دا په خپله په پوځې نښتو کې د غیر منظمو وسله والو ډلو د کارولو خطرونو ته اشاره کوي.

## د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا وژنې او د بشری حقونو نورې سرغړونې

هغه وویل "زه د خپلو دښمنانو په وژل کیدو خوشاله کیدم ، خو د هغوي وژنه نوره زما تنده نه ماتوي. هغه څه چې ما راضي کوي او ما ته خوښي را کوي هغه په ورځ کې د خلورو پنځو تنو ملکي کسانو وژل او د هغوي د وژل شویو جسدونو را ځوړندول دي. بیا به رسنۍ په دې هکله راپور ورکړي او بیا زه په سیمه کې مشهور شم. دا به په خلکو کې ویره را منځ ته کړي ، دا به زماد وژنو تنده ماته کړي او په سیمه کې به زما واک زیات کړي. دا هغه څه دي چې زه یې غواړم."

-- د ټولنې مشر هغه خبرې را نقلوي کومې چې ده په کندز کې د دولت پلوه وسله والو ډلو د قومندان څخه اوریدلې دي(د ولسوالي د نوم د اخیستو څخه ډډه شوی).[۲۲۱]

یوناما په ۱۳ جلا پیښو کې د دولت پلوه ځواکونو لخوا په عمدي توګه د ملکي کسانو هدف نیول او وژل مستند کړي دي ، یوناما د دغو عملونو په اړه د احتساب د نه شتون په خاطر ژوره اندیښنه لري. د بیلګې په توګه ،د اپریل په ۱۴ ، د یوې دولت پلوه وسله والې ډلې غړي د کندز ولایت د خان اباد په ولسوالي کې یوه ښوونځي ته ننوتي ، یو تن ښوونکی یې د باندې را ایستی او د خپلو زده کونکو په مخ کې یې په ډزو ویشتي. سرچینو وویل چې وسله والو خلکو ښوونکی د دې لپاره وواژه چې د وسله والې ډلې د قومندان لازښودونو ته یې غاړه نه وه ایښې. یوناما همدارنګه د یوې پیښې په شمول د کومې په پایله کې چې تښتول شوی شخص اعدام شو د تښتونو پنځه پیښې مستندي کړي دي. پر دې برسیره ، یوناما د اجباری کار ، یرغل ، اخازی او غلا تر څنګ داسي ۲۹ موارد مستند کړي په کومو کې چې دولت پلوه وسله والو ډلو ملکي وګړي ګواښلی ، تهدید او ځورولی دي. د بیلګې په توګه ، د اپریل په ۳ ، د یوې دولت پلوه وسله والې ډلې غړو د بدخشان د ولایت څخه یو تن څارنوال چې د کندز ولایت د خان اباد د ولسوالي څخه د سفر په حال کې و وتښتاوه او د پیسو د ورکولو وروسته یې ایله کړ.

یوناما مشاهده کړې چې دولت پلوه وسله والو ډلو په هغو سیمو کې چیرې چې د پام وړ قدرت لري په معافیت سره د خپلو عملونو ترسره کولو ته دوام ورکړی ، په خاص ډول د هیواد په شمالي او شمال ختیځو سیمو کې. د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ، یوناما د دلت پلوه وسله والو ډلو لخوا د فاریاب ولایت په پشتون کوټ ولسوالي ، د سر پل ولایت په سنچارک ولسوالي او د کندز ولایت په خان آباد ولسوالي کې د بشری حقونو رواني سرغړونې مستندی کړې دي. دا سرغړونې په بشپړ معافیت سر ترسره شوی ، او په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو کې د هیواد په شمال او شمال ختیځو سیمو کې د بشری حقونو د سرغړونو دوامداره نمونې مستندې کړې دي. د بیلګې په توګه ، د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ، یوناما یو وار بیا د کندز ولایت په خان آباد ولسوالي او د فاریاب ولایت په پشتون کوټ ولسوالی کې د ملکي وګړو په وړاندې د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د بشری حقونو د سرغړونو متعدد موارد مستند کړي دي.[۲۲۲]

د دولت پلوه وسله والو ډلو د قدرت د یوې نمونې په حیث ، او په ملکي وګړو د هغوی اغیزې ، د جون په دریمه ، د فاریاب ولایت د پشتون کوټ په ولسوالي کې د دولت پلوه وسله والې ډلې یوه تن قومندان د سر حوض بند د اوبو جریان قطع کړ ، او د

[۲۲۱] د یوناما مرکه ، کندز ښار ، کندز ولایت ، د می ۲۸ ، ۲۰۱۵ کال

[۲۲۲] په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما ۲۰۱۴ کال کلنې راپور ۸۴-۸۷ پاڼو ته مراجعه وکړې.

ځو ورځو لپاره یې د ولسوالی لویه برخه او همدارنګه ولایتي پلازمینه میمنه د اوبو د نعمت څخه محرومه کړه. قومندان د یوې سیالې وسله والې ډلې لخوا د بشر پالنې د مرستو د هغه کاروان د لوټولو په غبرګون چې یوه ورځ وړاندې لوټ شو اوبه بندې کړې کوم چې ظاهرآ د نوموړې د سیمې لپاره په لار و. د اوبو د نه شتون له امله حاصلاتو او باغونو ته ډیر زیان اوښتې ، یا له منځه تللې او یا یې د خلکو په ژوندانه منفی اغیزې پر ځای پرې ایښې دی. د جون په ۱۳ ، د ولسوالې او ولایتي چارواکو د مداخلتونو په تعقیب قومندان بیرته اوبه خوشی کړی.[۲۲۳] خو بیا هم ، نوموړی د دې عمل په ترسره کولو سره مسول و نه شمیرل شو.

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ، یوناما په هغو ولسوالیو کې چیرې چې پخوا هلته کمې او یا هیڅ ډول سرغړونې نه وی ترسره شوي د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د بشری حقونو سرغړونې مستندې کړی دي. په داسې حال کې چې په ۲۰۱۴ کال کې هیڅ ډول پیښې نه دې مستندې شوي ، د ۲۰۱۵ کال د جنوری د ۱ نیټې نه بیا د جون د میاشتې تر ۳۰ نیټې پورې ، یوناما د بشری حقونو ۱۳ جلا پیښې کومې چې د سرپل ولایت په سنچارک ولسوالي کې د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا ترسره شوی مستندې کړي دي. د بشری حقونو په سرغړونو کې عمدي وژنې ،جدي ټپغلونه ،ناقانونه مالیات او د اخاذې نور ډولونه ، اجباري کار ، نا قانونه توقیف ، روغتیا پالنې ته د لاسرسي څخه مخنیوی ، د ځمکو غصب او د جایدادونو له منځه وړل شامل دي. د دولت پلوه وسله والو ډلو د سرغړونو په نتیجه کې د سنچارک په ولسوالي کې اته ملکي تلفات(شپږ وژنې او دوه ژوبلې) را منځ ته شوي. د لا زیاتې اندېښنې خبره خو دا ده چې یوناما داسې متعدد راپورونه تر لاسه کړی چې یوه دولت پلوه وسله واله ډله په سنچارک ولسوالي کې د ۱۶ کلونو نه د ټیټ عمر هلکانو څخه په بچه بازی[۲۲۴] کې په جنسي لحاظ ګټه پورته کړی.

### د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د بشری حقونو د سرغړونو لپاره د حساب ورکونې نه شتون

لکه څنګه چې په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه په پخوانیو راپورونو کې مستند شوی ، یوناما مشاهده کړی چې دولت پلوه وسله والې ډلې د بشری حقونو د هغو اکثرو سرغړونو کومې چې دوي ترسره کړی لا هم د معافیت څخه برخمنې دی. شریکبانو په دوامداره توګه یوناما ته راپور ورکړی چې حکومتي چارواکي یا خو نه غواړي او یا د قدرتمنو سیاسي اشخاصو د حمایې ، د افغان ملي امنیتي ځواکونو د نا کافي شمیر(ځوک چې په ځینو ولسوالیو کې په محلي کچه د دولت پلوه وسله والو ډلو په پرتله کم دي) یا د دولت ضد عناصرو سره د مبارزې په هدف په داسې ډلو ټپلو باندې د دولت د اتکا له امله نه شي کولای د دولت پلوه وسله والو ډلو فعالیتونه کنترول کړي. دولتي چارواکو یوناما ته ویلي چې د وسله والو ډلو د قومندانانو[۲۲۵] د سیاسي اړیکو د شتون له امله دوي دا توان نه لري چې دولت پلوه وسله والې ډلې بې وسلې ، منحل او یا مسول وګڼي.

که څه هم چې زیات مرتکیبین د هغو سرغړونو لپاره کومې چې دوي ترسره کړي مسول نه دي ګڼل شوي ،یوناما د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې دوه داسې موارد مستند کړي چیرې چې د دولت لخوا داسې اقدامونه ترسره شوی چې موخه یې د بشری حقونو د سرغړونو په اړه د دولت پلوه وسله والې ډلې مسول ګڼل دي. د بیلګې په توګه ، د راپور سره سم د یوه مطرح قومندان د حکمونو په تعقیب ، د دولت پلوه وسله والې ډلې یو تن غړی چا چې د می په ۲۶ د فاریاب ولایت په پشتون کوټ ولسوالی کې

---

[۲۲۳] د یوناما ناستې ، میمنه ښار ، فریاب ولایت ،د جون ۱۰-۱۳ ، ۲۰۱۵ کال

[۲۲۴] بچه بازی داسې یوه اصطلاح ده چې د "هلکانو د نڅا" په څیر ژباړل شوی چې د افغانستان په ځینو سیمو کې د قومندانانو او زورواکنو لخوا ترسره کیږي ، د بچه بازی فعالیت معمولا د جنسی استثمار او د ځوانو هلکانو د ناوړه استعمال سره تړلي دی. په افغانستان کې د بچه بازی د لاملونو او پایلو په هکله ملي پلټنې ته مراجعه وکړئ ، د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون ، د اګسټ ۸، ۲۰۱۴ کال، په لاندی پته د لاسرسي وړ ده: .http://www.aihrc.org.af/home/research_report/3324, last accessed 6 June 2015

[۲۲۵] د کورنیو چارو د وزارت له چارواکو سره د یوناما غونډه ، د مارچ ۴ ، ۲۰۱۵.

یو شخص په ډزو وویشت او ووژه د افغان ملي پولیسو لخوا ونیول شو. افغان ملي پولیسو هغه قومندان چا چې د ادعا سره سم د وژل کیدو امر ورکړی و نه نیو. افغان ملي پولیسو د ملي پاڅون د غورځنګ دوه تنه غړي چا چې د فبرورې په لومړۍ نیټه د غزني ولایت د ګیلان په ولسوالي کې یو ملکي شخص د هغه د لوټولو وروسته ووژه نیولی دی. څیړنو د دې راپور د خپریدو پر مهال دوام درلود.

یوناما د یو شمیر زیاتو مستند شویو سرغړونو کومې چې د دولت پلوه وسله والو ځواکونو لخوا ترسره شوی او د نه پام وړ څیړنو د شمیر او د دې ډلو لخوا د ترسره شویو بشری حقونو د سرغړونو د عدلي تعقیب تر منځ د تشې په اړه اندیښنه څرګنده کړې. د نړیوالو بشری حقونو د قانون لاندې ، دولت د ژوند د حق د ساتلو دنده لري او د هغو وژنو په شمول چې د دولت پلوه ځواکونو لخوا ترسره شوی باید د هر ډول نا قانونه وژنو تحقیقات بشپړ کړي. په ملي کچه د دولت لخوا د څرګندو او بیان شویو ژمنو سربیره ، چې ناقانونه وسله والې دلې به بې وسلې او منحلوي ،یوناما د ۲۰۱۵ کال په لومړیو ۶ میاشتو کې[۲۲۶] د دې پالیسې د تعمیل په برخه کې هیڅ ډول هڅې نه دي مشاهده کړي. برعکس ، یوناما داسې اعتبار لرونکي راپورونه ترلاسه کړي چې په کندز ولایت کې ولایتي امنیتي ځواکونه په فعال ډول د دې ډلو حمایت کوي تر څو د د دولت ضد عناصر په شا وتمبوي.

یوناما جوتوي چې د داسې ډلو لخوا د بشری حقونو د سرغړونو او جرمونو په وړاندې معافیت نا امنې د خطر په معرض کې اچوي او د ملکي کسانو ساتنه او د قانون حاکمیت کمزوری کوي. د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د سرغړونو او معافیت دغه شکلونه د دولت مشروعیت له منځه وړي او د خشونت دوامداره جریانات تشدیدوي.

یوناما په خپلو پخوانیو سپارښتنو چې وسله والې ډلې باید ژر تر ژره بې وسلې او منحل شي بیا ټینګار کوي او د حکومت څخه غوښتنه کوي څو د بشري حقونو د سرغړونو او نورو جنایې عملونو مرتکبین تر تحقیق او عدلي تعقیب لاندې ونیسی او په جزا بې ورسوي.

## هوايي عملیات

د ۲۰۱۵ کال د جنوری د ۱ څخه د جون تر ۳۰ نیټې پورې ، یوناما د نړیوالو پوځې ځواکونو او افغان امنیتي ځواکونو د هوایې عمیاتو په نتیجه کې ۷۷ ملکي تلفات(۳۲ وژني او ۴۵ ژوبلې) مستند کړي ، چې دا د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په پرتله ۸۸ سلنه زیاتوالي ښي.[۲۲۷] د ۷۷ ملکي تلفاتو د جملې څخه ، یوناما ۴۹ ملکي تلفات(۲۷ وژني او ۲۲ ژوبلې) نړیوالو پوځې ځواکونو او ۲۸ ملکي تلفات(پنځه وژني او ۲۳ ژوبلې) افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب کړي.

### *د نړیوالو پوځې ځواکونو لخوا هوايي عملیات*

یوناما مشاهده کړی چې په ۲۰۱۵ کال کې نړیوالو پوځې ځواکونو د پوځې عملیاتو ترسره کولو ته دوام ورکړی. د ۲۰۱۵ کال د جنوری د ۱ څخه د جون تر ۳۰ نیټې پورې ، د نړیوالو پوځې ځواکونو د عملیاتو په نتیجه کې ۴۹ تنو ته ملکي تلفات((۲۷ وژني

[۲۲۶] د افغانستان ولسمشر د کندز ولایت د چارواکو سره د ویډیو کنفرانس له لارې د حکومت په پالیسې ټینګار کړی او و یې ویل چې "په هیڅ وجه به نا قانونه وسله والې ډلې و نه زغمل شي" او که چیرې قانون رعایت نه کړی نو د قانوني عمل سره به مخ شي- د ولسمشر د دفتر څخه خپرې شوی خبر پاڼې ته په لاندې پته مراجعه وکړئ: http://president.gov.a f/en/news/40136,last accessed on 11 january 2015.

[۲۲۷] د ۲۰۱۴ کال د جنوری د ۱ څخه د جون تر ۳۰ نیټې پورې ، یوناما د نړیوالو پوځې ځواکونو او افغان امنیتي ځواکونو د هوایې عملیاتو په نتیجه کی ۴۱ ملکي تلفات (۲۸ وژني او ۱۳ ژوبلې) مستند کړي.

او ۲۲ ژوبلې) اوښتي. د هوايي عملياتو[۲۲۸] څخه د راولاړو شويو ملکي تلفاتو د کمښت په موخه د افغان امنيتي او نړيوالو ځواکونو لخوا په لار اچول شويو اقداماتو ته کتلو سره ، دا د نړيوالو پوځي ځواکونو د هوايي بريدونو[۲۲۹] ، د بې بيلوټه الوتکو د بريدونه په نتيجه کې د ملکي تلفاتو په برخه کې ۲۳ سلنه زياتوالي ښي ، دا هغه مخ په کښته تمايل چې پخوا د يوناما لخوا مستند شوی و په په شا تګ ښيي.[۲۳۰]

يوناما يادونه کوي چې د بشر پالنې نړيوال قانون د ټولو ډلو څخه غوښتنه کوي څو د ملکي وګړو ، ملکيانو او ملکي موخو د بيلولو په هدف او ټولو ممکنه احتياطونو چې موخه يې د ملکيانو د ژوند د تصادفي زيان د کمولو ، د ملکيانو د ټپي کيدو او ملکي موخو ته د زيان مخنيوی دی د پاملرنې پر مسلې ټينګار کوي. يوناما همدارنګه يادونه کوي چې نړيوال بشری حقونه په بشپړ ډول د تطبيق وړ دي.




### *د افغان امنيتي ځواکونو لخوا هوايي عمليات*

*د غرمې نه وروسته نږدې دوه بجې وې چې کله طالبانو د افغان ملي امنيتي ځواکونو په پوستو د سپکو ، درنو وسلو او اوربې د پاسه د راکټونو متعدد بريدونه پيل کړل. ما د ولسوالۍ د مرکز څخه چې نږدې دوه کيلو متره لرې واټن لرې ننداره کوله ، په دی وخت کې د افغان ملي پوليسو دوه چورلکې د افغان امنيتي ځواکونو د ملاتړ لپاره را ورسيدلی. طالبانو په يوې چورلکې د درنو وسلو ډزې پيل کړې. بله چورکه په ماشيندار سمباله وه او په طالبانو يې ډزې پيل کړې. د چورلکې څخه توغول شوي ګولې چې*

[۲۲۸] د بيلګې په توګه ، د افغانستان د غوڅ ملاتړ ماموريت(او د هغه پخوانی ځای ناستی ايساف) د عملياتو د مرکز د کارکونکو او هغو کارکونکو لپاره کوم چې د هوايي مهماتو د ځا ی په ځای کيدو په چارو کې ښکيل وو اجباری روزنې معرفي کړې دي. Email from NATO/ RS UNCLASSIFIED Re: UNAMA, Resolute Support Mission Response to UNAMA – Protection of Civilians in Armed Conflict, received 29 July 2015.

[۲۲۹] د ۲۰۱۴ کال د جنوری د ۱ نه د جولای تر ۳۰ پورې ، يوناما د نړيوالو پوځې ځواکونو د هوايې عملياتو په نتيجه کې ۴۰ ملکي تلفات(۲۷ وژنې او ۱۳ ټپې کيدنې) مستند کړي دي.

[۲۳۰] په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۴ د نيم کال راپور ۵۹-۶۰ مخونو ته مراجعه وکړئ.

*کله په څمکه لګیدي نو چاودیدلي. کله چې چورلکې د طالبانو په ماشینداري ډزي کولې نو ګولې په یوه ملکي کور ولګیدلي چې د کور په دننه کې یې پنځه ملکیان ټپیان کړل.*[۲۳۱]

-- د فراه ولایت د پشت رود په ولسوالي کې د افغان ملي پولیسو د یوه هوایي برید شاهد چې په نتیجه کې یې د دریو ماشومانو په ګډون پنځه ملکیان ټپیان شول ، د اپریل ۴ ، ۲۰۱۵ کال.

د ۲۰۱۵ کال د جنوری له ۱ نه د جون د میاشتې تر ۳۰ نیټې پورې ، یوناما د افغان هوایي ځواک د ترسره شویو هوایي عملیاتو په نتیجه کې په ۱۰ جلا پیښبو کې ۲۸ ملکي تلفات(پنځه وژني او ۲۳ ژوبلي) مستند کړي. افغان هوایي ځواک چې د افغان ملي اردو یوه څانګه ده ، د ۲۰۱۵ کال په پیل کې[۲۳۲] په هیواد کې د افغان هوایي ځواکونو څخه د حمایې او د نږدې هوایي ملاتړ او هوایي یرغلیزو عملیاتو د ملاتړ په برخه کې مهم مسولیت په غاړه واخیست.

د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې ، افغان هوایي ځواک د نږدې هوایي ملاتړ او یرغلیزو هوایي عملیاتو د ترسره کولو خپل ظرفیت جوړولو ته دوام ورکړی. د می تر ۳۱ نیټې پورې ، افغان هوایي ځواک د پنځو ایم آی ۳۵ جنګي چورلکو ، پنځو ایم ډي-۵۳۰ سپکو جنګي چورلکو او ۱۰ ایم آي-۱۷ ترانسپورټي الوتکو په شمول چې په ماشیندارو سمبال شوي[۲۳۳] د شلو الوتکو څخه کار اخلي. د افغان ځواک Mi-35s کولای شي چې لار ښود شوې راکټونو سیستمونه وکارو ي . افغان هوایي ځواک پلان لری چې په ۲۰۱۵ او د ۲۰۱۶ کال[۲۳٤] په لومړیو کې اضافي جنګي الوتکې ځای پر ځای کړي.

افغان ملي امنیتي ځواکونو ته په منسوب شویو اړوندو هوایي پیښبو کې لاندې بیلګې شاملي دي:

- د اپریل په ۴ ، د افغان ملی پوځ یوه چورلکه چې موخه یې د افغان ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ و د فراه ولایت په پشت رود ولسوالي کې د طالبانو د ډلې تر برید لاندې راغله ، د ملکي وګړو په سیمه یې ډزې وکړې او د یوې ښځې او یوې نجلې په ګډون یې پنځه تنه ملکیان ټپیان کړل.
- د اپریل په ۲۹ ، د افغان ملي پوځ یوې چورلکې د کندز ولایت د کندز ښار د چور تپیه په سیمه کې په طالبانو ډزې وکړې چې په نتیجه کی یې د یوې ښځې او یوه ۱۰ کلن هلک په شمول څلور تنه ملکیان ټپیان کړل.
- د افغان ملي پوځ یوې الوتکې چې موخه یې د بغلان ولایت د بغلان جدید په ولسوالي کې د طالبانو په وړاندې په څمکنیو نښتو کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د ملاتړ برابرول و په سیمه کې په ملکي کورونو ډزې وکړې چې په

[۲۳۱] د ټلیفون له لارې د یوناما مرکه ، کندز ښار ، دکندز ولایت ، د جون ۲۳ ، ۲۰۱۵ کال.

[۲۳۲] د متحده ایالتونو د دفاع وزارت "په افغانستان کې د ټیکاو او د امنیت ښه کولو په اړه راپور" ، مخونه ۶۳-۶۸ ، جون ،۲۰۱۵ کال ، په لاندې پته د لاسرسی وړ ده: .http://www.defense.gov/pubs/June__1225__Report__Final.pdf, last accessed 1 July 2015

[۲۳۳] د متحده ایالتونو د دفاع د وزارت ، په افغانستان کې د ټیکاو او د امنیت د ښه کولو په اړه راپور ، ۶۳-۶۸ مخونه ، په لاندې پته د لاسري وړ ده: http://www.defense.gov/pubs/June__1225__Report__Final.pdf, last accessed 1 July 2015. There are also an additional 30 Mi-5VS aircraft used by the Special Mission Wing under the Afghan Ministry of Defense, although their offensive armament capabilities are not known. See, Ibid, .at pages 72-75

According to the United States Department of Defense, 'Report on Enhancing Security and Stability in Afghanistan', the Afghan Air Force .will deploy additional MD-530 helicopters and fixed wing A-29 'Super Tocano' light attack aircrafts. Ibid, pages 63-69

[۲۳٤] د متحده ایالتونو د دفاع وزارت په حواله ، په افغانستان کې د ښه امنیت او ټیکاو په حواله راپور ، افغان هوایي ځواک به اضافي ایم ډي- ۵۳۰ چورلکې او ای-۲۹ سوپر ټانګو جنګې الوتکې ، د خفیفو بریدونو الوتکې ځای پر ځای کړي. همدا ماخذ ، ۶۳-۶۹ مخونه

نتیجه کې یې یو دری کلن ماشوم ووژل شو او ملکي کورونو ته زیان واوښت. د افغان ملي پولیسو چارواکو د ادعا سره سم ځایي مشرانو ته وعده وسپارله چې دوي به د دې پیښې په اړه څیړنې پیل کړي.[۲۳۵]

د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ د روانو جګړو لپاره د پوتانسیل په پام کې لرولو سره ، د ملکي وګړو د میشت په سیمو کې ، د نړیوالو پوځي ځواکونو لپاره په کار ده چې د افغان هوایي ځواکونو پیلوټانو ته ښې روزنې ورکړي او په دې سره وکولای شي د ملکي کسانو د تلفاتو د ممکنه پیښیدو کچه را ټیټه کړي ، دا کار مهم دی او باید دوام ومومي. یوناما نړیوال پوځي ځواکونه هڅوي څو په هوایي بریدونو کې د ملکي تلفاتو د راکمیدو په برخه کې د افغان هوایي پوځي ځواکونو د ظرفیت د پیاوړی کولو په برخه کې د روزنو د برابرولو او ښکیلتیا د قواعدو سره د مرستې په موخه د هغوی ملاتړ ته دوام ورکړی.

یوناما ټینګار کوي چې نړیوال بشر دوستانه قانون د شخړې د ټولو ښکیلو خواو څخه غواړي څو په ځانګړې ډول د هوایي عملیاتو د ترسره کولو پر مهال او د هر ډول پیښې په صورت کې د ملکي کسانو د وژل کیدو او ټپي کیدو او ملکي موخو ته د تصادفي زیان د کچې د کمولو د مخنیوي په موخه ټول ممکنه تدبیرونه ونیسي.[۲۳۶]

[۲۳۵] د ځايې مشر سره د یوناما مرکه ، د مۍ ۱۳ ، ۲۰۱۵ کال ، کندز ښار.

[۲۳۶] ۱- قاعده- په برید کې احتیاطونه- ۲۵ قاعده د ملکیانو او جنګیالو تر منځ توپیر. د بشرپالنې نړیوال عرفي قانون ، ۱ ټوک ، جین — ماری هیکایرتس او لوییس ډوس والک-بیک ، د هلال احمر نړیواله کمیټه ، کیمبریج ،۲۰۰۵.

## ۵. حقوقی چوکاټ

د دغه راپور لپاره کارول شوی حقوقي چوکاټ د بشري حقونو نړیوال قانون ، دبشر پالنې نړیوال قانون ، جنايې قانون او د افغانستان په هکله د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لازم الاجراء پرېکړه لیکونه احتواء کوي.[۲۳۷] په ټولو کې په افغانستان کې د وسله والې شخړې پر مهال د ملکي کسانو د ساتنې په اړوند ژمنې شاملې دي چې په لاندې برخه کې تشریح شوي دي.

### د وسله والې شخړې د ښکیلو خواوو حقوقي مسوولیتونه

د یوناما د دریځ له مخې په افغانستان کې وسله واله شخړه یوه غیر نړیواله وسله واله جګړه ده چې د افغانستان د حکومت او د حکومت د پوځي ځواکونو (افغان ملي امنیتي ځواکونه چې ملاتړ یې د نړیوالو ځواکونو لخوا کیږي او پدې راپور او افغانستان کې "د دولت پلوه ځواکونو" په نوم یادیږي) او د غیر دولتي وسله والو مخالفو ډلو تر منځ ده چې (په دې راپور او افغانستان کې "د دولت ضد عناصرو" په نوم یادیږي.

د وسله والې شخړې ټولې ښکیلې خواوې- افغان وسله وال ځواکونه ، نړیوال پوځي ځواکونه او غیر دولتي وسله والې ډلې- د نړیوال قانون لاندې د ملکي کسانو د ساتنې په موخه روښانه مکلفیتونه لري. د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو د تعریف په اړه اصطلاح ګانو ته مراجعه وکړئ.

په ۱۳۲۵ (۲۰۰۰)پرېکړه لیک کې ،د امنیت شورا څرګنده کړې چې دا د ټولو هیوادونو لپاره مهمه ده څو  د ښځو او نجونو په اړوند د نړیوال بشر دوستانه او بشری حقونو د قانون اړوند نورمونه په بشپړ ډول تطبیق کړي ، او د پوځي شخړې پر مهال د جنډر پر اساس د خشونت څخه د هغوی د ساتلو په موخه ځانګړي اقدامات ترسره کړي.[۲۳۸]

#### *(۱) د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې مکلفیتونه*

افغانستان د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسیونونو او د ۱۹۷۷ [۲۳۹] دوهم اضافي پروتوکول کوم چې په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو ساتنې ته ځواب وایي غړی دی او د ملکي کسانو د هغو شیانو په وړاندې کوم چې د ملکي وګړو د ژغورنې لپاره حتمي وي د بریدونو مخنیوی کوي.

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسیونونو ګډه ۳ ماده د دولتي او غیر دولتي فعالینو په شمول د شخړې د ښکیلو خواوو لپاره حداقل معیارونه را منځ ته کړي ، چې په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې مراعات شي. ګډه ۳ ماده په ښکاره توګه په هر وخت او هر ځای کې قتل [۲۴۰] ، خشونت ،غیر قانونی اعدامونه ،شکنجه ،د اندامونو پرېکول او د خشونت نور ډولونه [۲۴۱] منع کوي .

---

[۲۳۷] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۲۱۰(۲۰۱۵) پرېکړه لیک په افغانستان کې په وسله واله نښته کې د ټولو ډلو ژمنې څرګندوی څو د نړیوال قانون په شمول د  بشر پالنې  او د بشری حقونو د نړیوالو قوانینو سره د ملکي ساتنې څخه د ډاډ حاصلولو په خاطر د ټولو مناسبو تدبیرونو د ترسره کولو لپاره اجابت وکړي.

[۲۳۸] R/RES/1325(2000) , SEE ALSO S/RES/1820(2008),S/1888(2009)S/RES/1889 (2009) AND S/RES/1960(2010)

[۲۳۹] افغانستان د ۲۰۰۹ کال د نومبر په ۱۰ ، د ۱۹۷۷ کال دوهم الحاقیه پروتوکول لاسلیک کړی. دا پروتوکول د ۲۰۰۹ کال د ډسمبر په ۲۴ نافذ شو.

[۲۴۰] د قتل د جنګې جرم په هکله ، لکه څنګه چې د نړیوالې جنایې محکمې د روم د آساسنامې له مخې تعریف شوي ، یوناما د ملکي کسانو د عمدي وژنو اصطلاح چې هدفي وژنې په کې شاملې دي کاروي ، د دې لپاره چې یو ادعا شوی عمل چې ښایې د قتل جنګې جرم ته لار هواره کړی تشریح کړي ، د دې په خاطر چې د وسله والی شخړې د زمینې څخه د باندې د یوه شخصي فعال لخوا د داسې عملونو توپیر د قتل د جنګې جرم څخه وشي. داسې اصطلاح ګانې لکه ، هدفي وژنې ،غیر قانوني وژنې او په خپل سر وژنې کله نا کله په افغانستان کې د غیر نړیوالې وسله والې شخړې په زمینه کې د ملکي کسانو د عمدي وژنو د څرګندولو لپاره کارول کیږي. هدفي وژنې تر ملکي کسانو پورې محدودې نه دي او کیدای شي یو جنګیالی د هدفي وژنې موخه وګرځول شي.

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسینونو او یو شمیر نورو قوانینو محتویات د هغو سره ورته دي چې د هغوي په اضافي پرتوکولونو کې موندل شوي ، په زیاته پیمانه د عرفي نړیوال قانون برخه جوړوي.[۲۴۲] د ټولو اړوندو اصولو د جملې څخه چې د افغانستان د غیر نړیوالې وسله والې شخړې د ټولو ښکیلو خواو په سلوک د پلي کیدو وړ دي ، په لاندې ډول دي:

- توپیر: ملکي وګړي او همدارنکه انفرادي ملکي کسان نه باید د برید هدف وي.[۲۴۳]
- تناسب: "یو برید چې ښایې په تصادفي ډول د ملکي کسانو د ژوند ،د ملکي کسانو د ټپي کیدو ،د ملکي کسانو د شیانو د زیان او یا اړوندو شیانو د زیان لامل شي ، کیدای شي دا زیان د ریښتیني او مستقیم پوځي پرمختګ په پرتله چې وړاندوینه یې شوی وي زیات منع شي.[۲۴۴]
- په برېدونو کې احتیاط: "ملکي کسان باید د پوځي عملیاتو[۲۴۵] څخه د را ولاړو شویو خطرونو په وړاندې د ټولیزې ساتنې څخه برخمن وي. د نظامي عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې ،باید د ملکي وګړو ،ملکیانو او ملکي شیانو" تر منځ د توپیر په موخه پرله پسې پاملرنه وشي"او باید ټول اړین احتیاطي تدبیرونه چې موخه یې په هر ډول پیښه کې د ملکي کسانو د ژوند ، د ملکي کسانو د ټپي کیدو او د ملکي کسانو د شیانو د تصادفي زیان څخه مخنیوي او کمول وي ، ونیول شي[۲۴۶] .
- په افغانستان کې نړیوالو پوځي ځواکونو ته د سرتیرو ورکونکي ټول هیوادونه د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسیونونو لاسلیک کونکي دي. په داسې حال کې چې د سرتیرو ورکونکي ټول هیوادونه د ۱۹۷۷ کال د الحاقیه دوهم پرتوکول لاسلیک کونکي نه دی ، دا هیوادونه د بشر پالنې د نړیوال عرفي قانون د اړوندو مقرراتو په اساس چې په غیر نړیوالې وسله والې شخړې باندې د پلي کیدو وړ دي په رعایت کولو لا هم مکلف دي.

---

[۲۴۱] د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ می د ژنیو د کنوانسیونونو دریېمه مشترکه ماده د غیر نړیوال ماهیت د شخړو پر مهال د تطبیق وړ ده. د پوځې شخړې په صورت کې چې نړیوال خصوصیات و نه لري او د کنوانسیونونو د لوړ پوړو ډلو په قلمرو کې واقع کیږي ، د شخړې هر طرف باید د لاندې مقرراتو په پلي کولو مکلف وي(۱) هغه کسان ، د وسله والو ځواکونو په شمول چې وسلې یې په ځمکه ایښي او یا هغه کسان چې ناروغ ،ټپی او توقیف شوي وي ، د هر ډول نورو شرایطو په پام کې نیولو پرته لکه نژاد ،رنګ ، مذهب ، عقیدې ، جنسیت ،زیږون یا شتمنۍ چې په شخړو کې فعاله ونډه نه اخلی د هغوي سره په ټولو حالتونو کې انساني چلند وشي. په دې معنی ، چې ټول لاندني عملونه منع دي او د پورته یادو شویو کسانو په حواله هر وخت او هر ځای ممنوع دي: (الف) د ژوند او شخص په وړاندې خشونت ، په ځانګړی توګه د ټولو ډولونو قتل لکه د اندامونو پرېکول ، بی رحمه سلوک او شکنجه ،(ب) یرغمل نیول ، (ج) په شخصي وقار باندې تیری ،په ځانګړې توګه تحقیرونکی او ناوړه سلوک ،(د) ، د حکمونو صادرول او د منظمې باصلاحیته تشکیل شوې محکمې لخوا د مخکني قضاوت د حکم پرته د اعدامونو ترسره کول ، د ټولو قضایې ضمانتونو د عهدې نه وتل کوم چې د متمدنو خلکو لخوا لازم الاجرا پیژندل شوي.

[۲۴۲] آي سي آر سي وګورئ ، د بشر پالنې نړیوال عرفي قانون ، (ed. Jean-Marie Henckaerts and Louise Doswald-Beck (CU P/ICRC, Cambridge 2005 .{{ICRC Study

[۲۴۳] الحاقیه دوهم پروتوکول ، ۱۳(۲) ماده

[۲۴۴] آي سي آر سي وګورئ ، د بشر پالنې نړیوال عرفي قانون ، لومړئ ټوک ، Rules ed. Jean-Marie Henckaerts and Louise Doswald-Beck (CU P/ICRC, Cambridge 2005

[۲۴۵] دوهم الحاقیه پروتوکول ، ۱۳(۱) ماده

[۲۴۶] د بشري حقونو د نړیوال عرفي قانون (۲۰۰۵) په هکله د آی آر سي څیړنه ، له ۱۵ نه تر ۲۱ قاعدې پورې

### (۲) د بشري حقونو د نړیوال قانون لاندې مکلفیتونه

نړیوال بشري قانون او د بشر پالنې نړیوال قانون په سوله او د وسله والې شخړې پر مهال د پلي کیدو وړ دي او دواړه په متقابل ډول بشپړونکي او تقویتکونکي دي.

افغانستان د بشري حقونو[۲۴۷] ، د مدني او سیاسي حقونو په هکله د نړیوال میثاق په شمول یو لړ نړیوالې معاهدې لاسلیک کړې دي ، دا میثاق حکومت اړ باسي څو د قلمرو په دننه او یا د هیواد د واکمنۍ لاندې سیمو په دننه کې د ټولو کسانو لپاره د اساسي بشري حقونو تحفظات برابر کړي.

که څه هم غیر دولتي فعالین د پوځي ډلو په شمول په داسې حال کې چې هغوي نه شي کولای د بشري حقونو د نړیوالو میثاقونو سره یو ځای شي ، د نړیوالو بشری حقونو په وړاندې مسولیت لري ، په خاص ډول هغه ډلې چې په ځینو ساحو باندې په عملي توګه کنترول لري لکه طالبان.[۲۴۸]

د بشری حقونو د نړیوال قانون لاندې ،هیوادونه باید د خپلو نمایندګانو[۲۴۹] ، له طریقه د وژونکې قوې کارول وڅیړي ، په خاص ډول د هغو نمایندګانو لخوا چې د قانون په انفاذ کې ښکیل دي. دا دنده د ممکنه نه رعایتولو د مسوولیت سره یو ځای د ژوند د حق د ساتنې[۲۵۰] د مکلفیت څخه سرچینه اخلي . د دې لپاره چې د هیواد څیړنې موثره وي، هغه باید تر ممکنه حده چټکې ،جامع ، بی طرفه ، خپلواکې[۲۵۱] وي او د عامه پلټنې لپاره پرانیستې وي.[۲۵۲] د څیړنو په موخه د دولت صلاحیت د قانون د انفاذ په ټولو شرایطو کې د هغو په شمول چې د وسله والو شخړو[۲۵۳] پر مهال را ولاړیږي ، د پلي کیدو وړ دي.

---

[۲۴۷] افغانستان د بشری حقونو لاندني میثاقونه او کنوانسیونونه لاسلیک کړي دي: د مدني او سیاسي حقونو په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د اپریل په ۲۴ مه تصویب شو ، د اقتصادي ، ټولنېزو او کلتوري حقونو په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د اپریل په ۲۴ مه تصویب شو ، د نژادي تبعیض د ټولو بڼو د مخنیوي په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال داګست په ۵ مه تصویب شو ، د ښځو په وړاندې د توپیر د ټولو بڼو د مخنیوي په هکله میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د مارچ په ۵ مه تصویب شو ، د شکنجې او نورو بی رحمانه ، غیر انساني ، ناوړه سلوک او سزا په وړاندې کنوانسیون چې د ۱۹۸۷ کال د جون په ۲۶ مه تصویب شو ، د ماشوم د حقونو په هکله کنوانسیون چې د ۱۹۹۴ د اپریل په ۲۷ مه تصویب شو ، د ماشومانو د سوداګرۍ ،د ماشومانو د پلورلو او د ماشومانو بدلمني او د ماشوم د بربنډ انځورونو په هکله د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون اختیاري پروتوکول چې د ۲۰۰۲ کال د اکتوبر په ۱۹ تصویب شو ،په وسله واله شخړه کې د ماشومانو د ښکیلتیا په هکله د ماشوم د حقونو په اړه د کنوانسیون اختیاري پروتوکول چې د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر په ۲۴تصویب شو او د معیوبو کسانو د حقونو په هکله کنوانسیون ، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۸ د لاسرسي وړ ، مراجعه وکړئ. http://www.aihrc.org.af/English/Eng_pages/X_pages/conventions_af_z_party.html.

[۲۴۸] د ملګرو ملتونو د عمومي منشي راپور ته مراجعه وکړئ ، په سریلانکا کې د حساب ورکونې په هکله د عمومي منشي د کارپوهانو د هیت راپور ، د ۲۰۱۱ کال د مارچ ۳۱ پراګراف ۱۸۸. همدارنګه د لیبیا په عربی جمهوریت کې د نړیوالو بشری حقونو د ټولو ادعا شویو سرغړونو د څیړنې د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور ته مراجعه وکړئ- A/HRC/17/44, 1 June 2011؛ ، د سوریې په عربی جمهوریت کې د بشری حقونو د وضعیت په اړه د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور- A/HRC/19/69, para. 106; د جنوبي سودان په جمهوریت کې د ملګرو ملتونو ماموریت ،په جنوبي سودان کې شخړه: د بشری حقونو راپور ، ۲۰۱۴ کال د می ۸ ، ۱۸ پراګراف.

[۲۴۹] د غیر قانوني ، په خپل سر او نا قانونه اعدامونو د څیړنې او موثره مخنیوي په هکله د ملګرو ملتونو د اصولو ۹، ۱۰ او ۱۷ پراګرافونو ته مراجعه وکړئ چې د اقتصادي او ټولنېزې شورا د ۱۹۸۹/۶۵پریکړه لیک په واسطه د ۱۹۸۹ کال د مۍ په ۲۴ تصویب شو ،د غیری نړیوالې وسله والې شخړې په هکله د ملګرو ملتونو د امنیت شورا او د عمومي اسامبلې پرېکړه لیکونو ته هم مراجعه وکړئ چې د ټولو خواوو څخه د بشری حقونو د نړیوال قانون د درناوي غوښتنه کوي.

[۲۵۰] د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری ، عمومي تبصره ۳۱(۲۰۰۴)، § 15 ، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری ، عمومي تبصره ۶(۱۹۸۲)§ ۴ ؛ ECtHR, McCann case, § 169; ECtHR, Kaya case, § 86; ECtHR, Ergi v. Turkey, Application No. 23818/94, Judgment of 28 July 1998, §§ 82, 86; ECtHR, Isayeva v. Russia, Application No. 57950/00, Judgment of 24 February 2005, §§ 208-9, 224-5; IACiHR, Abella (La Tablada) case, § 244; IACiHR, Alejandre case, § 47; ACiHPR, Civil Liberties case, § 22.

[۲۵۱] IACiHR, Abella (La Tablada) case, § 412; ECtHR, Özkan case, § 184; ECtHR, Orhan v. Turkey, Application No. 25656/94, Judgment of 18 June 2002, § 335; ECtHR, Isayeva et al. case, § 210-11; ECtHR, McCann case.

### (۳) د نړیوال جنايي قانون له مخې مسوولیتونه

افغانستان د خپل قلمرو په دننه کې د نړیوالو جرمونو لکه د جنګي جنایتونو ،د بشریت په وړاندې د جرمونه او نسل وژنې د څیړلو او تعقیب په هکله لومړنی مسولیت لري. څنګه چې په ۲۰۰۳ کال کې افغانستان د نړیوالي جنايي محکمې د روم د اساسنامې غړیتوب تر لاسه کړ ، که چیرې افغانستان نه شي کولای او یا نه غواړی خپل صلاحیت وکاروي ،نړیواله جنایي محمکه کولای شي پر افغانستان خپل صلاحیت وکاروي.

هغه هیوادونه چې پوځي ځواکونه یې د نړیوالو پوځي ځواکونو په ډله کې دي او په افغانستان کې د شخړې اړخ دي هم د ادعا شویو جرمونو د څیړنې او تعقیب مسوولیت لري که چیرې دا جرمونه په افغانستان کې د هغوي د اتباعو لخوا[۲۵۴] ترسره شوي وي.

هیوادونه همدارنګه د نړیوالې جنایي محکمې د اساسنامې د ۸ (۲)(e)(i) مادې د سرغړونو د څیړنو او تعقیب مسوولیت لري ، دا ماده حکم کوي چې د ملکي وګړو او یا د انفرادی ملکي کسانو په وړاندې چې په دښمنیو کې په مستقیم ډول برخه نه اخلی ، په قصدی ډول بریدونه کول ، په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې جنګي جنایت تشکیلوي.

### (۴) د ملکي (ملکي کسانو) تعریف

د دښمنیو د ترسره کولو په اړه ،یوناما بیا یادونه کوي چې ملکي(ملکي کسان) د نړیوال قانون لاندی هغه افراد دي چې د نظامي/نیمه نظامي ځواکونو غړي نه وي یا په جنګ کې د یوې خوا په منظمو وسله والو ډلو کې غړیتوب و نه لري ، تعریف شوي دي. کیدای شي ملکي کسان په هغه وخت او هغه صورت کې چې په مستقیم ډول په دښمنیو کې برخه واخلي د خپل خوندیتوب حق له لاسه ورکړي.[۲۵۵]

هغه جنګیالي چې(ټپي ، ناروغ او د سمندر څخه ژغورل شوي ، توقیف شوي یا غوارې تسلیم شي) او یا د پوځي ځواکونو روغتیایي او مذهبي کارکونکی وي باید د بریدونو په وړاندې وساتل شي.

نړیوال بشر دوستانه قانون د شخړې د ښکیلو خواوو څخه غوښتنه کوي څو د پوځي عملیاتو د ترسره کولو پر مهال د ملکي کسانو او جنګیالیو او هغو کسانو چې په مستقیم ډول په دښمنیو کې برخه اخلی هرو مرو توپیر وکړي.

---

[۲۵۲] ECtHR, Hugh Jordan v. the United Kingdom, Application No. 24746/94, Judgment of 4 May 2001, § 109; ECtHR, Özkan case, § 187; ECtHR, Isayeva et al. case § 213; ECtHR, Isayeva case, § 214:د نړیوالو بشری حقونو د جدي سرغړونو او د نړیوال بشر دوستانه قانون د جدي سرغړونو د قربانیانو لپاره د جبران او تاوان د حق په اړه اساسي اصولو او لارښودونو ته مراجعه وکړې.

[۲۵۳] سی دروګ ته مراجعه وکړئ ،د دښمنیو د ترسره کولو څخه د قانون د انفاذ توپیر ۵۷-۶۳ مخونه د کارپوهانو غونډه ، د کیمیاوي موادو خنثی کول ، د قانون انفاذ ، بشری حقونه او د پالیسی لرلیدونه Montreux, Switzerland 24-26 April 2012 at - http://www.icrc.org/eng/assets/files/publications/icrc-002-4121.pdf; Nils Melzer, د دښمنیو د ترسره کولو او د قانون د انفاذ تر منځ تداخل او مفکوره یې توپیر ، د پوځي عملیاتو د نړیوال قانون کتاب ګوتی(اکسفورډ: د اکسفورډ د پوهنتون مطبعه ، ۲۰۱۰) ، ), pp. 43-44.Nils Milzer, په جګړه کې د بی پیلوټه روباټونو او ډرونونو د کارولو د بشری حقونو استلزامیت ، د اتحادیی د بهرنیو پالیسې ګانو لپاره عمومي رییس ، د پالیسي ریاست ، (۲۰۱۳)at

[۲۵۴] پرته له دې چې هیوادونه د آی سی سی د آساسنامې غړیتوب ولري ، هغوي ټول د عرفي قانون لاندی مکلف دي څو د بشری حقونو او نړیوال بشر دوستانه قانون جدي سرغړونې کله چې دوي په افغانستان کې عملیات ترسره کوي ،وڅیړي.

[۲۵۵] نړیوال عرفي بشردوستانه قانون په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: https://www.icrc.org/customary-ihl/eng/docs/v1_rul_rule6

هغه کسان چې نور نو په جګړه کې برخه نه اخلی باید خوندي وساتل شي او په ضد یې بریدونه ترسره نه شي[۲۵۶].

همدی راپور د خلکو د هغو کتګوري ګانو په وړاندې بریدونه ثبت کړي چې د هغوی عادي فعالیتونه په جګړو کې د مستقیم ګډون سره اړخ نه لګوي ، لکه عامه کارکونکي او دولتي کارکونکي ، ښوونکي ،د روغتیایي کلینیکونو کارکونکي ، د ټاکنو کار کونکي ، سیاسي کسان ، دفتری کسان ، د نا دولتی موسسو کسان ، او همدارنګه د ملکي پولیسو پرسونل څوک چې په مستقیم ډول په جګړو کېو کې ښکیل نه دي او د یاغیانو په ضد مبارزی په عملیاتو کې هم برخه نه اخلي.

یوناما یادونه کوي چې په افغانستان کې د شخړې نور فعالین او ښکېلې خواوي د دې اصطلاح په هکله خپل تعریفونه لري لکه څنګه چې په دې راپور کې تشریح شوي.[۲۵۷]

[۲۵۶] په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې ، تنظیم شوي وسله وال ګروپونه د شخړې د نا دولتي اړخ وسله وال ځواکونه تشکیلوي ، او په ترکیب کې یې یواځې هغه انفرادي کسان وي څوک چې غواړي په مستقیم ډول په دوامداره توګه په جګړه کې برخه واخلي(دوامداره جګړه ییزه دنده). هغه څوک چې "دوامداره جګړه ییزه دنده" نه لري هغو ته هم باید د ملکي کسانو په حیث وکتل شي. ن میلذر ته مراجعه وکړئ ، آي سي آر سي ، د بشر پالنې نړیوال قانون لاندې په دښمنیو کې د مستقیمې برخې اخیستنې د تصور په اړه تفسیرې لارښود ، اي سي آر سي ، ژنیو ، ۲۰۰۹.

[۲۵۷] د "ملکي"تعریف ته چې د طالبانو لخوا دمخه په دې راپور کې کارول شوی مراجعه وکړئ.

## ۶. اصطلاح ګانې[۲۵۸]

**هوايي برید یا هوايي ګوزار:** له الوتکې څخه ویشتونکي مهمات چې په هغو کې نږدې هوايي ملاتړ (د الوتکې له خوا برید) او نږدې جنګي برید چې د چورلکې په مرسته ترسره کیږي ، همدارنګه په هوایي بریدونو کې هغه هوایي بریدونه هم شامل دي چې بې پیلوټه جنګي الوتکه یا ډرون یې تر سره کوي.

**ABP:** افغان سرحدي پولیس

**تښتونه:** یوناما تښتونې د یوې پېښې په حیث تعریفوي چیرې چې د شخړې یو طرف په زور او جبر یو ملکي شخص یا ملکیان د هغوې د ارادې پرته و نیسي او یا یې وساتي ، د دې لپاره چې دریم اړخ یا توقیف شوی شخص یا اشخاص د یوه کار په اجرا او یا د هغه پرېښودو ته اړ کړي چې د کوم شخص یا اشخاصو د خوشې کولو لپاره یو ښکاره یا ضمني شرط وګڼل شي. په یو شمیر زیاتو مواردو کې ، په دغو کې همدارنګه هغه تښتونې چې موخه یې د شخص یا اشخاصو وژل وي شاملې دي. دا اصطلاح همدارنګه هغه جنایې تښتونې را نغاړي چې د شخړې د ښکیلې ډلې یا په جګړه کې د ښکیل شخص لخوا ترسره کیږي.

**ALP :** افغان سیمه ییز پولیس

ANA: افغان ملي اردو

**ANP :** افغان ملي پولیس

**ANCOP:** د ملکي نظم افغان ملي پولیس

**ANSF :** افغان ملي امنیتي ځواکونه ، یوه ټولیزه اصطلاح ده ، چې افغان سرحدي پولیس ، ملي اردو ، ملي پولیس ، سیمه ییز پولیس ، افغان ځانګړی پولیس او د ملي امنیت اداره په کې شاملیږي.

**دولت ضد عناصر :** په دې ډله کې ټول هغه اشخاص او ډلې راځي چې اوس مهال د افغانستان د دولت او نړیوالو نظامي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه کې ښکیل دي. هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پیژندل شوي او هغه اشخاص او بیلا بیلې ډلې چې په جګړه کې فعاله برخه اخلي ، او تر مختلفو نومونو لاندې لکه د حقاني شبکه ، حزب اسلامي ، د ازبکستان اسلامي حرکت ، د اسلامي جهاد اتحاد ، لشکر طیبه او جیش محمد او هغه نورې ډلې چې ځانونه د داعش او نورو ملیشو او وسله والو ډلو چې سیاسي ، ایدیالوژیکي او اقتصادي اهداف تعقیبوي یا نورې جرایم پیشه ډلې چې په جګړه کې د یوې ښکېلې خوا په استازیتوب ګډون کوي ، په دغو عناصرو کې راځي .

**وسله والې ډلې :** نا دولتي تنظیم شوې وسله والې ډلې چې په شخړو کې ښکېلې وي او په څرګند ډول د دولت څخه بېلې وي چې د جوړښت پر اساس د ملیشو څخه واخله تر یاغي جنایي مجریمو ډلو پورې رسیږي. دغه وسله والې ډلې د افغانستان د قوانینو لاندې حقوقي بنسټ نه لري. وسله والې ډلې د هیوادونو ، د هیوادونو د ایتلافونو یا د دولتونو تر منځ د سازمانونو د رسمي پوځې چوکاټونو په دننه کې نه دي او د هیواد(هیوادونو) تر کنترول لاندې په کومو کې چې دوې فعالیت کوي ،نه دي.

[۲۵۸] په دې اصطلاح کې ځای شوي تعریفونه یواځې د دې راپور د موخو لپاره دي.

وسله واله ډلې کیداي شي د دولت د رسمي ولکې او کنترول د سیمې نه د باندې وي خو کیداي شي چې د کوربه یا نورو هیوادونو مستقیم یا غیر مستقیم ملاتړ ولري. دغه تعریف عبارت له لاندې ډلو څخه دي خو یوازې تر دوی پورې محدودې نه دي: مخالفې یاغي ډلې ، سیمه ییزې ملیشې (چې په قومي ، قبیله وی یا په بل اساس)، یاغیان ، ترهګر ، ګوریلا او نور ملکي دفاعي ځواکونه او نیمه نظامي ډلې (که چیرې دغه ډلې په مستقیم ډول د دولت تر کنترول لاندې نه وي)[۲۵۹] . ځینې وسله والې ډلې په داسې یوه طریقه باندې چې د حکومت سره په عمومي توګه همغاړی وي ، که څه هم چې د هغوی تر کنترول لاندې نه وي او د دولت پلوه وسله والو ډلو په حیث ګڼل کیږي ، فعالیت کوي.

یوناما "دولت ضد عناصرو" ته چې په دې راپور کې تشریح شوی د نا دولتي وسله والو ډلو په حیث ګوري ، خو د دولت په وړاندې د هغوی د وسله وال مخالفت پر اساس د هغوی توپیر کیږي.

**AXO** :(Abandoned Explosive Ordnance): پریښودل شوي چاودیدونکي توکي ، هغو چاودیدونکو توکو ته ویل کیږي چې د وسله والو جګړو په جریان کې کارول شوي نه وي او د یوې ښکیلې ډلې له خوا په ساحه کې پرېښودل یا ښخ شوی وي په داسې حال کې چې دغه توکي د دې ډلې له کنترول څخه بهر وي. دغه پرېښودل شوي چاودیدونکي توکي کیدای شي فعال فیوز ولري او د چاودلو لپاره اماده وي. (د مشخصو او متعارفو وسلو په اړه کنوانسیون ، ۵م پروتوکول).

**د ملکي خلکو تلفات:** وژل شوي یا ټپي شوي ملکي کسان

یوناما هغه ملکي تلفات کوم چې د شخړې سره د تړلې تاو تریخوالي په نتیجه کې را منځ ته کیږي مستندوي: د ملکي کسانو مرګ ژوبله چې په مستقیم ډول د وسله والې شخړې له امله را منځ ته کیږي- د هغو مرګ ژوبلو په شمول کوم چې د افغان امنیتي ځواکونو او/یا نړیوالو پوځي ځواکونو د پوځي عملیاتو په نتیجه کې را منځ ته کیږي ، د بیلګې په توګه ، د ځواک د ساتنې پیښې ،هوایي بریدونه ، د تالاشي او ضبطولو عملیات ، د یاغیتوب په وړاندې د مبارزې هڅې یا د ترهګرې په وړاندې عملیات. په دې کې هغه تلفات شامل دي چې د نا دولتي وسله والو ډلو د فعالیتونو په نتیجه کې را منځ ته کیږي ، د بیلګې په توګه ، هدفي وژنې(ترور)،عمدي وژنې ، ځاې په ځاې شوی چاودیدونکي توکي یا د حکومت پلوه ځواکونو سره په جګړو کې مستقیمه ښکېلتیا. په دې کې همدارنګه د ملکي کسانو هغه وژنې او ژوبلې کومې چې د شخړې سره د تړلې تاو ترخوالي له امله را منځ ته کیږی ، د بیلګې په توګه ، د جګړې څخه پاته شونې چاودیدونکې توکې ، یاهغه طبي حالتونو کوم چې د پوځي عملیاتو پر مهال را منځ ته کیږي او د د ې تلفاتو احتمالي سبب جوړوي یا د طبي پاملرنې د نه شتون او ردونې له امله را منځ ته شوي ،شاملي دي.

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو د کنوانسیون له مخې ماشوم د داسې یوه شخص په حیث تعریف شوی چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي ( د ۱۷ کلنۍ تر پای). د دې تر څنګ د روم د نړیوالې جنایي محکمې اساسنامي له مخې چې د افغانستان دولت هم په ۲۰۰۳ کې تصویب کړې ، د ۱۵ کلونو څخه کم عمر ماشومان په دولتي عسکري لیکو کې او یا غیر دولتي وسله والو ډلو کې شاملول او ګمارل ، چې په فعال ډول په جنګ کې برخه واخلي جنګي جرم ګڼل کیږي (د ۸ مادې (۲) (ب) (xxvi ) او ۸ (۲)(e) (vii) (وګورئ.)

[۲۵۹] د پوځي ډلو سره د ملکرو ملتونو د بشر پالنې خبرې اترې: د فعالینو لپاره لارښود ، جیراډ مک هو او مانول بیسلر ، د بشر پالنې د چارو د همغږۍ لپاره د ملکرو ملتونو دفتر ، نیویارک ،جنوری ، ۲۰۰۶. د وسله والو ډلو د خصوصیاتو لپاره ۲٫۳ برخه وګورئ.

**ملکیان:** د توپیر د ا صل په هدف ، د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي وګړي" هغه افراد دي چې د نظامي/نیمه نظامي ځواکونو غړي نه وي یا په جنګ کې د یوې خوا په منظمو وسله والو ډلو کې ګډونوال نه وي. ملکي وګړي په هغه وخت کې د بریدونو په وړاندې د خوندیتوب تضمین له لاسه ورکوي کله چې دوي په نښتو کې نیغ په نیغه برخه واخلي.

**د ملکي وګړو په ځېر د جګړې څخه لویدلی کس یا خوندي شوی پرسونل:** هغه شخص څوک چې د جګړې څخه وتلی وي (ژوبل ، ناروغ ، د ویجاړې شوې کښتۍ عمله ، توقیف شوي او یا هم تسلیمیدونکی) یا هغه څوک چې د وسله والو ځواکونو په طبي یا مذهبي پرسونل پورې اړه ولري ، دوي هم د برید څخه د خوندیتوب حق لري.

**COM-RS:** په افغانستان کې د ناتو تر رهبرۍ لاندې د پریکنده ملاتړ د ماموریت او د نورو امریکایې ځواکونو قومندان.

**د EOF پیښې (د عکس العمل ښودلو پیښې):** چې "د ځواک د ساتنې پیښې" ورته هم وایي. په دې کې داسې حالات شامل دي چې کله ملکي وګړي نظامي قطارونو ته د نږدې کیدو یا له هغو څخه د مخکې کېدو په وخت کې د نظامي پرسونل اخطارونو ته پاملرنه و نه کړي او یا د تلاشي په پوستو کې لارښوونو ته توجه و نه کړي او تر برید لاندې راشي.

ایساف یې بیا داسې تعریفوي: " دا یو دفاعي پروسه ده چې موخه یې د تهدید په ګوته کول ،او د هغې احتمالي اندازه او د کارولو وخت تعینوي څو د قوې د خوندیتوب په موخه د تهدید په وړاندې په مناسب ډول دفاعي غبرګون وښي چې د تهدید سره سمون ولري."[۲۶۰]

**ERW:** له جګړې څخه چاودیدونکي پاتې شوني چې ناچاودي توکي ،او پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي هم یادیږی.

**چاودیدونکي وسلې:** چاودېدونکي وسلې د نړیوال قانون له مخې په وضاحت سره نه دي تعریف شوي. چاودېدونکي وسلې په عمومي صورت د یو جعبې ( پوښ) څخه جوړې دي چې په کې د لوړې کچې د چاودېدونکو موادو څخه ډکه وي چې ویجاړونکې اغیزې یې په عمومي توګه د چاودنې د موج له لارې او د هغو ټوټو د تیت والي څخه را ولاړیږي چې د انفجار وروسته تولیدیږي. هاوانونه ، د توپ ګولۍ ،د الوتکو بمونه ، راکټونه او د میزایلو جنګي سرګولولې ، او ډیری ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي د دغې اصطلاح لاندې راځي. ځینې مشخصې چاودېدونکې وسلې کېدلای شي چې د **سپکو وسلو** په کټګورۍ کې ( د بیلګې په توګه ، د لاسي بمونو ګوزارونکي لانچرې چې د توپک د میل لاندې نصب کیږی او د اوږې د پاسه ګوزارونکی لانچری ، د ټانک ضد میزایلونو وارونکي لاسي لانچرې او د راکټونو سیستمونه ، د الوتکو ضد د میزایلو لاسي سیستمونه ؛ او د ۱۰۰ ملی مترو څخه کم لوله بیز هاوانونه) راځي. ډیری چاودېدونکي وسلې ، لکه د الوتکو بمونه ، د راکټونو سیستمونه ، د توپ ګولۍ او ستر هاوانونه د **درندو وسلو**[۲۶۱] په کټګوریو کې راځي .

**ځمکنۍ جګړې/نښتې:** په ځمکنیو جګړو کې دغې جګړې شاملې دي: د جګړې د ښکیلو خواو تر منځ ځمکني متحرک عملیات ، دلبرې واټن څخه برید ، د ډزو تبادله او په وسله واله نښته کې د ښکیلو ډلو تر منځ وسله والې نښتې. په ځمکنیو نښتو کې د

[۲۶۰] د ایساف په مرکزي دفتر کې د چارواکو سر د یوناما مرکه ،د جنوری ۳۱ ، ۲۰۱۴ ، کابل.

[۲۶۱] بوري ج او بریهم م " د خلکو د میشت په سیمو کې د چاودېدونکو وسلو د کارولو څخه د ملکیانو د ساتنې تقویه کول: د نړیوال سره صلیب په بیا کتنه کې د پالیسۍ او څیړنې د اجنډا جوړول ، ۹۳ جلد ، ۸۸۳ ګڼه "

بریدونو او عملیاتو په وخت کې د سپکو او درندو وسلو ، او یا د ساحوي وسلو سیستمونه لکه د هاوانونو راکټونو کارول هم شامل دي.

**درندې وسلې:** که څه هم د " درندو وسلو" اصطلاح په پراخه توګه کارول کیږي ، خو د دې لپاره په نړیواله کچه په عام ډول یو منل شوی[۲۶۲] تعریف نشته. اوږده هاوانونه ، د راکټونو سیستمونه او توپخانې په دې نمونو کې راځي (د چاودیدونکو توکو په اړه پورته مراجعه وکړئ).

**د لوړې کچې چاودېدونکو تمرین ځایونه:** یوه محوطه چې د اردو او یا هم نظامي ځواکونو له خوا د دې لپاره کارول کیږي چې هلته د هغو وسلو سیستمونه ځای پرځای شي چې په کې چاودیدونکي مهمات د درندو وسلو په شمول کارول کیږي .

**IDP:** داخلي بې ځایه شوي وګړي

**IED:** (ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي): یو بم چې د دودیزې نظامي عمل پر خلاف په نورو طریقو جوړیږي او ځای پر ځای کېږي. کیدای شي چاودیدوني توکي په څلورو کتګوریو تقسیم شي: د کنترول له لارې فعالیدونکې چاودیدونکي توکې ، د قرباني شخص په وسیله فعالیدونکي چاودیدونکې توکې ، د ځانمرګي بم په شکل کې استعمال شوي چاودیدونکې توکې او نور ځای پر ځای شوی چاودیدونکی توکې.

*د دستور له لارې فعالیدونکی ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي:* هغه رادیویې یا د لېرې واټن څخه کنترول شوي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي (ریموټ کنترول بمونه ، RC-IEDs) دي چې د لېرې واټن څخه کار کوي چې استفاده کوونکی له وړاندې یوه اینبودل شوی وسیله په هغه وخت کې وچوي چې هدف هغې ساحې ته نږدې کیږی.[۲۶۳] په دغه ډله کې لاندیني چاودیدونکي توکي شامل دي: د استفاده کوونکي په ذریعه فعالیدونکي چاودیدونکي توکي ، لکه د سړک د غاړې بمونه او پر اشیاو یا حیواناتو باندې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي لکه موټر ، بایسکل ، موټر سایکل او مرکب. مقناطیسي- تبعیه شوی ځای پر ځای شوي چاودیدنکي توکي د یوې مقناطیسي او یا نورو وسیلو په واسطه نښلول کیږي او دا د تماس له لارې د فعالیدونکو چاودیدونکو توکو یوه فرعي کتګوري ده ، یوناما دا وسیلې په افغانستان کې د عادي د کاروني د میتود له امله په جلا ډول ثبت کوي ، د بیلګې په توګه ، د هدف وړ اشخاصو په نقیله وسیلو کې ځای په ځای کول.

*د قرباني شخص په ذریعه فعالیدنوکی ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي:* دغه چاودیدونکي توکي په هغه وخت کې فعاله کیږي چې کله یو شخص او یا موټر د هغه د ماشې سویچ ته فشار ورکړي ، دغه سویچ ممکن د فشار تخته وي یا د فشار د خوشې کېدو سیستم وي او یا هم د کش کولو سیم یا د کوم بل سیستم په توګه وي چې په هر صورت کې د چاودنې سبب ګرځي.[۲۶٤]

*نور چاودېدونکي توکي:* په دې کتګورۍ کې عام تاري بمونه او ساعتی بمونه (د ۲۰۰۹ څخه راهیسې ، یوناما د دې چاودیدونکو توکو له امله ډیر کم شمیر پیښې ثبتې کړي دي)، او هغه چاودیدونکي توکي په کې شامل دي چې د ماشې یا سویچ ډول یې نه مالومیږی.

---

[۲۶۲] درندې وسلې په بشري نړیوالو حقونو او د بشر پالنې د نړیوال قانون په معیارونو کې نه دی یادې شوې . مویس ، ر ، بریهم ،م او ناش ، ت ؛ درندې وسلې او د ملکیانو ساتنه ، ۳۶(۲۰۱۲) ماده.

[۲۶۳] د سپکو وسلو سروې ، تبیعه شوي چاودیدونکي توکي ، لسم څپرکی ، "اور غورځونکي ماشینونه" پي پي ۲۲۰- ۲۲۱

[۲۶٤] همدا ماخذ

*په انتحاري شخص پورې تړلې چاودیدونکې توکي:* د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو په هکله د مالوماتو برسيره ، يوناما د ځان مرګو او ډله ييز عملياتو له امله د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې پيښې ثبتې کړي دي. په دغو ځانمرګو چاوديدونکو پيښو کې په بدن پورې چاوديدونکي توکي يا د ځانمرګې په نقيله وسيله کې چاوديدونکي توکي شامل دي. په دغو ارقامو کې د ځانمرګی /موټر چلونکی شامليږي ، چې له چاوديدونکو توکو ډک وي او يا په بدن پورې تړلي چاوديدونکي توکي ولري ، چيرې چې بريد کوونکی چاوديدونکی واسکټ يا کمربند ولري.

**د ځاي پر ځاي شويو چاوديدنکو توکو استحصال:** د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو استحصال د هغو مالوماتو او موادو د تشخيص ، راټولولو ، پروسس او مالوماتو خپرولو پروسه ده چې د ځاي پر ځاي شويو چاويدنکو توکو د پيښې له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي ، د ځاي پرځاي شويو چاوديدونکو توکو ضد پروسيجرونه او ميتودونه غښتلي او د دې لپاره چې د ياغيانو منابع کمزوري کړای شي او د دوی د عدلي تعقيب ملاتړ وشي. په دې کې د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو ساتنه ، د مختلفو برخو تشخيصونه ، تخنيکي ، عدلي طب او بايومتريک ازموينې او تحليل راځي چې د با صلاحيته متخصصو تسهيلاتو او مرکزونو د لوري تر سره کيږي. د چاوديدونکو توکو استحصال چاوديدونکو توکو پر ضد د اغيزمنو او دوامداره اقداماتو يوه اساسي برخه ده.

**پيښې:** هغه پيښې دي چې په وسله واله جګړه کې ملکي وګړو ته تلفات اړوي. د يوناما په راپورونو کې هغه تلفات نه دي شامل چې د جنايي پيښو په پايله کې پېښېږي.

**IHL :** د بشر پالنې نړيوال قانون

**Imam:** يو مذهبي عالم په عام اصطلاح يو څوک د جماعت لمونځ ورکوي.

**نړيوال نظامي ځواکونه:** په "نړيوالو نظامي ځواکونو" کې ټول هغه بهرني عسکر شامليږي کوم چې د ناټو د پريکنده ملاتړ د ماموريت يوه برخه جوړوي کوم چې پخوا د سوله ساته ځواکونو (ايساف) په نوم يادېده او په افغانستان کې د امريکې د متحده اياﻻتو نور ځواکونه ("د سنتينيل د ازادۍ د عملياتو" په شمول چې د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د لومړۍ نيټې څخه "د پايښت لرونکې ازادي د عملياتو" ځای يې ونيو) او همدارنګه څوک چې د پريکنده ملاتړ د ماموريت تر قوماندې لاندې دي او هغه په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو قومندان هم دی.

**ژوبلې:** د جسماني سختو ژوبلو يا ټپي کېدنو مختلف ډولونه په کې شامليږي. د يوناما د بشری حقونو په ډيتابيس کې د جسماني ژوبلې درجه نه ده شامله. ارواېي يا روحي صدمه يا دماغي ټکان د پيښې په ژوبلو کې نه دي شامل.

**ايساف:** په افغانستان کې مرستندويه امنيتي سوله ساتي ځواک. ايساف د ملګرو ملتونو د منشور د اوم فصل له مخې د سولې د پلي کولو ماموريت يا دنده لري. ايساف د ملګرو ملتونو د امنيت شورا په امر او صلاحيت ځاي په ځاي کيږي. د ۲۰۰۳ کال په اګست کې د افغانستان د حکومت او ملګرو ملتونو په غوښتنه د ناټو سازمان د ايساف مشرتابه په غاړه واخيست. د ۲۰۰۸ د نومبر څخه د ايساف قوماندان په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو قوماندان هم دی ، که څه هم د مراتبو سلسله بېله پاتې شوې. د امنيت شورا ۲۱۲۰ (۲۰۱۳) شميره پريکړه ليک د ايساف په اړه مخکنې پريکړه ليکونه تاييدوي او د ۲۰۱۴ د ډسمبر

تر ۳۱ نېټې پورې د نورو ۱۴ میاشتو لپاره د ایساف ماموریت غځوي. د ۲۰۱۵ کال د جنوری له ۱ نیټې راهیسې، د غوڅ ملاتړ ماموریت د ایساف ځای ونیو.(د غوڅ ملاتړ ماموریت وګورئ)

**سپکې وسلې:** هغه وسلې دي چې د عملې د دوه او یا دریو کسانو لپاره ډیزاین شوي دي، که څه هم ځینې یې کېدلای شي چې د یوه تن له خوا ګرځول کیږی او کاریږي. په هغو کې د نورو په شمول درندې ماشین ګنې، لاسي ماشین دارې او د بمونو لانچرې، سپکې لیږدېدونکې د الوتکو ضد ټوپکې، سپکې د ټانک ضد ټوپکې، بې پس لګده توپونه، سپکې لېږدېدونکې د ټانک ضد میزایلونه او د راکټ سیستمونه، د الوتکو ضد د میزایلونو سیستمونه، او هغه هاوانونه چې د میلې قطر یې د ۱۰۰ ملي مترو څخه کم وي، شاملي دي[۲۶۵].

**محرم:** د ښځې میړه، یا د هغې نږدې نارینه خپل(د بیلګې په توګه، پلار، ورور، ترونه او ماما ګان او د هغې وریرونه او خوریيونه) د چا سره چې د شریعت د قانون له مخې واده منع دی.

**MoI:** د کورنیو چارو وزارت

**ناټو:** د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان. د ناټو سازمان غړي هیوادونه د ایساف اساسي مرستندویه هیوادونه دي. د غوڅ ملاتړ ماموریت او ایساف وګورئ.

**NDS:** د ملي امنیت ریاست یا د افغانستان دولتي استخباراتي خدمات

**NGO:** نادولتي سازمان

**دولت پلوه وسله والې ډلې:** د دولت پلوه وسله والو ډلو" اصطلاح یوه نا دولتي تنظیم شوی فعال ته چې په شخړه کې ښکیل وي او د دولتي ځواکونو ،یاغیانو او جنایي ډلو څخه توپیر ولري راجع کیږي. دولت پلوه وسله والې ډلې د افغان سیمه ییز پولس په کتار کې نه شامیلږي، ځکه سیمه ییز پولیس د کورنیو چارو د وزارت د پوره کنترول او قوماندې لاندې راځي. دغه وسله والې ډلې د افغانستان د قانون لاندې کوم حقوقي بنسټ نه لري. وسله والې ډلې دا ظرفیت لري چې د ځواک په کارولو سره وسلې وکاروي تر څو سیاسي، ایدلوژیکي او اقتصادي موخې تر لاسه کړي، دا ډلې د هیوادونو، دولتی ایتلافونه او بین الحکومتي ادارو د رسمي پوځې جوړښتونو په دننه کې ځای نه لري او د هیواد(هیوادونو) تر کنترول لاندې نه دي په کومو کې چې دوي فعالیت کوي. په ځینو مواردو کې، وسله والې ډلې د کوربه هیواد یا نورو هیوادونو څخه مستقیمې او غیر مستقیمې مرستې تر لاسه کوي. په دې تعریف کې دا شامل دی، خو تر لاندې ډلو پورې محدود نه دي: د ملي پاڅون حرکتونه[۲۶۶]،محلي ملیشا(نژادي، قومي یا په پل عبارت) او ملکي دفاعي ځواکونه او نیمه نظامي ډلې(داسې ډلې چې په ښکاره د دولت تر کنترول لاندې نه دي).

**دولت پلوه ځواکونه:** افغان دولتي ځواکونه او ټول هغه ځواکونه او ډلې دي چې په نظامي او نیمه نظامي عملیاتو یا د بغاوت ضد عملیاتو کې برخه اخلي او په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د افغانستان د دولت تر قوماندې او ادارې لاندې دي. په دې ځواکونو کې افغان ملي اردو، افغان ملي پولیس، افغان سرحدي پولیس، افغان سیمه ییز پولیس د ملي امنیت په شمول نور

[۲۶۵] پخپل وخت او اعتباري توګه د ناقانونه کوچنیو او سپکو وسلو د تشخیص او څرک معلومولو لپاره د دولتونو د ځواکمنولو لپاره نړیواله مقرره ، د ۲۰۰۵ کال د ډسمبر په ۸ نېټه د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې له خوا تصویب شوې ، http://www.un.org/events/smallarams2006/pdf/international__instrument.pdf.

[۲۶۶] په شخړه کې د ملي پاڅون د غورځنګ د غړو د نښتو په اړه تفصیلاتو او تعریفونو ته په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۴ رپورټونه وګورئ.

دولت پلوه سیمه ییز دفاعي ځواکونه هم شامل دي. افغان ملي امنیتي ځواکونه عبارت دي له : ملي اردو ، چې دفاع وزارت ته راپور ورکوي او په رسمي ډول د افغانستان په وسله والو ځواکونو کې شامل شوي دي ؛ او هغه ځواکونه چې د کورنیو چارو د وزارت تر کنترول لاندی دي ، په هغو کې افغان سیمه ییز پولیس شامل دي ، دا ځواک د هغوي د دندو له امله د وسله والو قوتونو یوه غیری رسمي برخه تشکیلوي او په قانوني ډول د ملکي خلکو په څیر خوندیتوب نه لري ؛ او افغان ملي پولیس ، افغان یونیفورم لرونکي پولیس او افغان سرحدي پولیس د قانون پلي کونکي اداري دي چې په رسمي ډول د وسله واله ځواکونو برخه نه دي او د کورنیو چارو وزارت ته مسوول دي. د قانون پلي کونکو ادارو غړي هغه مهال خوندیتوب د لاسه ورکوي چې د وسله واله ځواکونو دنده اجراء کړي او په جګړه کې نیغ په نیغه برخه واخلي. دوي د خپل ځان د دفاع پر وخت د ځواک کارولو له امله د ملکي په حیث خوندیتوب له لاسه نه ورکوي.

همدارنګه د دولت پلوه ځواکونو  په اصطلاح کې نړیوال ځواکونه او نور بهرني استخباراتي او امنیتي ځواکونه هم شامل دي.(نړیوال پوځي ځواکونه وګورئ)

**دولت پلوه ملیشا:** دولت پلوه وسله والې ډلې وګورئ.

**د غوڅ ملاتړ ماموریت:** د ۲۰۱۵ کال د جنوری په ۱ نېټه ، د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) په افغانستان کې خپل ماموریت د ایساف څخه د غوڅ ملاتړ غیر جګړه ییز ماموریت ته واړاوه چې موخه یې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د روزنې ، مرستې او مشورې برابرول دي. د ایساف برعکس ، چا ته چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا  واک  او صلاحیت ورکړل شوی و خو د غوڅ ملاتړ د ماموریت لپاره حقوقي بنسټ د ځواکونو د حیثیت تړون (SOFA) برابر کړی ، کوم چې په کابل کې د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۳۰ نېټه لاسلیک او د افغان پارلمان لخوا د ۲۰۱۴ کال د نومبر په ۲۷ تصویب شو. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۱۸۹(۲۰۱۴) شمیرې پریکړه لیک د افغانستان د اسلامي جمهوریت او ناټو تر منځ د دوه اړخیزه تړون چې موخه یې د غوڅ ملاتړ د ماموریت را منځ ته کول وه ستاینه کړی. د ۲۰۱۵ کال د می د میاشتې را هیسې ، د غوڅ ملاتړ د ماموریت د ځواک ۱۳۱۹۹ تنه سرتیرې د ۴۲ سرتیرو ورکونکو هیوادونو څخه را منځ ته شوي چې دا بیا د روزنې ، مرستې او مشورې د څلورو سیمه ییزو قرارګاوو په شمول ، د غوڅ ملاتړ د ماموریت د مرکزي دفترونو او د روزنې ، مرستې او مشورې په هوایې قرارګاوو کې تنظیم شوي ، دا بیا د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره د یوه مسلکي ، وړ او پایداره هوایې ځواک په جوړولو کې مرسته کوي. د غوڅ ملاتړ د ماموریت قومندان همدارنګه د افغانستان لپاره د امریکایې ځواکونو د قومندان په حیث دنده ترسره کوي خو د قومانډې د مراتبو سلسلې یې بیلې دي.

**کوچنی وسلې:** هغه وسلې دي چې د انفرادي کارونې لپاره ډیزاین شوي دي. په هغو کې اوه ډزې تومانچې یا د ملا وسله ، اوتوماتي تومانچې ، ټوپکې ،کاربینونه ، نیمه اوتومات ماشینګنې ، ګوزاریزې ټوپکې او سپکې ماشینګنې شاملې دي[۲۶۷] .

**SOPs :** معیاري عملیاتي طرزالعملونه.

[۲۶۷] پخپل وخت او اعتباري توګه د ناقانونه کوچنیو او سپکو وسلو د تشخیص او ځرک معلومولو لپاره د دولتونو د ځواکمنولو لپاره نړیواله مقرره ، نا قانونه سپکې وسلې ، د ۲۰۰۵ کال د ډسمبر په ۸ نېټه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا تصویب شوې ، A/CONF, available at: .http://www.un.org/events/smallarams2006/pdf/international_instrument.pdf

**هدفي وژنې:** هغه وژنې دي چې په ارادې ، د مخه سنجول شوي او قصدي ډول د دولت او یا د دولت کارکونکو چې د قانون په چوکاټ کې دنده لري( او یا په وسله واله شخړه کې د منظمې وسله والې ډلې) له خوا د یو په نښه شوي شخص پر ضد وژونکي ځواک وکاروي ، او هغه شخص د مرتکبینو د فزیکي ولکې او نظارت لاندې نه وي[۲۶۸] . د هدفي وژنو په کتګورۍ کې د وژنو ځینې هغه قضیې هم شاملې دي چیرې چې قرباني شخص د وژل کېدو په وخت د کم وخت لپاره د مرتکب په توقیف کې پاتې شوی ، چې دا د هدفي وژنو د تعریف په ضد دی چیرې چې قرباني شخص د مرتکب په فزیکي ولکه کې نه وي .

**UNDSS :** د ملګرو ملتونو د مصوونیت او امنیت څانګه .

**UNAMA :** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی .

**UNHCR :** د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنري.

**USSOF :** د امریکې متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتو ځواکونه .

**UXO :** نا چاودي مهمات.

**جنګي جرمونه:** جنګي جرمونه د بشر پالنې د نړیوال قانون د میثاق او عرفي قانون څخه جدی سرغړونې دي . د جرمونو د نړیوالې محکمې د منشور ( یا د روم اساسنامه ) له مخې جنګي جرایم[۲۶۹] عبارت دي د ژنیو د کنوانسیون ددریېم مشترک بند څخه جدي سرغړونه ، د شخص او د هغه د ژوند حق څخه سرغړونه ، او په ځانګړې ډول د وژلو ټول ډولونه ، د معیوبولو ، بې رحمانه سلوک او شکنجه ، د شخص په وقار حرمت تجاوز ،په ځانګړې ډول تحقیر او ټیټ ګڼلو سلوک ، یرغمل کول او د قانوني محکمې پرته چې ټول عدلي تضمینونه له ځان سره ولري او په عمومي ډول هغه تضمین چې لاینفک جز او منل شوی وي د داسی محکمې د مخکینۍ پریکړې پرته د سزاګانو صدور او یا د اعدامونو سزاګانو پلي کول د دې جرمونو په ډله کې راځي

---

[۲۶۸] که څه هم چې په زیاترو حالاتو کې چې هدفي وژنې د ژوند د حق څخه سرغړونه کوي ،د وسله والې شخړې په استثنایی حالتونو کې ، کیدای شي حقوقي بنه ولري خو په دې شرط چې د نړیوال بشر دوستانه قانون د اړوندو مقرراتو او بشری حقونو درناوي شوي وي. د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې ، د بشري حقونو د شورا ۱۴مه ناسته ، د اجنډاء دریېمه ماده ،د غیر قانوني یا په خپل سر او نا قانونه اعدامونو په هکله د ځانګړي راپور ورکونکی راپور ته مراجعه وکړئ ، Philip Alston. Addendum, 'Study on Targeted Killings'. A/HRC/14/24/Add.6. 10 May 2010

[۲۶۹] د جرمونو د نړیوالې محکمې منشور ، ۸ ماده ، نړیوال عرفي قانون چې په نړیواله او غیر نړیواله وسله واله شخړه کې د پلي کېدو وړ دی ، د هغه له مخې د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه جدي سرغړونې جنګي جرایم شمیرل کیږي. د هیوادونو اجراات د نړیوال عرفی قانون نورمونه تشکیلوي. ۱۵۶ مه قاعده د جنګي جرایمو تعریف. آی سی آر سی ، نړیوال عرفی بشر دوستانه قانون ، ۱جلد ، جین ماری هینکرتز او لویز ډوزوالډ- بیک ، .{ICRC Study} (CU P/ICRC, Cambridge 2005)دغه مرجع وګورئ(2)Additional Protocol II, article 13 : ، دغه مرجع هم وګورئ: د نړیوالو جرمونو د محکمې د روم اساسنامه/ منشور ، Article 8 (2) (c) (i) of the Elements of Crime, Rome Statute of the International Criminal Court. جنګي جرمونه عبارت دي له ؛ په غیرې نړیواله وسله واله شخړه کې پلي کیدونکو جنګي قوانینو او د عرفونو څخه سرغړونې ته ویل کیږي چې لومړی مبنی یې د ژنیو د ۱۹۴۹ کال څلورو کنوانسیونونو دریېم عمومي بند ،او ورسره د ۱۹۷۷ ضم دوېیم پروتوکول ، د ۱۹۹۹ الحاقي پروتوکول ، د ۱۹۵۴ هاګ کنوانسون چې په وسله واله جګړه کې د کلتوري میراث د خوندي ساتنې په اړه دی ، د ۱۹۸۹ د ماشوم د حقونو کنوانسیون ، د ۱۹۹۴ د ملګرو ملتونو او نښلول شوی پرسونل د مصؤنیت کنوانسیون ، د نړیوالې محکمې د روانډا او پخوانۍ یوګوسلاویا لپاره منشور ، او د سریلیون لپاره د ځانګړې محکمې منشور). د جرمونو د نړیوالې محکمې د روم منشور/ اساسنامې لاندې جنګي جرائم وګورئ ، او د هغې منابع د بشر پالنې د نړیوال قانون موازنه ، ای سی ار سی د نړیوال بشر دوستانه قانون لپاره مشاورتی خدمتونه.

## لومړی ضمیمه: د طالبانو له خوا ادعا شوي بریدونه: د هدف د نمونې پر اساس تجزیه

| | |
|---|---|
| **د افغان امنیتي ځواکونو ،نړیوالو نظامي ځواکونو او دولت پلوه ډلو په وړاندې ترسره شوي بریدونه** | |
| افغان ملي پولیس | ۶۴ |
| افغان سیمه ییز | ۲۶ |
| افغان ملي امنیتي | ۱۰ |
| د ملي امنیت ریاست | ۹ |
| افغان ملي اردو | ۸ |
| نړیوال پوځي ځواکونه | ۵ |
| افغان سرحدي پولیس | ۶ |
| اربکي /دولت پلوه وسله والې ډلې | ۴ |
| **د پوځ په وړاندې تولټال بریدونه د کومو په پایله کې چې ملکي تلفات را منځ ته شوي او په ویب پاڼه او تویټر تولنیزه شبکه باندې د طالبانو ادعاوې** | **۱۳۲** |
| **د ملکي کسانو او ملکي هدفونو په وړاندې ترسره شوي بریدونه** | |
| نورې ملکي موخې | ۴۰ |
| ملکي حکومتي اداره | ۳۶ |
| قاضیان ،څارنوالان او قضایی کارکونکي | ۱۸ |
| قراردادیان /کارګران | ۳ |
| قومي مشران | ۶ |
| ځایونه او عبادت کونکي | ۱ |
| APRP - د افغانستان د سولې او بیا یوځای کېدنې پروګرام | ۱ |
| معارف | ۱ |
| ملګري ملتونه | ۱ |
| **د طالبانو له خوا ادعاء شوي تولټال بریدونه چې  ملکي کسان یا ملکي ځایونه پکې هدف ګرځول شوي وو  او د ملکي کسانو د تلفاتو لامل شوي** | **۱۰۷** |

---

| | |
|---|---|
| **د طالبانو له خوا تولټال ادعاء شوي بریدونه په کومو کې چې ملکي تلفات را منځ ته شوي** | **۲۳۹** |

## دوییمه ضمیمه: د طالبانو لخوا د "جنګي جرمونو" اتهام ادعاوې او د دغه اتهامونو د تصدیق او منسوبولو فهرست

| تولتال | د یوناما مستند کول | پایلې | منسوبونه |
|---|---|---|---|
| ۱۰۹ | د طالبانو د بیانونو د نشر کېدو څخه وړاندې د یوناما له خوا ۶۳ قضیې مستندې شوې. | په ۱۷ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمېرې موجودې وې<br>د وژل شوی او ټپي شویو کسانو تر منځ د مختلف تناسب په درلودلو سره، په ۲ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمېرې موجودې وې. | ۱۲ دولت پلوه ځواکونه<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۳<br>دولت ضد عناصرو ته ۳<br>د یوې پېښې حیثیت معلومیدای نشي |
| | | په ۱۶ قضیو کې د ملکي تلفاتو ټیټې شمېرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۸<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۴<br>دولت ضد عناصرو ته ۳<br>د یوې پېښې حیثیت معلومیدای نشي. |
| | | په ۱۴ قضیو کې د ملکي تلفاتو شمېرې لوړې وې. | ۱۰دولت پلوه ځواکونو ته<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۳<br>دولت ضد عناصرو ته ۱<br>د یوې پېښې معلومول نه شي کېدای |
| | | ۲ قضیو د شخړې سره تړاو نه درلود | |
| | | د ۱۲ قضیو تلفات ملکیان نه و. | |
| | د طالبانو د بیانونو د نشر کېدو څخه وروسته د یوناما له خوا ۲۴ قضیې مستندې شوې. | په ۱۰ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمېرې موجودې وې.<br>د وژل شویو او ټپي شویو کسانو تر منځ د مختلف تناسب په درلودلو سره په ۲ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمېرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۶<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۳<br>دولت ضد عناصرو ته ۲<br>د یوې پېښې حیثیت معلومیدای نشي |
| | | په ۳ قضیو کې د ملکي تلفاتو کمې شمېرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۲<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۱ |
| | | په ۱ قضیو کې د ملکي تلفاتو لوړې شمېرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۱ |
| | | ۲ قضیو د شخړې سره تړاو نه درلود. | |
| | | د ۶ پېښو تلفات ملکیان نه و او یا یې هیڅ تلفات نه درلودل. | |
| | د یوناما له خوا د ۲۲ قضیو تصدیق نه شي کېدای | | |